د افغانستان اسلامي امارت

د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداره

امارت اسلامي افغانستان

اداره تعليمات تخنيکي و مسلکي

# د متخصص او ماهر کاري ځواک د پېروالي او پیاوړتیا لپاره د تخنيکي او مسلکي زده کړو ادارې ستراتيژيک پلان



۱۴۴۵ – ۱۴۵۰ هـ ق

۱۴۰۳ – ۱۴۰۷ هـ ش

جمادی الثانی ۱۴۴۵ هـ ق

مرغومی ۱۴۰۲ هـ ش

بسم الله الرحمن الرحیم

# د متخصص او ماهر کاري ځواک د ډېروالي او پیاوړتیا لپاره

# د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې ستراتیژیک پلان

## ١٤٤٥ – ١٤٥٠ هـق | ۱۴۰۳ – ۱۴۰۷ هــ ش | 2029 – 2024

دا سند، د افغانستان د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې پورې اړه لري او د دې ادارې له اجازې پرته څوک یې د بیا چاپ حق نه لري.

دغه راز په دې سند کې د نورو ادارو له خوا د ورکړل شویو شمېرو او مالوماتو سموالی د اړوندو ادارو مسوولیت دی د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره په دې برخه کې مسؤولیت نه لري.

خپرونکی: د افغانستان د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره

ترتیب، جوړونه او ډیزاین: د پلان او ستراتیژیکي همغږۍ ریاست

چاپ کوونکی: د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې مرکزي مطبعه

د چاپ نېټه: د کب لومړی ۱۴۰۲ ه.ش – شعبان ۱۴۴۵ ه.ق

شمېر: ۲۰۰۰ ټوکه

@TVETAfghanistan @AfghanistanTvet @AfghanistanTvet dpsc@tveta.gov.af www.tveta.gov.af

افغانستان، کابل، ناحیه سوم، کارته چهار، پهلوی وزارت تحصیلات عالی Next to the Ministry of Higher Education, Karte 4, Kabul, Afghanistan

## د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د عمومي رئیس پیغام

نحمده و نصلي على رسوله الكريم أما بعد فأعوذ بالله من الشيطان الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم، إِنَّ اللَّهَ لاَ يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُواْ مَا بِأَنْفُسِهِمْ. (د رعد سورت ۱۱ آیت) الله ج د يو قوم حالت تر هغه وخته نه بدلوي، تر څو چې په خپله يې بدل نه کړي.

په نظامي ډګر کې د افغانستان اسلامي امارت د سپېڅلي جهاد له بریا څخه وروسته، افغانستان د بیارغونې پیل او پراختیا په حال کې د یوه هېواد په توګه د تاریخ له خورا نازک پړاو څخه تېرېږي، چې د (۱.۱.۱) او ملت لپاره برخلیک ټاکونکی ګڼل کېږي، دغه مهم پړاو د اسلامي امارت په ټولو برخو کې ډېرو هڅو، کوښښونو او همغږۍ ته اړتیا لري، په دې وروستیو بدلونونو کې زموږ ګڼ شمېر تخنیکي او اداري کادرونه، چې هر یو یې زموږ ملي شتمني وه، له بده مرغه نورو هېوادونو ته کډه شوي دي؛ نو له همدې کبله په اوسنیو شرایطو کې ډېره اړتیا لیدل کېږي، تر څو د تخنیکي او مسلکي کادرونو د روزنې په برخه کې ځانګړې پاملرنه وشي. د چارو پر مخ وړلو له بنسټي رکنونو څخه، چې د یوه ارګان د بریا لامل کېږي، یو هم د ټولیز(جامع) او اوږد مهاله پلان شتون دی، چې په هغوکې د اداري او پراختیایي چارو ټولې اړتیاوې په پام کې نیول شوي وي.

نو له همدې امله، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري په استازیتوب خوښ او خوشال یم، چې د دې اداري ستراتیژیک پلان د راتلونکو پنځو (۱۴۰۳ ـ ۱۴۰۷) کلونو لپاره د شرایطو سره سم ترتیب شوی دی، یاد ستراتیژیک پلان د دې اداري د پراختیایي کار کوونکو د نه ستړې کېدونکو هلوځلو پایله ده، چې تر راتلونکو پنځو کلونو پورې به د دې اداري د کار لار او لوری په ډاګه کړي. په یاد پلان کې څلور ستراتیژیکې موخې په نښه او ټاکل شوې دي، چې عبارت دي له: تخنیکي او مسلکي زده کړو ته د ټولو لاسرسی، له کار بازار او شرایطو سره سم د زده کړو د څرنګوالي(کیفیت) لوړول، د اړیکو او دایمي زده کړو پراختیا او پیاوړتیا او د اداري جوړښتي او مدیریتي پراختیا، چې ټولې کول به یې د پام وړ پایلې ولري.

په پای کې اړینه ګڼم، چې د پلان او ستراتیژیکې همغږۍ ریاست له ټولو تخنیکي کار کوونکو په خاصه له عبدالله محمدی ، اظهارالحق همیم او شفیع الله شینواری څخه، چې د دې ستراتیژۍ په ترتیبولو او بیا کتنه کې یې هلې ځلې کړې دي؛ مننه او درناوی وکړم. د اداري ټاکل شویو موخو ته پر وخت او کره ډول رسېدو لپاره، د دې ستراتیژۍ په ښه او معیاري توګه د پلي کولو غوښتونکی‌یم.

**په درنښت**

**مولوي غلام حیدر «شهامت»**

**د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري سر پرست**

## د پیل خبرې

نحمده و نصلي علی رسوله الکریم أما بعد فأعوذ بالله من الشیطان الرجیم. بسم الله الرحمن الرحیم. وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلشَّمْسَ وَٱلْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ وَسَخَّرَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَار. (ابراهیم سورت ۳۳آیت) قرآن کریم او نبوي احادیثو له بېلابېلو اړخونو د وخت پر ارزښت او اهمیت څرګندونې کړې دي، په دې آیت شریف کې په ښکاره ډول راغلي، چې لمر او سپوږمۍ یې زموږ لپاره اېل(تابع) ګرځولي دي، تر څو خپلو پلانونو او پروګرامونو ته دوام ورکړو، همدارنګه شپه یې د هوساینې او ورځ یې د هلوځلو او کار لپاره پیدا کړې ده. په همدې توګه الله تعالی په ګڼ شمېر ایتونو، لکه: د (عصر، فجر او ضحی) سورتونو په لومړیو آیتونو کې په وخت او زمانې سره قسم یاد کړی دی، الله (ج) د خپل الهي کلام په ډېرو ځایونو کې وخت او د هغې ارزښت بیان کړی دی، چې باید په بې ګټې او بې ځایه کارونو سره ضایع نه شي، له وخت څخه په هغه صورت کې سمه ګټه اخیستلای شو، چې منظم پلانونه او پروګرامونه ولرو.

نو له همدې کبله د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې د تخنیکي او مسلکي کادرونو د یوې روزونکې ادارې په توګه، نه شي کولای، چې پرته له تدوین شویو او کره پلانونو څخه کار وکړي او له وخت څخه په لوړه اندازه ګټه پورته کړي. دې ادارې د هېواد په (۳۴) ولایتونو کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د چوپړتیاوو وړاندې کولو لپاره زمینه چمتو کړې ده، چې هر کال ګڼ شمېر تخنیکي او مسلکي کادرونه روزي او ټولنې ته یې وړاندې کوي. اوس مهال په ټول هېواد کې (۱۹۸) بابه انسټېټیوټونه او (۱۶۲) بابه لېسې فعالیت لري، چې په (۶۵) پنځه شپېتو تخنیکي او مسلکي ځانګو کې د تدریس او روزنې چارې تر سره کوي، همدارنګه د یادونې وړ ده، چې د (۱۴) ولایتونو په (۱۶) ښوونیزو مرکزونو کې د معلولو زده کوونکو لپاره د ځانګړو زده کړو زمینه چمتو شوې ده، د دې لپاره چې په ټول هېواد کې تخنیکي او مسلکي زده کړې په ښه او منظم ډول وړاندې او د وړاندوینې سره سم په سیستماټیکه توګه پلې شي؛ نو پریکړه و شوه، تر څو په (۱۳۹۸هـ ل) کال کې د دې ادارې د ستراتیژیک پلان د ترتیبولو لپاره کوټلي ګامونه واخیستل شي، چې له نېکه مرغه یاد پلان د دې ادارې په هلو ځلو جوړ شو؛ خو د ځینو ستونزو له امله د عمل په ګاڼه سمبال نه شو، چې دا دی اوس د ادارې ستراتیژیک پلان اقتصادي شرایطو او اوسني وضعیت ته په کتو سره بیا و کتل شو، چې ان شاءالله د پلي کولو پړاو به یې هم تر سره شي، او د پلي کېدو له پړاو وروسته به د پام وړ پایلو ته ورسېږو.

پر ځای خبره به وي، چې د ستراتیژۍ له جوړونکې کمېټې څخه، چې د ستراتیژۍ د جوړونې لپاره یې له دې وړاندې هلې ځلې کړې وې، مننه وکړم، همدارنګه د دې ریاست تخنیکي همکارانو ته کور ودانی ووایم، چې شپه او ورځ یې هڅه وکړه؛ تر څو دغه پلان د اوسني وضعیت او شرایطو له اړونده غوښتنو سره بیا وکتل او وروستی شي. په پای کې ټولو هغو کارکوونکو ته کور ودانی وایم، چې د دې پلان په جوړونه کې یې مرسته کړې ده.

**په درنښت**

**مولوي نیک محمد « نیکمل »**

**د پلان او ستراتیژیکې همغږۍ رئیس**

## د ستراتیژیک پلان لنډیز

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره د یوه خپلواک ارګان په توګه، د تخنیکي او مسلکي زده کړو مدیریت او لارښوونه ترسره کوي، چې یاد ستراتیژیک پلان د اداري د غوره مدیریت او د تخنیکي او مسلکي کسانو د روزنې، د اداري د ځو کلنې غوره لارې(مسیر) ټاکنې، د فعالیتونو پلي کولو او نظم په موخه جوړ او ترتیب شوی دی، چې د لید لوري، ماموریت او موخو لرونکی دی. هره موخه یې په راتلونکو پنځو کلونو کې بېلا بېل مقصدونه لري. دغه ستراتیژي په څلورو لویو څپرکو کې ترتیب شوې، په لومړي څپرکي کې یې کلیات، چې لویې موضوع ګانې (سریزه، اصطلاحات، د اداري لویې دندې، د اداري اوسنی وضعیت، د ستراتیژۍ د جوړونې لار، د چاپېریالي لاملونو د جوړونې او شننې اړتیا) په کې شامل دي. په دې څپرکي کې ډېری د لویو موضوع ګانو د پېژندلو، پیاوړو اوکمزورتیا ټکو، فرصتونو او ګواښونو په اړه په علمي او عملي بڼه بحث شوی دی. په دویم څپرکي کې په راتلونکو پنځو کالونو کې د ستراتیژۍ موخې، مقصدونه او لویې کړنې شاملې دي. د دې ستراتیژۍ په درېیم څپرکي کې د ستراتیژۍ د پلي کولو په څرنګوالي (کیفیت) باندې، چې د کړنو (فعالیتونو لومړیتوب، د ستراتیژیک پلان د پلي کولو میکانیزم او د پلي کولو ځای) په کې شامل دي، بحث شوی دی. په څلورم څپرکي کې د پلي کولو په څارنې او ارزونې باندې بحث شوی دی، چې د څارنې او ارزونې د لویو نښو ټاکل او د څارنې اډانه په کې شامل دي.

## لیدلوری

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره د یوې نوښتګرې، پنځوونکې او پیاوړې اداري په توګه هوډ لري، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اعتبار لرونکی، اقتصادي، ثابت، همغږی او دوام لرونکی ښوونیز نظام د اسلام د دین په رڼا کې مدیریت او پراختیا ورکړي.

## ماموریت

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره په راتلونکو پنځو کلونو کې، د تخنیکي او مسلکي زده کړو د سیستم په جوړولو او اداره کولو سره د مسلکي استادانو له خوا د لوړ کیفیت لرونکي ښوونیزو پروګرامونو د برابرولو او د مناسبو بنسټونو (زیربناوو) او وسایلو په کارولو سره، د کار بازار له اړتیاوو سره سم او د ملي او نړیوالو معیارونو پر بنسټ مسلکي او ماهر کاري ځواک روزي.

## ارزښتونه

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري ته په ستراتیژیک پلان کې لاندې ارزښتونه په پام کې نیول شوي دي:

۱) اسلامي او ملي ارزښتونه
۲) حساب ورکوَنه
۳) پنځونه او کاري فرصتونه رامنځته کوَنه
۴) تخصص
۵) څرنګوالی
۶) روڼتیا
۷) همکاري او همغږي.

## د متخصص او ماهر کاري ځواک د ډېروالي او پیاوړتیا په موخه د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري ستراتیژیک پلان

### لیدلوری

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره د یوې نوښتګرې، پرمخوونکې او پیاوړې اداري په توګه هوډ لري، چې تخنیکي او مسلکي زده کړو اعتبار لرونکی، اقتصادي، ثابت، همغږی او دوام لرونکی ښوونیز نظام د اسلامي دین په رڼا کې مدیریت او پراختیا ورکړي.

### ارزښتونه

۱ـ اسلامي او ملي ارزښتونه.
۲ـ حساب ورکوَنه
۳ـ پنځونه او کاري فرصتونه رامنځته کوَنه.
۴ـ تخصص.
۵ـ کیفیت.
۶ـ روڼتیا.
۷ـ همکاري او همغږي.

### ماموریت

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره په راتلونکو پنځو کلونو کې، د تخنیکي او مسلکي زده کړو د سیستم په جوړولو او اداره کولو سره د مسلکي استادانو له خوا د لوړ کیفیت لرونکي ښوونیزو پروګرامونو د برابرولو او د مناسبو بنسټونو (زیربناوو) او وسایلو په کارولو سره، د کار بازار له اړتیاوو سره سم او د ملي او نړیوالو معیارونو پر بنسټ مسلکي او ماهر کاري ځواک روزي.

## پنځه کلنې ستراتیژیکې موخې او مقصدونه

### ۱

**تخنیکي او مسلکي زده کړو ته د ټولو د لاسرسي او ګډون ډېروالی**

- د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادري عمومي انځور او اعتبار ښه والی او هغې ته کتنه.
- په ټول هېواد کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د چوپړتیاوو وړاندې کول.
- د بنسټونو(زېربناوو) او تجهیزاتو پراختیا او معیاري کول.

### ۲

**د شرایطو او کار بازار د اړتیاوو سره سم د تخنیکي او مسلکي زده کړو د څرنګوالي لوړول**

- د کسب او کار څانګو او د کار بازار له اړتیاوو سره د متناسبو څانګو پېژندنه.
- (په مناسب وختونو او څانګو کې) د مناسبو موخو ډلو تر پوښښ لاندې نیول او د اغېزمنو او وړ زده کوونکو ټاکل.
- د اعتبار ورکولو پروګرام له لارې څرنګوالي لوړول.
- د ماډیولار ښوونیز نظام او کرېډېټ سیسټم په لار اچول او پلي کول
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو د مجازي یا برښنایي برنامو وړاندکول او پراختیا.
- د استادانو د پوهنیزو او عملي وړتیاوو لوړول.
- د ولسوالی او ولایت په کچه د زده کوونکو او کار بازار اړتیاوو ته رسېدنه

### ۳

**تل پاتې(مادام العمر)زده کړو او د اړیکو پیاوړتیا او پراختیا**

- د تخنیکي او مسلکي زده کړو او کار بازار تر منځ د اړیک ییزو شبکو رامنځته کول او پراختیا
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو د پر مخ وړلو او عملي کولو په برخه کې د وزارتونو تر منځ د همغږۍ او مشورې ورکولو مېکانېزم پیاوړتیا.
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو لپاره د لوړو زده کړو د زمینې رامنځته کول او پراختیا

### ۴

**د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري جوړښتي پراختیا او مدیریت**

- د استراتیژۍ لومړیتوب ته په کتو د بنسټي جوړښت بیا کتنه او نوي کول.
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو د تقنیني اډانې او پالیسۍ جوړونه او پراختیا.
- د ځواب ویلو او روڼتیا میکانیزم ترتیب او جوړونه.

## لړلیک


**د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د عمومي رئیس پیغام ....... أ**
**د پیل خبرې ....... ب**
**د ستراتیژیک پلان لنډیز ....... ج**
**لیدلوری ....... ج**
**ماموریت ....... ج**
**ارزښتونه ....... ج**


### لومړی څپرکی
### د وضعیت شننه او کلیات


**سریزه ....... ۲**
**۱) د ستراتیژیک پلان د بیا کتنې اړتیا ....... ۳**
**۲. د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري لوېې دندې او مسؤلیتونه ....... ۳**
**۳. د هېواد موقعیت او شرایط ....... ۳**
۳.۱. سیاسي شرایط ....... ٤
۳.۲. ټولنیز شرایط ....... ٤
۳.۳. اقتصادي شرایط ....... ٥
*الف) کرنه، صنعت او چوپړتیاوې ....... ۶*
*ب) د عایداتي او صادراتي سرچینو په توګه د کانونو را ایستل ....... ۶*
*ج) د سیمې په کچه د همکاریو پروژې ....... ۷*
*د) د کورنیو بازارونو، ارتباطي او مالوماتي ټکنالوژی ملي خوندیتوب (تأمین) ....... ۷*
**۴. په افغانستان کې دګمارنې او بوختېدنې نظام ....... ۸**
۴.۱. د بوختېدنې جوړښت ....... ۸
۴.۲. د بوختېدنې حالتونه ....... ۱۰
۴.۳. د بوختېدنې بهیر ....... ۱۱
۴.۴. حرفي او د مهارت کچې ....... ۱۱
۴.۵. د کار نرخ ....... ۱۲
**۵. د تخنیکي او مسلکي زده کړو تجزیه او شننه ....... ۱۳**
۵.۱. د تخنیکي او مسلکي زده کړو ډولونه ....... ۱۳
*۵.۱.۱. رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړې ....... ۱٤*
*۵.۱.۲. نیمه رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړې ....... ۱٤*
*۵.۱.۳. نا رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړې (Informal TVET) ....... ۱٥*
۵.۲. کاري واکونه او د پولو ټاکل ....... ۱۶
**۶. اړیکې او همغږي ....... ۱۸**
**۷. تخنیکي او مسلکي لوړې زده کړې ....... ۱۹**
**۸. د تخنیکي او مسلکي زده کړو مدیریت ....... ۲۰**
۸.۱. د چوپړتیاوو وړاندې کول ....... ۲۰
۸.۲. د واکونو ورکړه او سپارل ....... ۲۰
۸.۳. پلان او پالیسي جوړول، څارنه او ارزول ....... ۲۱
**۹. په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې ګډون او د (ژوند له شرایطو سره) د هغو اړیکې ....... ۲۲**

**۱۰. د موخې ډلې ........................................ ۲۳**

**۱۱. په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د کيفيت توکي ........................................ ۲۶**

۱۱.۱.ښوونکي او د تدريس څرنګوالی (کيفيت) ........................................ ۲۶
۱۱.۲.ښوونيزې ځانګې ........................................ ۲۷
۱۱.۳.امکانات او اسانتياوې ........................................ ۲۸
*۱۱.۳.۱. د تخنيکي او مسلکي زده کړو د ښوونځيو ځايونه (موقعيتونه) ........................................ ۲۸*

**۱۲. د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري چاپېريالي شننه ........................................ ۲۹**

۱۲.۱.د کورني (داخلي) چاپېريال عوامل ........................................ ۲۹
۱۲.۲.د بهرني چاپېريال عوامل ........................................ ۳۰
۱۲.۳.د اداري د کورني(داخلي) چاپېريال شننه ........................................ ۳۱
۱۲.۴.د اداري د بهرني چاپېريال شننه ........................................ ۳۴
۱۲.۵.د چاپېريالي (کورنيو او بهرنيو) لاملونو او عواملو شننه ........................................ ۳۵
*۱۲.۵.۱.د IE (Internal and external) مېتود ........................................ ۳۶*

## دويم څپرکی

### د ستراتيژيک پلان اړانه

**۱. سريزه ........................................ ۴۰**

**ليدلوری ........................................ ۴۰**

**ماموريت ........................................ ۴۰**

**ارزښتونه ........................................ ۴۰**

**۵. موخې ........................................ ۴۱**

**۶. لومړۍ ستراتيژيکه موخه: تخنيکي او مسلکي زده کړو ته د ټولو د لاسرسي او ګډون ډېروالی ........................................ ۴۱**

۶.۱. د ستراتيژۍ څرګندونه ........................................ ۴۱
۶.۲. د ستراتيژۍ تشريح ........................................ ۴۲
۶.۳.موخه، مقصدونه او فعاليتونه ........................................ ۴۴
۶.۴. د تمې وړ پايلې ........................................ ۴۵

**۷.دويمه ستراتيژيکه موخه: د کار بازار شرايطو سره سم د تخنيکي او مسلکي زده کړو د کيفيت کچې لوړول. ...... ۴۸**

۷.۱.د ستراتيژۍ بيانيې او څرګندونې ........................................ ۴۸
۷.۲.د ستراتيژۍ تشريح ........................................ ۴۸
۷.۳.موخه، مقصدونه او فعاليتونه ........................................ ۵۰
۷.۴.د تمې وړ پايلې ........................................ ۵۲
۷.۵.پلان شوې چارې ........................................ ۵۳

**۲. په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د زده کوونکو منلو معيارونو ته بيا کتنه ........................................ ۵۳**

**۳. د تخنيکي او مسلکي زده کړو د ښوونکو زده کړو او ګمارنې، معيارونو ته بيا کتنه ........................................ ۵۴**

**۴. د تخنيکي، مسلکي او حرفوي زده کړو د فراغت اسنادو او د تصديق پاڼو د اعتبار پياوړتيا ........................................ ۵۴**

**۸. درېيمه ستراتيژيکه موخه: دايمي زده کړې ........................................ ۵۶**

۸,۱. د ستراتيژۍ څرګندونه ........................................ ۵۶
۸/۲. د ستراتيژۍ تشريح: ........................................ ۵۶
۸.۳. موخه، مقصدونه او فعاليتونه ........................................ ۵۷
۸.۴. د تمې وړ پايلې ........................................ ۵۸
۸.۵.پلان شوې چارې ........................................ ۵۹

**۹.ځلورمه ستراتیژیکه موخه: د ادارې مدیریت او جوړښتي پراختیا ........................................................ ٦٤**
۹.۱.د ستراتیژۍ بیانیه او څرګندونه ........................................................ ٦٤
۹.۲.د ستراتیژۍ تشریح ........................................................ ٦٤
۹.۳.موخه، مقصدونه او فعالیتونه ........................................................ ٦٥
۹.۴.د تمې وړ پایلې ........................................................ ٦٦
۹-۵.پلان شوې چارې ........................................................ ٦٦
د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې د مدیریت او جوړښت اړانې پیاوړتیا: ........................................................ ٦٦

## درېیم څپرکی

## د ستراتیژۍ د تطبیق  او پلي کولو میکانیزم

**۱. د ستراتیژیک پلان پلي کول ........................................................ ۷۰**
**۲. د پلي کولو مدیریت ........................................................ ۷۰**
**۳. له مرستندویه بنسټونو سره همغږي ........................................................ ۷۲**
۳,۱. همکاري او ګډون ........................................................ ۷۲
۳,۲. د تمویلوونکو (ډونر) ترمنځ د همغږۍ لپاره د رهبرۍ کمېټه ........................................................ ۷۳
۳,۳. د ستراتیژیک پلان د پلي کولو میکانیزم ........................................................ ۷۳
*۳,۳,۱. د بودجې جوړولو بهیر ........................................................ ۷٤*
*۳,۳,۲. د بودجې لګښت ........................................................ ۷٤*
*۳,۳,۳. د سرچینو سمبالونه او برابرونه ........................................................ ۷٤*
۳,۴. له تمویل کوونکو بنسټونو (ډونرانو) سره همغږي ........................................................ ۷٤
*۳,٤,۱. د ستراتیژیک پلان پلي کولو لپاره د اړوندو ادارو ترمنځ د همغږۍ میکانیزم ........................................................ ۷٥*
۳,۵. د راپور ورکولو میکانیزم ........................................................ ۷٥
۳,۶. مشورتي بهیرونه ........................................................ ۷٥
**۴. هغه پالیسي ګانې او پروژې چې لومړیتوب لري ........................................................ ۷٦**
۴,۱. لومړیتوب لرونکې پروژې ........................................................ ۷٦
۴,۲. د پراختیایي بودجې ډېروالی او د ملي او نړېوال ګډون او مشارکت پیاوړتیا ........................................................ ۷٦
**۵. د پلي کولو ساحه او ځای ........................................................ ۷۷**

## څلورم څپرکی

## د ستراتیژیک پلان د پلي کولوڅارنه او ارزونه

**۱. څارنه او ارزونه ........................................................ ۷۹**
**۲. د څارنې اړانه ........................................................ ۷۹**
۲,۱. په (څارنې عالي کمېټې  او تخنیکي کمېټې) باندې د کمېټو ویش ........................................................ ۷۹
*۲,۱,۱. د څارنې عالي کمېټه ........................................................ ۷۹*
*۲,۱,۲. تخنیکي کمېټه ........................................................ ۷۹*
**۳. دوام لرونکې او اغېزمنه څارنه ........................................................ ۸۰**
**اخذلیکونه او سرچینې ........................................................ ۸۱**

# د جدولونو لړليک

جدول ۱: د ځوهېوادونو په پرتله د هېواد د لګښت کچه (سرچينه: نړيوال بانک ۲۰۲۲)........................................................................ ۷
جدول ۲: په بېلا بېلوبرخو کې د ټولو کارکوونکو د سلنې پر بنسټ شخصي او کورنی کسب او کار (سرچينه: د آلمان د همکاريو اداره، جي، آی، زيد)........................................................................................ ۱۰
جدول ۳: د همکارو موسسو له لوري د تخنيکي او مسلکي زده کړو وړاندې کول........................................ ۱۶
جدول ٤: د همغږو رسمي او نيمه رسمي تخنيکي او مسلکي زده کړو لرولو لپاره د موخې ډلې.......................... ۲٤
جدول ٥: ښوونيزو مرکزونو تاسيسات او تجهيزات (د شمېرنې او مالوماتي ټکنالوژۍ آمريت ۱۴۰۱)........................ ۲۹
جدول ٦: د کورني چاپېريال لوی عوامل........................................................................ ۳۰
جدول ۷: د بهرني چاپېريال لوی عوامل........................................................................ ۳۱
جدول ۸: د کورني(داخلي) چاپېريال څېړنه........................................................................ ۳۲
جدول ۹: د بهرني چاپېريال شننه........................................................................ ۳٤
جدول ۱۰: د سوات (SWOT) وروستی شوی جدول ........................................................................ ۳۸
جدول ۱۱: په رسمي تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د موخې ډلو توپير........................................................ ٤۲
جدول ۱۲: موخه، مقصدونه او فعاليتونه........................................................................ ٤٤
جدول ۱۳: فعال صنعتي پارکونه (سرچينه: د صنعت او سوداګرۍ وزارت)........................................................ ٤٦
جدول ۱٤: موخه: مقصدونه او فعاليتونه........................................................................ ۵۰
جدول ۱۵: په بېلا بېلو کچو کې د زده کوونکو د منلو شرايط او معيارونه........................................................ ۵۳
جدول ۱٦: موخه، مقصدونه او فعاليتونه........................................................................ ۵۷
جدول ۱۷: هغه مسئلې چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو شورا ګانو په بېلا، بېلو کچو کې بحث پرې وشي......................... ٦۱
جدول ۱۸: موخه، مقصدونه او فعاليتونه........................................................................ ٦۵
جدول ۱۹: بېلابېلو کچو ته د اصلي دندو او مسؤليتونو ورکولو وړاندوينه........................................................ ۷۱

# د شکلونو او بڼو لړليک

شکل ۱: له (۱ـ ۱۲) ټولګي پورې د زده کوونکو شمېره........................................................................ ۵
شکل ۲:د عمر په ډلو د نفوس وېش (سرچينه: د احصائيې او مالوماتو ملي اداره ۱۴۰۱)........................................ ۸
شکل ۳:د بوختېدنې جوړښت (سرچينه: اقتصاد وزارت) ........................................................................ ۹
شکل ٤: د بوختېدنې حالتونه (سرچينه: د احصايې او مالوماتو ملي اداره ۱۴۰۰)........................................ ۱۰
شکل ۵: کاري ساحې ته په کتو د کارکوونکو ښوونيزه کچه، د کارمندانو د محاسبې(نړيوال بانک، د ملي زيانمننې او خطر ارزونه،۱۳۸٦ او ۱۳۸۷)........................................................................ ۱۲
شکل ٦: له (۱۳۹۷هـ ل) کال څخه تر (۱۴۰۱هــ ل) کال پورې د زده کوونکو، استادانو او ښوونيزو مرکزونو شمېر........................ ۲۲
شکل ۷: په IE ماتريکس کې د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري موقعيت مالومول........................................ ۳٦
شکل ۸: د ولايتي بحث فضا ........................................................................ ٦۰
شکل ۹: په ملي ولايتي او ولسوالۍ کچه د مديريت اړانه........................................................................ ٦۷

# د اډانې لړلیک

اډانه ۱: د ارزښت کړۍ..........٦
اډانه ۲: د مهارتونو کچې (سرچینه: د کار نړیوال بنسټ)..........۱۲
اډانه ۳: د کار زده کړې زده کوونکو ډولونه (سرچینه: د آلمان د همکاریو اداره ۱۳۹۳)..........۱٦
اډانه ٤: د پولو ټاکل او د ونډې لرلو جلاوالی..........۱۸
اډانه ٥: تړاو ته د اړتیا لرلو بېلګه..........۱۹
اډانه ٦: له مالوماتي مدیریت سیستم (TVET MIS) څخه د یونسکو ملاتړ..........۲۱
اډانه ۷: تخنیکي او مسلکي زده کړې، لوړو زده کړو ته د نا مستقیمې لارې په توګه (د کرنې له مسلکي ځانګې څخه بېلګه)..........۲۳
اډانه ۸: موردي نمونه: د کرنې مسلکي ځانګې ښوونیز نصاب پراختیا..........۲٦
اډانه ۹: د ښوونیزو ځانګو اړیکې..........۲۸
اډانه ۱۰: د ښوونیزو مرکزونو سمه ځانګړتیا..........۲۸
اډانه ۱۱: د سرچینو ګډون او همکاري..........۲۹

# لومړی څپرکی

## د وضعیت شننه او کلیات

## سریزه

په تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره کې دغه سند لومړنۍ ستراتیژي او د تخنیکي او مسلکي سکټور لپاره دویمه ترتیب او جوړه شوې ستراتیژي ده. دغه ستراتیژي د اسلامي امارت د ډېرې پاملرنې وړ ګرځېدلې او د اسلامي امارت د ودې په اجنډا [1] کې یې هم دریغ څرګند شوی دی، خو بیا هم په ټولنه کې د وزګارتیا او د ځوانانو د مهارت نه لرلو فشارونه او ستونزې جوتې دي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو د سکټور ښه وده او پراختیا خورا مهم او اړین دي، ترڅو خلکو سره د کاري فرصتونو په ډېروالي او د ښه عاید په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي.

دغه ستراتیژیک سند د تخنیکي او مسلکي زده کړو نوی لیدلوری د پراختیا په لومړیتوبونو سره رابښیي او په راتلونکو کلونو کې د پرمختګ لپاره د ترلاسه کېدو وړ فعالیتونه او موخې په پام کې نیسي.

دا چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو په اړه دا منفي ذهنیت او فکر مثبت اړخ ته بوځو، چې وایي : له علمي نظره د نوموړې اداري د زده کوونکو د لوست او سواد کچه ډېره ټیټه ده؛ نو د تخنیکي او مسلکي زده کړو د اهمیت او د ملي اقتصاد په وده کې د هغې رول په اړه د ولسونو عامه پوهاوی لومړی اړین ګام دی، په ډېری مواردو کې د لوړو زده کړو د لاسته راوړلو او تعقیب لپاره ډېره مینه د والدینو د نا سالمو غوښتنو لامل کېږي او په پایله کې په ښوونځیو کې په زده کوونکو باندې یو ډول فشار راوړي. د سیمې په کچه د تخنیکي او مسلکي زده کړو وروستۍ څېړنې او شننې رابښیي، که تخنیکي او مسلکي رسمي زده کړې په ښه بڼه چمتو شوې وي، په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې له کار بازار څخه د ګوښه شویو ځوانانو د منلو او یو ځای کولو او د هغوی د عایداتو د ښه توب په پام کې نیولو سره، څو ځله له عمومي او لوړو زده کړو څخه ګټورې او اغېز منې دي.[2] په افغانستان کې د سیمې د نورو هېوادونو په څېر د تخنیکي او مسلکي مهارتونو او انساني سرچینو په پراختیا کې لویه تشه لیدل کېږي او د تخنیکي او مسلکي زده کړو د نوې رامنځته شوې اداري لپاره لویه او مهمه ستونزه ګڼل کېږي، د دې زده کړو د ډېر اهمیت او ارزښت په ډاګه کولو سره د خلکو تصور بدلولای شو. دغه د ارزښت ډېروالی د زده کوونکو لپاره د کارموندنې د وړتیا ښه والی، د هېواد لپاره د مهارتونو او وړتیاوو وده او په پایله کې د اقتصادي کچې لوړول دي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو له اهمیت سره یوازې بلدتیا بسنه نه کوي؛ بلکې د پالیسو، مدیریت، رهبرۍ، تخصص او وړتیاوو له مخې ګډو او همغږو هلو ځلو ته اړتیا لري، چې په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې د پانګونې لپاره چمتو او مینوال دي؛ تر څو یو رښتینی او واقعي بدلون موږ ته ډالۍ کړي. په دې سند کې تمه کېږي، تر څو نیوکې، اندونه، په سیمه کې یاد درسونه، ښکیل اړخونه، رهبري او د ستراتیژۍ د رامنځته کېدو لیدلوری یو له بل سره یو ځای او یوه ښه او په زړه پورې پایله تر لاسه شي.

په (۱۳۹۷هـ ل) کال کې د اړوندو برخو له متخصصینو او همکارانو څخه یوه کاري ډله جوړه او د مخکینۍ ستراتیژۍ د مطالعې، کتنې او ارزونې بهیر سرته ورسېده او د نوي ستراتیژیک پلان د چمتووالي او ترتیب لپاره دویم ګام پورته شو؛ خو ستراتیژي وروستۍ نه شوه، په پایله کې د افغانستان د اسلامي امارت د بیا ځلې راتګ او د اداري د نوې رهبرۍ له جوړېدو وروسته، د ستراتیژۍ د جوړېدو او ترتیبولو بهیر له سره پیل شو، دغه ستراتیژي د وضعیت له شننې، د اړوندو ادارو د نظرونو راټولولو، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د ستراتیژۍ پېژندنې او مشورتي ورکشاپ تر سرلیک لاندې د یوه ورځني ورکشاپ په دایرولو، چې د وزارتونو، خپلواکو ادارو، سوداګرۍ او کسبګرو خونو د استازو او د دې اداري تخنیکي کارکوونکو او رئیسانو په کې ګډون درلود، وروستۍ شوې او څلور څېرکي په کې شامل دي، چې په لومړي څېرکي کې د وضعیت شننه او کلیات، په دویم

---

[1] دومین سند چهارچوب ملی صلح و انکشاف افغانستان(ANPDF) ۲۰۲۱– ۲۰۲۵ د مالیې وزارت

[2] OECD،2018

څپرکي کې اصلي ستراتیژي او موخې، درېیم څپرکی د ستراتیژۍ په پلي کولو او څلورم څپرکی د ستراتیژۍ له پلي کولو څخه په څارنې او ارزونې ټینګار او تمرکز لري، چې په هر څپرکي باندې په خپل ځای بشپړ بحث شوی دی.

## ۱) د ستراتیژیک پلان د بیا کتنې اړتیا

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري له خپلواکۍ وروسته، په (۱۳۹۷هـ ل) کال کې د اداري ستراتیژیک پلان د جوړونې لپاره لومړی ګام پورته شو، چې د بهرنیو تمویل کوونکو او د دې اداري د تخنیکي همکارانو په مرسته او همکارۍ د هغې په مسوده باندې کار پیل شو، خو د ځینو لاملونو له کبله بشپړه او وروستی نه شوه، چې په پایله کې د اسلامي امارت په بیا ځلي واکمنېدو سره د دې اداري د مقام رهبرۍ پرېکړه وکړه، چې د اداري ستراتیژیک پلان وروستی او د پلي کېدو وړ وګرځي. د همدې هلوځلو په پایله کې د اداري ستراتیژیک پلان د اوسنیو شرایطو او د ښکیلو اړخونو د نظریاتو په پام کې نیولو سره جوړ او ترتیب شوی دی.

## ۲ـ د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري لویې دندې او مسؤلیتونه

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره په لنډه توګه لاندې دندې او مسؤلیتونه لري:

۱. د تخنیکي او مسلکي زده کړو د پالیسو او ستراتیژیو جوړول.
۲. د هېواد په کچه د تخنیکي او مسلکي زده کړو د نظام مدیریت کول.
۳. په ښوونیزو مرکزونو کې د کمي او کیفي پرمختګ او علمي پلټنو لپاره زمینه چمتو کول.
۴. د متوازنې پراختیا او عادلانه ګډون پربنسټ د ښوونیزو مرکزونو جوړونه، پراختیا، ادغام او لغوه کول.
۵. د تخنیکي او مسلکي زده کړو د خصوصي موسسو د فعالیت جوازونو صادرول او د هغو تمدیدول، نوي جوړول، ځنډول او لغوه کول.
۶. د درسي، مرستندویه درسي او ښوونکو لارښوود کتابونو لیکل او ژباړل.
۷. د علمي او بشري سرچینو د اړتیاوو او د ښوونیزو مرکزونو د فعالیت زمینې چمتو کولو په اړه د مالوماتو او ارقامود راټولولو په موخه د وزارتونو، امارتي او خصوصي ادارو او نړۍ والو موسسو د همکاریو راجلبول.
۸. له اړوندو تقنیني سندونو سره سم د ښوونیزو مرکزونو د زده کوونکو لپاره د لیلیو جوړول.
۹. د ښوونیزو مرکزونو په ځان بسیاینې لپاره د مناسبو شرایطو او زمینې چمتو کول.
۱۰. په بېلابېلو دورو کې د کار بازار د اړتیاوو سره سم د کیفیت لرونکو تخنیکي او مسلکي زده کړو وړاندې کول.
۱۱. د تخنیکي او مسلکي زده کړو د نوښت، او اغېزمن مدیریت زمینې چمتو کول.
۱۲. د ښوونیزو مرکزونو د استادانو، ښوونکو او زده کړیالانو د وړتیاوو د مالومولو په موخه د اړینو تدابیرو نیول.
۱۳. زده کړیالانو ته د فراغت سندونه ورکول.
۱۴. د اداري د کارکوونکو او زده کړیالانو د اسلام پالنې، هېواد پالنې، ټولنیزې، ملي یووالي، فردي مسؤلیت او قانون مننې روحیې پیاوړي کول.
۱۵. د اسلام سپېځلي دین د احکامو په رڼا کې د اداري د اړوندو کړنلارو، لایحو او مقررو جوړول او د هغې د پلي کولو څارنه او ارزونه.

## ۳ـ د هېواد موقعیت او شرایط

په داسې شرایطو کې چې ټولنیز او اقتصادي چاپېریال په کې په خورا چټکۍ سره د بدلېدو په حال کې دی، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره باید په ټولنه او اقتصاد کې د نظري زده کړو، عملي مهارتونو او فردي وړتیاوو اړتیا مالومه او په زده

کړیالانو او کار زده کوونکو کې د تولنیز مسؤلیت منلو احساس پیدا کړي، دغه مسئله په ځانګړې توګه د افغاني ټولنې لپاره، چې ډېرې زیانونه او ناخوالې یې لیدلې دي او په ځینو برخو کې یې تر دې دمه تجربه کوي، ډېر ارزښت لري. د تخنیکي او مسلکي زده کړو نظام باید د هېواد د وګړو او د دوی د مهارتونو او وړتیاوو په برخه کې ملاتړ وکړي او دغه مفکوره یې په ذهنونو کې پیدا کړي، چې د هېواد راتلونکی د دوی په لاس کې دی.

په دې څپرکي کې د هېواد ټولنیز، اقتصادي او سیاسي شرایط تشریح کېږي، چې په هغو شرایطو کې تخنیکي او مسلکي زده کړې وده او پراختیا مومي او هم باید د هغو شرایطو اړتیاوو ته ځواب ووایي.

### ۳.۱ ـ سیاسي شرایط

د افغانستان د اسلامي امارت د بیا خلې بریا او راتګ نه وړاندې، هېواد له امنیتي اړخه ډېرې ستونزې لرلې، نو له دې کبله د هېواد، د ځینو لیرو پرتو سیمو لپاره د چوپړتیاوو د وړاندې کولو زمینه چمتو نه وه. خو د افغانستان اسلامي امارت له راتګ وروسته سیاسي شرایطو په بشپړ ډول بدلون وکړ او په ټول هېواد کې سرتاسري ټیکاو او امنیت ټینګ او د سولې هر اړخیزه فضا رامنځته شوه، چې په حقیقت کې دا یو بې ساری فرصت دی؛ تر څو د هېواد په هغو برخو کې چې تر دې وړاندې یې د امنیت له نشتوالي څخه سر ټکاوه د تخنیکي او مسلکي زده کړو څرک په کې ولګېږي.

### ۳.۲ـ ټولنیز شرایط

د احصایې او مالوماتو ملي اداري راپور ته په کتلو، [۳]په (۱۴۰۱ هـ ل)کال کې د هېواد ټول نفوس د (۳۴.۳) ملیونو په شاوخوا کې وو[۴]، چې له دې ډلې څخه یې (۷۰.۶٪) په کلیوالي او (۲۵٪) یې په ښاري سیمو کې ژوند کوي، همدارنګه (۴.۴٪) یې کوچیان دي. د نفوس کلنی وده (۲.۳٪)[۵] ده، چې د هېواد د ښوونیز نظام پر اوږو یې مسؤلیت د ډېرېدو په حال کې دی، غربت او بېوزلي ټولګډونه او دوامداره ده او د هېواد له نفوس څخه (۴۷.۳٪) خلک د بېوزلۍ ترکرښې لاندې ژوند کوي[۶]، د هېواد نېږدې (۹۷٪) نفوس د پرځېدو له خطر سره لاس او ګرېوان دی[۷]. د چوپړتیاوو په وړاندې کولو کې وده او ښه والي د امنیت په ټینګښت او ثبات پورې اړه لري؛ په پایله کې اوسني ماتوونکي وضعیت ته رسېدنه او غبرګون یوې اوږدې دورې او د علمي پرمختګ او هوساینې لپاره وخت ته اړتیا لري.

د هېواد نفوس د نړۍ له ځوانو جمعیتونو څخه ګڼل کېږي، چې (۴۷.۵٪) برخه یې له پنځلسو کلونو څخه لږ عمر لري. د نفوس په کلنۍ وده کې زیاتوالی د ښوونځي عمر ته د رسیدو ماشومانو په شمیر کې د کلني زیاتوالي لامل کېږي او دا مسله د ښوونیز سیستم پراختیا او اړین ښوونیزو تاسیساتو او تجهیزاتو ته اړتیا لري. دا هم اړینه ده چې د کار بازار ظرفیت لوړ شي، تر څو د وزګارو او کار په لټه ځوانانو شمېر ته ځواب ویونکی وي[۸].

د هېواد له نفوس څخه یوازې (۲.۷٪) له (۶۵) کلونو څخه لوړ او (۱۷) ملیونه تنه د کار (۱۵ـ ۶۵) کلونو ترمنځ عمر لري[۹]، چې له ډلې یې (۱۰) ملیونه خلک له اقتصادي پلوه فعالیت کوي. د هېواد (۲۴) ملیونه نفوس د (۱۰) ملیونو کسانو عایداتو ته سترګې نیولې او په تمه دي، چې له اقتصادي پلوه په ټولنه کې کار کوي، د غربت، بېوزلي او وزګارتیا دغه لوړه کچه د کورنیو اقتصادي هوساینه نېغ په نېغه تر اغېز لاندې راولي او ښوونځیو ته د تلونکو ماشومانو او ځوانانو د شمېر په لږوالي کې د پام وړ اغېزې لري.

---

[۳] برآورد نفوس کشور، د احصایې او مالومات ملي اداره، وری۱۴۰۱

[۴] ځینې ټولنیز اټکلونه یو له بل سره ډېر توپیرونه لري، کله کله تر ۴۰ میلیونو تنو هم رسیږي.(NSIA،۲۰۲۲) او (نړیوال بانک،۲۰۲۱)


[۵] د نړیوال بانک د مالوماتو له مخې د نفوسو کلنۍ وده ۲.۵٪ ده.

[٦] گزیده شاخص‌های احصائیوی وضعیت فقره و رفاه عامه، د اقتصاد وزارت، وری ۱۴۰۰

[6] 97 Percent of Afghans could plunge into poverty by mid 2022، says UNDP: United Nations Development Progromme، Date: 8/3/2023

[۸] برآورد نفوس کشور، اداره ملی احصائیه و معلومات، حمل ۱۴۰۱

[۹] برآورد نفوس کشور، اداره ملی احصائیه و معلومات، حمل ۱۴۰۱




شکل ۱: له (۱ـ۱۲) ټولګي پورې د زده کوونکو شمېره[۱۰]

## ۳.۳ـ اقتصادي شرایط

کرنیز تولیدات او محصولات د ټولنیز اقتصاد، د ملا د تیر حیثیت لري، د تولید لپاره ځینې کیفیت لرونکي کرنیز توکي او پیداوار، لکه: انار، انګور، زردالو، خربوزه او ځینې وچې او تازه مېوې پېژندل شوي او یادونه يې کېږي. کرنه د کرنیزو محصولاتو په ډل بندۍ، پروسس او سوداګرۍ سره، د هېواد د کسب او کار نږدې (٪۸۰) برخه جوړوي او نږدې (٪۲۷) کورني نا چن( ناخالص) عایدات چمتو کوي. د لېږد رالېږد او اړیکو په ګډون نورې اقتصادي برخې (٪۲۴)، د ودانیو جوړول (٪۱۰.۷)، د تولیداتو برخه (٪۲.۸)، د کانونو را ایستلو سکټور (٪۰.۸)، د عامه او ټولنیزو چوپړتیاوو سکټور (٪۱۷.۱) ټرانسپورټ او د اړیکو او مالوماتو سیستم (٪۱.۲)، د برښنا، ګازو او اوبو سکټورونه (٪۰.۱) د عمده او پرچون پلورونکو سوداګري (٪۷) او اسلامي امارت چارې (٪۱۲.۵) جوړوي.[11]

افغانستان له (۱۳۸۲ هـ ل) کال څخه را په دېخوا د (۱۰) کلونو په موده کې د پام وړ اقتصادي پرمختګ درلود، خو له (۱۳۹۲هـ ل) کال څخه تر (۱۴۰۰هـ ل) کال پورې د پرمختګ دغه کچه ټیټه شوې او تر (٪۲.۲ ـ ٪۲.۴-) پورې رسېدلې ده. (نړیوال بانک ۲۰۲۲)، په (۱۴۰۰ هـ ل) کال کې سختې وچکالۍ د غنمو په تولید، څرځایونو او وښو باندې منفي اغېزې کړې دي، د دې تر څنګ په وروستیو بدلونونو او د ډېرو افغانانو په کډوالۍ سره اقتصادي وده نږدې تر (٪۴-) پورې راټیټه شوې ده.

افغانستان داسې کانونه او د انرژۍ سرچینې لري، چې تر اوسه پورې کار ور باندې نه دی شوی او د هېواد د اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره ډېر اړین ګڼل کېږي، د کانونو په لویو سرچینو کې کرومایټ، مس، طلا، اوسپنه، لېتیم، د مرمرو تیږې، قېمتي او نیمه قېمتي تیږې او ځینې نور شیان شامل دي. د انرژۍ لېږد ته په کتو، افغانستان له منځنۍ آسیا څخه، جنوبي آسیا، عربو بحیره او د جنوب ګرمو اوبو ته د نفتو، طبعي ګازو او برښنا صادراتو د لېږد، لارې په توګه خورا، اهمیت لري. همدارنګه د افغانستان څخه د ګازو د پایپ لین کرښې تېرېدل د دې هېواد، د لوړ ظرفیت ښکارندويي کوي. په همدې ډول د (۱۳۹۱هـ ل) کال په وروستیو کې په هېواد کې د نفتو را ایستل او تولید د لومړي ځل لپاره پیل او تر دې دمه ادامه لري.[۱۲]

[۱۰] پوهنې وزارت، (وری ۱۴۰۰)، احصائیه شاګردان سال ۱۴۰۰ (دیتا-سیت-ها/https://moe.gov.af/dr)

[11] د اقتصاد وزارت، (ورى، ۱۴۰۰)، ګزیده شاخص های احصائیوی وضعیت فقر و رفاه عامه.

[۱۲] د اقتصاد وزارت، (ورى، ۱۴۰۰)، ګزیده شاخص های احصائیوی وضعیت فقر و رفاه عامه.

### الف) کرنه، صنعت او چوپړتياوې

اقتصادي وده د کليوالي سيمو د لومړيتوبونو په پراختيايي ملي پروګرام کې د بېوزلۍ لږوالي لوی او مهم لامل په توګه په پام کې نيول شوې ده او د کرنيزو توليداتو ډېروالی د اقتصادي ودې په توګه په دې بهير کې مهم رول لري. که چېرې د کرنې ګټه لوړه شي، کولای شي په ښارونو کې د اوسېدو او صنعتي کېدو بهير په پراختيا کې رغنده رول ولوبوي.

اوس مهال د کرنې برخه د کرنيز ژوند د لوړې کچې او لرې ګټې په توګه پېژندل کيږي، د توليداتو ډېروالی د لومړنيو او اومه(خامو) توليداتو په توګه صادريږي. د توليد له لوړو لګښتونو سره لږ کيفيت په دې مانا دی، چې د پروسس شويو توکو توليد، چې د سيمې په کچه د سيالی وړتيا ولري، يا د وارداتو ځای ونيسي يا هم صادراتو ته چمتو شي ستونزمن دی.

د توليد په ډېروالي سربېره، د کرنيزې برخې څېړنه او شننه د ارزښت کړۍ (Value Chain) رامنځته کېدو، پيداينښت او پراختيا ته اړتيا لري، چې په هغو کې رامنځته شوي ارزښت ته د ښکېلو اړخونو له لوري هم ځای ورکړل شوی وي. د ارزښت کړۍ (Value Chain) په اړه همکاري لږه، ټاکلې او محدوده ده، چې د توليد، تدارکاتو، بازار موندنې او پلور ترمنځ د مناسب تعامل خنډ ګرځي، د ارزښت ډېروالي لپاره د محصولاتو د راټولولو تر ډل بندۍ او پروسس وروسته، د کارونو د سرته رسولو په اړه د لږې پوهې او مهارت لرل، له نورو محدود کوونکو لاملونو څخه ګڼل کيږي.

د کرنې په برخه کې د اسلامي امارت پروګرام په پام کې لري، تر څو تر کښت لاندې ځمکې په منځنۍ توګه په کال کې تر (۱۵۰۰۰۰) هکتاره ډېرې کړي، تر څو په (۱۴۰۹هـ ل) کال کې (۳.۵) مليونه هکتاره ته ورسيږي. د کرنيزو صنعتي پارکونو په جوړولو سره به د کرنيزو توکو پروسس هم ډېر شي. د صادراتو د پراوونو او بهيرونو ساده کول، د کرنيزو صادراتو کلنی کچه (۵٪) ته د ډېرېدو په موخه د مناسب کسبي او کاري چاپېريال په رامنځته کولو او جواز صادرولو کې آسانتيا را منځته کوي. اسلامي امارت کولای شي، چې د زده کړو پراختيا او شاوخوا (۴۰۰) بابه کرنيزو ښوونيزو مرکزونو له لارې د بزګرانو توليدات او بازار ته د هغوی لاسرسی ډېرکړي. کرنيز پرمختګ، کېدای شي چې د غَلو، دانو او بڼوالي محصولاتو، لکه: انګورو، بادامو، انارو او جلغوزيو د توليد له لارې تر لاسه شي.[13]

| د توليد کوونکو د ارزښت کړۍ، د پروسس کوونکو او سوداګرو تر منځ اړيکې ټينګوي |
|---|
| د ګمارنې رامنځته کول، د ملي ارزښتونو د لوړولو، او د هغو سکټورونو د ښه والي لپاره، چې ډېرې او څو اړخيزه پايلې لري، بايد پانګونې ته لومړيتوب ورکړل شي، په پايله کې بايد هڅه وشي، چې ډېرې کرنې او فعاليتونه د ځانګړي ارزښت په يوه کړۍ او د هېواد د ننه وساتل شي: د رومي بادنجانو او روب يا د اوسپنې او فولاد لرونکو تيږو په صادراتو کې ډېره لويه پانګه او فرصتونه پراته دي. تر يوه ځايه د پروسس لپاره ځايي فعاليتونه کولای شي د وارداتو ځای ونيسي، په دې شرط چې ځايي توليد بسنه وکړي، د دې کار پايلې په ملي شتمنۍ کې هم د پام وړ دي.<br>په هېواد کې د ننه د ارزښت ډېرې کړۍ له منځه ځي او يا له جغرافيايي پلوه په کافي اندازه د زېربناوو نشتوالي ته په کتلو سره محدودې شوې دي، دغه دوه شرطونه، دبيا رغونې پراختيا او يا په کرنه کې د ارزښت کړيو د رامنځته کولو لپاره اړين دي، تر څو د بزګرانو او ښاري يا بهرنيو بازارونو ترمنځ د ډېرو فرصتونو اړيکې ټينګې کړي. د دې شرايطو په نشتوالي کې بايد پروګرامونه لږ يا ډېر د ارزښت په وړکړيو باندې په کورنيو کوچنيو بازارونو تمرکز وشي. |

*اړانه ۱: د ارزښت کړۍ*

### ب) د عايداتي او صادراتي سرچينو په توګه د کانونو را ايستل

په (۱۳۸۵ هـ ل) کال کې د کانونو را ايستلو نوی قانون تصويب او د کانونو د موندنې او را ايستلو په موخه د يوې منظمې اډانې د جوړولو لپاره مقررو ته پراختيا ورکړل شوه. د هغو کانونو نا مالوم ظرفيت ته د لاسرسي لپاره، چې تر دې مهاله نه دي را ايستل شوي، اسلامي امارت بايد د تېلو (نفتو، ګازو او مهمو کانونو) لويې پروژې په چټکۍ سره په کار واچوي او د هغه

[13] Ministry of Finance. *AFGHANISTAN GROWTH AGENDA*. (n.d.). https://mof.gov.af

ځارنه وکړي. د شته کانونو را ایستل په لړې کچې سره پلان شوي دي او د اسلامي امارت عایداتو د ډېروالي په موخه په هغو باندې مالیه وضع کېږي، له دې امله چې له یوې خوا عایدات په ښه توګه راټول او مدیریت او له بلې خوا چاپېریالي او ټولنیزې ننګونې او خطرونه هم اداره شي، د ډاد د ترلاسه کولو لپاره باید قانوني اډانه او مناسب لارښود را منځته شي او همدارنګه په کانونو او پټرولیم وزارت کې ظرفیتونه رامنځته او لوړ شي.

## ج) د سیمې په کچه د همکاریو پروژې

د پټ او ناڅلانده ظرفیت د تر لاسه کولو په موخه به لویې بنسټیزې او پلان شوې پروژې سرته ورسېږي، تر څو له ټاکل شوي مهالوېش وړاندې بشپړې شي، چې پایلې به یې د قانوني محدودیتونو او تدارکاتو د ښه والي له لارې په مرزي کرښو کې ډېروالی پیدا کړي؛ نوي اقتصادي فرصتونه به د انټرنېټي (د سیمه ییز نوري فایبر کیبل نښلولو) اړیکو د پراختیا له لارې چمتو شي.

## د) د کورنیو بازارونو، ارتباطي او مالوماتي ټکنالوژۍ ملي خوندیتوب (تأمین)

اسلامي امارت د زېربناوو او انساني پانګې په پېژندلو سره، په پام کې لري، چې د دویم ځل لپاره په کورنیو بازارونو باندې برلاسی شي او د هغو سیمو د ارزښت کړۍ ته، چې لوړ ظرفیت لري، لاښه والي ور په برخه کړي، په پایله کې صادرات پیل، ارزښت ډېر او کار رامنځته کېږي.

د بازار مطالعې پر بنسټ، د سیمې په ځینو برخو کې د ارزښت کړۍ او دوران پیاوړتیا نسبتاً ښه ده، هغه ځایونه، چې له لوړ ظرفیت، لکه: د جلغوزې، پستې او شیرین بویه په څېر طبي بوټیو(ګیاوو) له کښت څخه برخمنې دي. نوې ټکنالوژۍ د دې لامل کېږي، چې پټ ظرفیتونه، د تولیداتو نوې فرصتونه رامنځته او د امارت په چوپړ کې ترې ګټه پورته کړي.

د ودې اجنډا (مالیې وزارت) پایلې د ښوونیز نظام لپاره په ځانګړې ډول د تخنیکي او مسلکي زده کړو لپاره ډېرې مهمې دي، ځکه چې د انساني پانګې ځای په لنډ وخت کې د محدود کوونکي عامل په توګه په رسمیت پېژني. که چېرې د کرنې وده، د معدني توکو را ایستل، د کورني بازار تأمین او سیمه ایزې اړیکې او پیوستون، چې د کسب او کارموندنې د رامنځته کېدو او اقتصادي پرمختګ لامل کېږي، هغه وخت باید اسلامي امارت د دې ډول پر مختګ په موخه د اړینو زده کړو او مهارتونو د لوړاوي لپاره د ارزښت په کړۍ او دوره کې پانګونه وکړي.[14]

یا په بله وینا، نه یوازې دا چې اړینې زده کړې او مهارتونه د اومه توکو د تولید لپاره دي، بلکې د دویمو فعالیتونو او وروستیو پړاوونو د پرمختګ او پراختیا لپاره باید ماهر کسان هم شتون ولري، تر څو کارونه مخ ته یوسي. په دې برخې پورې اړوند صنعتي کارونه او ملاتړي چوپړتیاوې لکه: لېږد رالېږد، بانکوالي، مالوماتي او ارتباطي ټکنالوژي او داسې نور شامل دي.

په (۱۴۰۰ هـ ل) کال کې د پوهنې یوې برخې د اسلامي امارت له ټولې بودجې څخه (٪۱۰.۹) د خپل ځان کړه ، چې دغه (٪۳.۲۴) کچه، په هغه وخت کې له کورني ناچې او نا خالصو عایداتو څخه وو. په سیمه ییزه کچه پرتله، په څو هېوادونو کې د مالي لګښتونو توپیر رابښیي. دا په داسې حال کې ده، چې د المان هېواد په شان زده کړه ییز او چوپړییز اقتصادونه د پام وړ کورني ناچې(ناخالص) تولید د زده کړو برخې ته ځانګړې کوي.

*جدول ۱: د څوهېوادونو په پرتله د هېواد د لګښت کچه (سرچینه: نړیوال بانک ۲۰۲۲)*

| د یوه هېواد له ټولو لګښتونو څخه د یوې برخې په توګه د ښوونیزې برخې لګښتونه | | | | د کورني ناچې (ناخالص) تولید په توګه په ښوونه او روزنه باندې د یوه هېواد لګښت | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| افغانستان | ایران | پاکستان | المان | افغانستان | ایران | پاکستان | المان |
| ۱۰.۹٪ | ۲۳.۱٪ | ۱۱.۶٪ | ۱۱.۲٪ | ۳.۲۴٪ | ۳.۶٪ | ۲.۵٪ | ۵.۰٪ |


[14] د اومه توکو ډېروالی، چې په هېواد د ننه پروسس کېږي، په پېر او پلور کې د پانګونې په پرتله او د سوداګرۍ اړونده فعالیتونو په کارموندنې او کارګمارنې او محصول باندې به ډېره اغېزه ولري. کرنه او د کانونو را اېستل دواړه په لومړي مورد (تولید او پروسس) پورې اړه لري.

## ۴ـ په افغانستان کې دګمارنې او بوختیدنې نظام

که څه هم رسمي(عمومي یا مسلکي) زده کړو ته د لاسرسي او د اقتصادي ودې او کیفیت تر منځ هېڅ ډول نېغ په نېغه اړیکه نشته، بیا هم دوی د یو او بل ملاتړ کوي.[۱۵] . په پایله کې ویلای شو، چې تخنیکي او مسلکي زده کړې د اقتصادي ودې سره کلک تړاو او د کار له نړۍ سره د اړیکو ټینګولو ته اړتیا لري. راتلونکې برخې د بوختېدنې جوړښت، د بوختېدنې حالتونه، د بوختېدنې بهیر او په کار بازار کې د شته حرفو د رامنځته کولو په اړه ژور لید لوری لري.

### ۴.۱ـ د بوختېدنې جوړښت

په هېواد کې د ژوند وضعیت سروې ته په کتو سره، د کاري ځواک د ګډون کچه ټیټه او نیږدې (۴۱.۹٪) ده او د نفوس په نسبت د ملي ګمارنې کچه (۴۱٪) ده.[۱۶]. دغه شمېرنې په ډاګه کوي، چې د هېواد د نفوس په نسبت، یوازې ډېر لږ کسان د توکو د تولید او چوپړتیاوو په برخه کې کار کوي، چې د دې لږ شمېر، اصلي لامل په اقتصادي فعالیتونو کې د ښځو پیکه ونډه او ګډون دی. د نفوسو ځوانې برخې ته په کتو د اړ کسانو شمېر ډېر لوړ دی او هر ګټه راوړونکی کارکوونکی، چې عمر یې د ۱۵ او ۶۴ کلونو ترمنځ وي، اړ دي، چې لږ تر لږه د شپږو اړ کسانو، ( د ۱۵ کلونو ټیټ عمره ماشومانو او تر ۶۵ کلونو پورته سپین‌ږیرو) لګښتونه پوره کړي.[۱۷] (۲ شکل ته پام وکړئ)




*شکل ۲:د عمر په ډلو د نفوس وېش (سرچینه: د احصائیې او مالوماتو ملي اداره ۱۴۰۱)*

---

[۱۵] له دې کبله په دې سند اټکل نه کېږي، چې غوره زده کړې په یوازېتوب د وزګارتیا کچه را ټیټوي، یا هم د اقتصاد د ودې لامل کېږي. د همدې موخې په پار باید، چې نور شرایط هم په پام کې ونیول شي.

[۱۶] ګزیده شاخص های احصائوي وضعیت فقر و رفاه عامه، د اقتصاد وزارت، ورى ۱۴۰۰


[۱۷] ګزیده شاخص های احصائوي وضعیت فقر و رفاه عامه، د اقتصاد وزارت، ورى ۱۴۰۰

د اړو اتکا لرونکو دا ډول لوړ شمېر په اقتصادي پرمختګ کې لوی خنډ دی، ځکه چې له یوې خوا باید ډېرې لږې سرچینې د زده کړو، روغتیا پالنې او د ځوانانو د تولنیزو فعالیتونو لپاره ولګول شي او له بلې خوا د اقتصاد په تولیدي برخه کې ډېر لږ خلک د کار وړتیا لري، همدارنګه د کورنیو په کچه ډېر لږ خلک د عایداتو په موخه کړنې ترسره کوي او لږې سرچنې د خپلو کورنیو له غړو سره شریکوي، چې په زده کړو، روغتیا او نورو برخو کې د دوی د ودې او روزنې په اړه د پانګونې د لږوالي لامل کېږي.

د کار په عمر کې له درېیو څخه یوازې دوې برخې خلک د کار موندنې او ګمارنې په برخه کې فعالیت لري، په ښاري کاري بازار کې د ښځو، ځوانانو او سپین ږیرو پیکه ګډون ته په پام سره د ښاري خلکو د کار موندنې او ګمارنې کچه د کلیوالي خلکو د کسب او کار په نسبت ټیټه ده. د هېواد د ټول نفوس نږدې نیمایي برخه وزګاره او یا د کار لپاره کافي مهارت نه لري[18]. چې په دې برخه کې په ځانګړې ډول ښځو ډېر زیان لیدلی دی.

په اوسني وخت کې د کاري ځواک ټولیز شمېر، نږدې اوولس ملیونه اټکل شوی دی، د نفوس (۳.۲٪) پرمختګ ته په کتلو کاري ځواک هر کال شپږ سوه زرو تنو او یا هره میاشت پنځوس زرو تنو ته لوړیږي، د اقتصاد وزارت راپورونو ته په کتلو سره د کړنې په سکټور کې د کار موندنې او ګمارنې ونډه ( ۴۵.۴٪ )، په عامه او ټولنیزو چوپړیز او چوپړتیاوي سکټور کې (۱۷.۱٪)، د جوړونې سکټور کې (٪ ۱۰.۷)، د عمده او پرچون سوداګریز سکټور کې (۷.۰٪) او په تولیدي/فابریکاتي صنایعو سکټور کې (۲.۸٪) ده.

په یوه بازار کې د رسمي او وړتیا نه لرونکي کار ، چې د عامه برخې له لوري اداره کېږي، د ماهرو کار کوونکو لپاره غوښتنې د پرمختګ په حال کې دي، او دغه اړتیا په بېلا بېلو ولایتونو کې توپیر لري، امنیتي وضعیت او سیاسي ثبات ته په کتلو سره د نړیوالو نظامي ځواکونو له وتلو وروسته ځوانان د کار موندنې او ګمارنې سره نه مینه لري او نه هم مناسب فرصتونه ور ته چمتو شوي، کرنیز فعالیتونه د هېواد، د کار بازار پیاوړې برخه ګڼل کېږي او (۴۵٪) کار موندنه او ګمارنه د کرکیلې په برخه کې ده، چې له هغې ډلې څخه (۴۳٪) کارکوونکي بزګران او ۲٪ یې د کرنې په نورو برخو کې بوخت دي. (۳شکل ته وګورئ)




*شکل ۳:د بوختېدنې جوړښت (سرچینه: اقتصاد وزارت)*


د کرنې برخې ډېرى کار کوونکي (۴۵.۴٪) د کورنیو کار کوونکي دي، چې ورځنۍ معاش نه لري او ډېرى یې ځوانان دي، چې دوی ته له کرنې پرته د کار بل فرصت نه شته. د تولید په برخه کې کار موندنه او ګمارنه په (۲.۸٪) سره په ټیټه درجه کې ده، او

[18] د وزګارتیا نرخ او کچه د ډېر والي په لور روانه ده او په ۱۴۰۰ کال کې ٪ ۱۸.۶ له ټول جمعیت او ٪ ۳۰.۷ له ځوانانو څخه دي (سرچینه د اقتصاد وزارت،۱۴۰۰)

دا د دې ښکندونه کوي، چې د پرمختللي او انعطاف منونکي اقتصاد په لوري حرکت په لومړي پړاو کې دی. د کلیوالي سیمو د کار موندنې او ګمارنې په برخه کې کرنه، نساجي، د خوراکي توکو پروسس او د ودانیو جوړول شامل دي، چې همداغه برخې په ښاري سیمو کې هم ډېر ارزښت لري، په دې توپیر چې په ښارونو کې مالي برخې، چوپړتیاوې او تولیدات هم تر سره کېږي.

### ۴.۲ـ د بوختېدنې حالتونه

په ښاري او کلیوالي سیمو کې آزاد کار او ځان بوختول د دندې یو دودیز ډول دی، چې په هېواد کې کورنۍ لومړني کار ګمارونکي او امر ورکوونکي بلل کېږي. له دې تړلو سره سره په ښاري سیمو کې رسمي کارونه په کار موندنه او ګمارنه کې ډېر دود دي؛ ځکه چې ډېر عامه کارونه په ښارونو کې ترسره کېږي او د هغوی شمېر په شخصي برخه کې د کارونو دوه برابره دی. ۴ شکل په هېواد کې د بوختېدنې بېلا بېل ډولونه راښيي.




*شکل ٤: د بوختېدنې حالتونه (سرچینه: د احصایې او مالوماتو ملي اداره ۱۴۰۰)*

په افغانستان کې له (۸۵٪) څخه ډېر نفوس په ((زیان منونکې بوختېدنې)) ډل بندۍ کې ځای لري: هغه کار کوونکي چې د خپل ځان لپاره کار کوي یا هغه کار کوونکي چې له ټاکل شوې تنخوا پرته د خپلو کورنیو لپاره کار کوي او هغه کار کوونکي چې د کاري او کسبي امنیت په نشتوالي او ناوړه اقتصادي شرایطو کې دي.[19] په هېواد کې یوازې (۱۳.۴۶٪) نفوس کېدای شي، د سرلوړیو اوعزت لرونکو دندو درلودو په توګه وپېژندل شي.

*جدول ۲: په بېلا بېلوبرخو کې د تړلو کارکوونکو د سلنې پر بنسټ شخصي او کورنی کسب او کار (سرچینه: د آلمان د همکاریو اداره، جي، آی، زید)*

| برخه | کابل، هرات او مزارشریف | کلیوالي سیمې |
|---|---|---|
| کرنه | ۸.۹٪ | ۲۲.۸٪ |
| تولید | ۶.۵٪ | ۱۳.۵٪ |
| د ودانیو جوړول | ۱.۳٪ | ۰.۷٪ |
| عمده او پرچون پلورنځي، رستورانت او هوټل | ۱۰.۳٪ | ۴.۸٪ |

[19] سالنامه احصایوي ۱۴۰۰ د احصایې او مالوماتو ملي اداره، غويی ۱۴۰۱

| | | |
|---|---|---|
| لېږد رالېږد او مخابرات | ۵.۱٪ | ۱.۶٪ |
| مالي موسسې او بنسټونه | ۰.۵٪ | ۰٪ |
| فردي، ټولنيز او عمومي چوپړتياوې | ۳۸ | ۲.۴٪ |

### ۴.۳ـ د بوختېدنې بهیر

تر دې دمه يادونه شوې، چې څرنګه د کاري ځواک پيکه ګډون او د وزګارتيا لوړه کچه د دې لامل شوه، چې ځوانان نا رسمي برخې ته ولاړ شي. له تنخوا پرته کورنۍ دندې ولري او يا هم لږ يا ډېر آزاد کارونه ترسره کړي. د وروستيو بدلونونو او د اسلامي امارت له منځته راتګ څخه وروسته په هېواد کې سوله او امنيت ټينګ شوی او له بل هر وخت نه ډېره اړتيا ليدل کېږي؛ تر څو هېواد ورغول شي. ښکاره ده چې هر بدلون خپلې مثبتې او منفي پايلې لري، چې وروستي بدلونونه هم له دې امر څخه تش نه دي، ځکه چې له يوې خوا د هېواد ډېرې کادرونه نورو بهرنيو هېوادونو ته د تګ په درشل کې دي او اوس په هېواد کې کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته د پانګونې زمينه چمتو شوې ده.

د يو ګڼ او نفوس لرونکي هېواد د کليوالي سيمو اقتصاد په هغو ځوانانو باندې يو ډول فشار وي، چې نوي د کار بازار ته راځي او د هرې نوې کار موندنې او ګمارنې لپاره سيالي کوي، که څه هم چې دغه نوی نسل د سياليو لپاره د ډېرو مهارتونو لرونکی دی، له دې سره سره د کليوالي سيمو اقتصاد تر دې دمه په کار بازار کې د ټولو کار کوونکو د جذب وړتيا نه لري، په پايله کې تر نيمايي ډېر کليوالي ځوانان په کرنه او مالداری باندې بوختېږي، چې ډېری يې له تنخوا پرته کار کوونکو په اډانه کې له کورنيو سره کار کوي. اړتيا ليدل کېږي، چې د دې اداري د ستراتيژۍ لومړيتوبونو ته په کتو سره په تخنيکي او مسلکي برخو کې وروزل او په کار بازار کې شامل شي.

### ۴.۴ـ حرفي او د مهارت کچې

ډېر شمېر کارونه او حرفې په کار بازار کې موندل کېږي، د هغو مهارتونو کچې، چې د دې حرفو لپاره اړينې دي، هم مهاله نه پېژندل کېږي. له دې ټولو سره سره کار ګمارونکي او د کسب او کار خاوندان د کارونو په هره کچه کې د اړتيا وړ مهارتونو لپاره نه ليکل شوي معيارونه او ځانګړنې لري. د نړيوال سټنډرډ د کارونو ډلبندۍ [20] د حرفو څلور کچې را پېژندلې دي.[21]

**د (۱) مهارت کچه ـ** په معمولي توګه هغه کارونه په کې شامل دي، چې مهارت ته اړتيا نه لري؛ بلکې جسمي وړتيا او قدرت ته اړتيا لري، لکه: له مهارت پرته کار کوونکي. په لنډه توګه کسبي او حرفوي زده کړې د خدمت او کار په جريان کې زده کولای شي.
**د (۲) مهارت کچه ـ** په پراخه توګه له ماشين آلاتو سره کار، برښنايي توکي، د لېږدونکو وسايطو موټرچلونه او د ودانيو اړوند توکي، ميکانيکي او برښنايي وسايلو سره کارونه په کې شامل دي، د مهارت په دې کچه کې ليک، لوست او محاسبوي وړتيا ته اړتيا لري. کېدای شي د تخنيکي او مسلکي زده کړو رسمي نظام د (۲.۷٪) شمېر ترپوښښ لاندې نيولو سره بې پامه او ناديده و ګڼل شي. شرکتونه په هر ځای کې خپلې ځانګړې لارې لري، واړه شرکتونه په معمولي ډول د (استاد ـ زده کوونکي) زده کړې پر مخ وړي، په لويو شرکتونو کې په کار نوي ګمارل شوي کار کوونکي تر شېږو مياشتو پورې د خدمت په بهير او جريان کې زده کړې ويني.
**د (۳) مهارت کچه ـ** هغه تخنيکي او عملي زده کړې په کې شاملې دي، چې د زده کړې لوړې کچې او اړونده تجربې ته اړتيا لري. د دې کچې کارونه په لوړه کچه ليک او لوست او اړينو مهارتونو ته اړتيا لري. د حرفو ټيټه کچه د دې څرګندونه کوي، چې مناسبې زده کړې شتون نه لري، او يا هم د لېواله کسانو لاسرسی ورته نه کېږي. د تخنيکي او مسلکي رسمي زده کړو د (۱۳) او (۱۴) ټولګيو ښوونيز پروګرامونه کېدای شي د پامه و غورځول شي، ځکه چې اوسنی ځانګړې په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د کار بازار اړتياوې نه شي انعکاس او خپرولی.

[20] International Standard Classification of Occupations (ISCO)
[21] International Standard Classification of Occupations، ISCO-08، Volume 1، ILO،2012

**د (۴) مهارت کچه ـ** د هغه دندو په سرته رسولو مکلف دی، چې د سختو مسلو حل او د اړونډې تخصصي ځانګړې عملي تجربې او علمي زده کړو د کچې پربنسټ پنځوني او پرېکړو کولو ته اړتیا لري. په (۱۴۰۰هـ ل) کال کې د کوچني او منځني شرکت څېړنو ښودلې، چې له ماهرو کار کوونکو څخه نیږدې (۳٪) یې کېدای شي متخصص یا انجنیر و نومول شي.

*اډانه ۲: د مهارتونو کچې (سرچینه: د کار نړیوال بنسټ)*

اوس مهال ډېرې ښوونځي او مسلکي موسسې د (۲) کچې مهارت وړاندې کوي او په دیارلسم او څوارلسم ټولګیو کې د (۳) کچې مهارت وړاندې کېږي. له دې ټولو سره د دغه ډول زده کړو ډېره برخه په اندې تر عملي ډول وړاندې کېږي. دا په داسې حال کې ده، چې د مهارت دغه دواړه کچې د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ستراتیژۍ کې په پام کې نیول شوې دي؛ ځکه چې له ۲ـ ۴ کچې مهارتونه بنسټیزو او اړوندو زده کړو ته اړتیا لري، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو لپاره د کاروبار ، داسې مسیر او لار ټاکي، چې له مهارت پرته کار کوونکو، استادکارانو، تکنیشنانو او ماهرو کار کوونکو لپاره په کې عملي کار ته ځای ورکړل شوی وي.




*شکل ۵: کاري ساحې ته په کتو د کارکوونکو ښوونیزه کچه، د کارمندانو د محاسبې(نړیوال بانک، د ملي زیانمننې او خطر ارزونه،۱۳۸۶ او ۱۳۸۷)*

پورتنی شکل را ښیي، چې څه ډول هغه حرفې، چې لږ مهارت ته اړتیا لري، د هېواد په کار بازار کې لویه ونډه اخلي[۲۲] دغه حرفې عبارت دي له: ساده او لومړنۍ حرفې، د ماشین کارکونکې، د ماشینونو رغوونکې، د لاسي صنایعو جوړونکې، او په هغه پورې اړوند نور کرنیز کارونه. د لوړ مهارت لرونکې حرفې (تکنیشنان، متخصصین، نیمه متخصصین او مدیران) د هېواد د کارونو لږه کچه (۶.۱٪) تشکیلوي. (د احصایې او مالوماتو ملي اداره، ۱۳۹۷)

## ۴.۵. د کار نړۍ

د کار نړۍ تر ډېره (واقعي او ریښتینې نړۍ) ته اشاره کوي، چې په هغو کې باید مهارتونه په کاري او تخصصي ځایونو کې تر سره شي، تر څو د تنخوا د ترلاسه کولو لامل و ګرځي. په داسې حال کې چې دا د زده کوونکو لپاره یو ګټور انځور دی، تر څو په کاري شرایطو کې ځان د مهارتونو کارولو سره بلد کړي، په ستراتیژیکه کچه باید د ښکېلو اړخونو او همغږې کوونکو برخو په شتون فکر وشي.

[۲۲] که څه هم ګرافونه د تېرو کلونو دي، خو تر او سنه د او سنیو شرایطو ښکارندوییي کوي، چې د احصایې او مالوماتو ملي اداري هم هغه په ۱۳۹۷ کال کې مستند کړي دي.

تخنیکي او مسلکي زده کړې باید د ښوونځي، ولایت یا هېواد په کچه د خپلو اړیکو شبکې له ښکېلو اړخونو سره پیاوړې کړي. او له هغوی سره رغوونکې همکاري ولري. سیمه ییزو توپیرونو ته په پام سره د دې ډول ګډونونو(مشارکتونو) او شبکو خوندي ساتل کولای شي، د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ولایتي واحدونو له دندو څخه وي.

په ملي کچه، د خصوصي برخې ځینې مهم بنسټونه چې کولای شي، له تخنیکي او مسلکي زده کړو سره مرسته وکړي عبارت دي له:

- د افغانستان د کسبګرو او د هټيوالو خونه
- د افغانستان د صنایعو او کانونو خونه
- د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونه
- د افغانستان د کرنې او مالدارۍ محصولاتو او تولیداتو خونه
- د افغانستان د صنعتي ښارګوټو ټولنه
- د افغانستان د بانکونو ټولنه

ښکېل اړخونه یا شریکان یوازې له خصوصي برخې سره نه محدودېږي همدارنګه اسلامي امارت نه یوازې د کار کوونکو لپاره یو لوی کارګمارونکی دی؛ بلکې د اعتبار ورکولو معیارونه او پراوونه د کسب او کار لپاره د شرایطو چمتوکولو برخې هم تنظیموي.

په (۱۳۸۷ هـ ل) کال کې د مهارتونو او زده کړو پالیسي کمېټه (CESP) د پراختیایي پروژو د یوې برخې په توګه جوړه شوه، تر څو د ملي پراختیا اداري وړتیاوې مالومې او د هغو د ملي اړاني لارښوونه وکړي، له هغه ځایه چې د وړتیا پېژندلو اړانه کارول کېږي، د مقررو پېژندلو او عملیاتي ستنېردونو د پراوونو او د هغوی له ترسره کولو څخه د څارنې لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو او اړوندې اداري څخه د یو بورډ د رامنځته کولو تمه کېږي.

## ۵ـ د تخنیکي او مسلکي زده کړو تجزیه او شننه

تخنیکي او مسلکي زده کړې په هېواد کې د بېوزلۍ د له منځه وړلو په موخه، د نوي کاري ځواک د رامنځته کولو لپاره ځوانانو ته د مهارتونو په وړاندې کولو کې مهم او رغنده رول لوبوي، تخنیکي او مسلکي زده کړې له قانوني اړخه باید هغه څه ترلاسه کړي، چې د کار بازار اړتیاوو ته ځوابووایي او د هېواد په ټولو سیموکې له انډول او عادلانه پرمختګ څخه ملاتړ وکړي او د ټولنې او بازار اړتیاوو ته ځواب ویونکی وي.

### ۵.۱ـ د تخنیکي او مسلکي زده کړو ډولونه

تخنیکي او مسلکي زده کړې د عامه یا خصوصي سکټور له لوري په درې ډوله وړاندې کېږي:

- **رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړې (Formal TVET):** په معمولي توګه د ښوونځي یا ښوونيزې موسسې له لوري وړاندې کېږي او د زده کړه ییزو موخو او مهال وېش ملاتړ له نظره رغېدونکې او د رسمي سند لرونکې دي، یا په بله وینا: رسمي زده کړې، هغه زده کړې دي، چې د اسلامي امارت یا خصوصي بنسټونو له خوا چمتو، ترتیب او رسمیت ولري، او د یوې موسسې یا بنسټ له لارې په ښوونیز جوړښت (ښوونځي، انسټېټوټ یا ښوونیزې موسسې) سره، د منظم ښوونیز پروګرام ( موخو لرلو، وخت، سرچینو، نصاب او داسې نورو) پر بنسټ او د رسمي سند په لرلو سره وړاندې او تر ارزونې لاندې نیول کېږي.[۲۳]
- **نا رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړې (Informal TVET):** د مهارتونو د زده کړې لپاره لنډمهاله دورې په کې شاملې دي، چې د اړتیا وړ، مهارتونو او وړتیاوو د رامنځته کولو په موخه د صنایعو د ځینو برخو او همدارنګه د

[23] Terminalogy of European education and training policy. A selection of 100 Key terms، CEDFOP،

شمېرلو او لومړني لیک او لوست مهارتونو د وړاندې کولو لپاره ترې ګټه پورته کېږي. یا په بله وینا نا رسمي زده کړې، د کار، کورنۍ اړوند ورځني فعالیتونه یا هم وزګارو او فارغو وختونو څخه یو ډول زده کړه ده. د دغه ډول زده کړې د موخو، وخت یا ملاتړ له نظره نه پلان کېږي.[24]

- **نیمه رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړې** (**Non-Formal TVET**): هغه زده کړې دي، چې د یوې ادارې/ موسسې یا بنسټ له خوا پلان او تنظیم شوې وي. د نیمه رسمي زده کړو ستره ځانګړتیا دا ده، چې د اضافي زده کړو په توګه د رسمي زده کړو یا خلکو د ابدي یا رواني زده کړو د بهیر ځای نیسي او زده کړو ته د ټولو د لاسرسي حق د تضمین په موخه وړاندې کېږي. دغه زده کړې د ټولو خلکو لپاره د عمر په هره برخه کې وړاندې کېدای شي؛ خو د رسمي زده کړو په څېر له ښوونيزې لارې سره نه دي تړلې او معمولاً د یوه لنډمهاله ښوونيز پروګرام په ترڅ کې د ښوونیزو کارونو په اډانه سمینار (ورکشاپ) یا هغې ته ورته کې وړاندې کېږي. په دې زده کړو کې د اړوندې ادارې/موسسې یا بنسټ له خوا تائید پاڼې ورکول کېږي، خو دغه تصدیق پاڼې د رسمي سند په توګه نه پېژندل کېږي له دې سره شونې ده، رسمي سند د نیمه رسمي زده کړو په پروګرامونو کې د ګډون له لارې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري په ځانګړې همغږۍ او یا د ښوونیزو ارزښت موندنو له لارې وړاندې شي.[25]

### ۵.۱.۱ـ رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړې

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره د مدیریت او په هېواد کې د رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړاندې کولو او پر هغو باندې د څار یوازینی اورګان دی. اوس مهال دغه اداره د ټول هېواد په (۳۴) ولایتونو او (۲۶۰) ولسوالیو کې لېسې، انستیټیوټونه او ښوونیزې موسسې مدیریت کوي، چې په دې لېسو او ښوونیزو موسسو کې درې ډوله ښوونیز پروګرامونه وړاندې کېږي، چې عبارت دي له:

۱) په ښوونیزو مؤسسو کې د دیارلسم او څوارلسم ټولګیو دوه کلن ښوونيز پروګرام.
۲) په لېسو کې د لسم، یوولسم او دولسم ټولګیو درې کلن ښوونيز پروګرام.
۳) له لسم ټولګي څخه تر څوارلسم ټولګي پورې پنځه کلن ښوونيز پروګرام.

له (۱۳۸۲هــ ل) کال څخه را په دېخوا د تخنیکي او مسلکي زده کړو په وړاندې کولو کې د پام وړ ښه والی او ډېر والی راغلی دی، تر څو د خلکو او ټولنې، پرمخ ډېرېدونکو اړتیاوو ته ځواب وواېي. د ښوونځیو او ښوونيزو موسسو شمېر له (۴۲) بابو څخه تر (۳۷۶) بابو او د زده کوونکو شمېر شاوخوا تر (۶۰۰۰۰) شپېتو زرو پورې لوړ شوی دی. د جغرافیوي او سیمه ییز وېش له نظره د ولایتونو په کچه د ښوونځیو او مسلکي موسسو جوړول، زده کړو ته د ارت او پراخ لاسرسي لامل ګرځېدلي دي. له دې ټولو سره سره په چټکۍ سره د زده کړو پراختیا، د شته بنسټ ظرفیت له ننګونو سره مخ کړی دی او د مناسب مدیریت د نشتوالي، د بې ګټې بنسټیزې اډانې او همدارنګه د اصولي څارنې د نشتوالي لامل شوی دی. په پایله کې د تدریس او ښوونيز نصاب په چمتو کولو کې د کیفیت معیارونه په پام کې نه دي نیول شوي. د درسونو او ځانګو محصول لړشوی او د کار له نړۍ سره یې اړیکې له پامه غورځول شوې دي.

### ۵.۱.۲ـ نیمه رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړې

د نیمه رسمي زده کړو ټینګار په لنډ مهاله ښوونيزو دورو باندې دی، تر څو کار بازار کې د اړتیا وړ مهارتونو لوړاوی وشي. همدارنګه د وزګارانو او د بې مهارته کارکونکو سره مرسته کوي، چې د کار بازار سره یو ځای شي، په دې برخه کې هغو خلکو ته، چې ډېر عمرونه لري ډېره پاملرنه کېږي. لنډمهاله ښوونيزې دورې له درېیو څخه تر دولسو میاشتو پورې وخت نیسي.

---

24 Terminalogy of European education and training policy. A selection of 100 Key terms، CEDFOP،
25 UIS، ISCED 2011(International Standerd Classification of education)، UNESCO،2012، Page 11

د موخې ډلې هم هغه خلك دي، چې د کانکور ازموینې د ورکړې، وړتیا نه لري او یا هغه خلك دي، چې د رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو په پروګرامونو کې ګډون نه لري.

د کار او ټولنیزو چارو وزارت یو له هغو ارګانونو څخه دی، چې په هېواد کې د نیمه رسمي زده کړو پروګرامونه وړاندې کوي، چې یاد وزارت په (۴۱) بابه ښوونیزو موسسو کې د (۶۸۰۰۰) زده کوونکو په منلو سره همدا ډول پروګرامونه په لاره اچولي دي.

د نورو مرستندویه وزارتونو په څېر د عامې روغتیا وزارت هم د روغتیا په برخه کې د ځانګړو مهارتونو د لوړاوي په موخه نیمه رسمي زده کړې پر مخ وړي. نا دولتي موسسې او خصوصي تمویلوونکي هم د تخنیکي او مسلکي زده کړو پروګرامونه د موخې بېلا بېلو ډلو لکه: د ښوونځي پرېښودونکو، د کسب لرونکو کارګرانو، له ښوونځي پاتې شویو او له کار بازار څخه ګوښه شویو ډلو ته د کارموندنې په موخه وړاندې کوي. دغه پروګرامونه د رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو په پرتله تر دې مهاله په منظم ډول نه دي وړاندې شوي او د دې پروګرام د فارغینو لپاره هېڅ ډول رسمي اعتباري سند په پام کې نه دی نیول شوی؛ تر څو مالومه شي چې کوم ډول مهارتونه یې خپل کړي دي.

د کار او ټولنیزو چارو وزارت، د مهارتونو د پراختیا لوی ریاست د حرفوي زده کړو د پراختیا او وړاندې کولو په برخه کې په ټول هېواد کې په نیمه رسمي ډول د مهارتونو د ودې او لوړاوي لپاره فعالیت کوي.

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د راپور سره سم،[۲۶] په (۱۳۹۸ هـ ل) کال کې په عمومي ډول د (۳۸۸۲۲) تنو کار زده کونکو لپاره، د کار زمینه چمتو شوې ده، چې له دې ډلې د (۱۵۰۰۰) تنو کار زده کونکو لپاره د مهارتونو د پراختیا لوی ریاست او د زده کړه ییزو مهارتونو د پراختیا ملي پروګرام له لارې په نېغ ډول زده کړې وړاندې کېږي او د (۲۳۸۲۲) تنو کار زده کونکو لپاره د ملي او نړیوالو مرستندویه موسسو له لارې د زده کړو زمینه چمتو شوې ده.

### ۵.۱.۳ـ نا رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړې (Informal TVET)

په افغانستان کې نا رسمي زده کړې په بېلا بېلو لارو، لکه: حرفوي زده کړې په ورکشاپونو، کارخونو او حرفوي هټیو لکه: ترکاڼي، آهنګري او داسې نورو کې وړاندې کېږي. دغه زده کړې کېدای شي، چې په دوو، لارو یانې د کار په چاپېریال، او استاد ـ زده کوونکي پروګرام کې د خصوصي تشبثاتو له لارې وړاندې شي. افغانستان کابو اووه سوه زره خصوصي تشبثات لري،[۲۷] چې په هغو کې نږدې (۱.۴) ملیونه تنه کار کوي. په منځني ډول، هر کسب او کار دوه ماهر کارکونکي لري، چې له دې دوو تنو څخه یې یو تن کار زده کوونکی دی. په پایله کې په ټول هېواد کې اووه سوه زره تنه په کار زده کړه بوخت دي. په (استاد ـ زده کوونکي) پروګرام کې د کسب او کار څښتن او د کار زده کوونکي د والدینو، سرپرست یا ضامن تر منځ شفاهي جوړجاړی اړین دی. د منځپانګې له مخې یادې زده کړې د ورکشاپ په ډول ترسره کېږي، او له وروستیو ازموینو وروسته یې پایله مالومېږي. (٪۷۸) کار زده کوونکي غواړي، چې د کار له زده کولو څخه وروسته شخصي سوداګري وکړي، (٪۲۰) یې غواړي چې د نورو لپاره کار وکړي او (٪۲) نور یې غواړي، چې ډېرې زده کړې ترسره کړي[۲۸].

د کار په چاپېریال کې د زده کړو، ظرفیت ښه وده کوي، چې د (استاد ـ زده کوونکي) پروګرام، د پیاوړتیا لامل کېږي. دغه ښوونیز پروګرام، باید خوندي، عصري او نوی وسائل شي. په اوسني وخت کې نږدې (٪۱۰) شرکتونونه او تشبثات د رسمي اقتصاد په برخه کې له ( استاد ـ زده کوونکي) پروګرام څخه ګټه اخلي، چې د کار پر مهال د نویو کارکونکو د مهارت کچه لوړېږي.

---

[۲۶] د کار او ټولنیزو چارو وزارت ویپاڼه، نېټه ۲۰/۱۲/۱۴۰۱

[27] Afghanistan Private rapid survey، Worldbank؛ March 2022، page 2

[۲۸] د المان د همکاریو اداره، ۱۳۹۳

د روښانتیا په موخه، زده کوونکي په څلورو برخو وېشل کیږي:

- هغه کار زده کوونکي چې د عمومي زده کړو په ښوونځیو کې درس وایي او هم مهاله د کار په چاپېریال کې له زده کړو څخه برخمن کیږي. دغه لویه او ځوانه ډله د کار زده کوونکو (۶۱.۸٪) (منځنی عمر: پنځلس کاله) برخه جوړوي.
- هغه کار زده کوونکي چې عمومي زده کړې یې پای ته رسولې دي، دغه ډله د کار زده کوونکو (۱۳.۵٪) برخه جوړوي، چې عمر یې په منځني ډول (۲۲.۶) کاله دی.
- هغه کار زده کوونکي، چې د عمومي زده کړو له ښوونځیو څخه پاتې شوي دي، دغه ډله د کار زده کوونکو (۱۲.۱٪) برخه جوړوي، او په منځني ډول (۲۰.۹) کاله عمر لري.
- هغه کار زده کوونکي، چې لیک او لوست نه شي کولای، دغه ډله د کار زده کوونکو (۱.۵٪)برخه جوړوي، او عمر یې په منځني ډول (۲۳.۱) کاله دی.

*اډانه ۳: د کار زده کړې زده کوونکو ډولونه (سرچینه: د آلمان د همکاریو اداره ۱۳۹۳)*

## ۵.۲ـ کاري واکونه او د پولو ټاکل

په اوسني وخت کې، څو اداري او بنسټونه د تخنیکي او مسلکي زده کړو چوپړتیاوې وړاندې کوي. که څېرې د کرنې نیمه رسمي زده کړې هم په کې شاملې شي، دغه موضوع د کرنې ځانګې په اړه هم صدق کوي. د لا ډېرې روښانتیا په موخه (۱ـ۳) جدول ته باید ځیر شو:

*جدول ۳: د همکارو موسسو له لوري د تخنیکي او مسلکي زده کړو وړاندې کول*

| د تخنیکي او مسلکي زده کړو موخې | وزارت/ بنسټ | اسانتیاوې او امکانات | روښانتیا |
|---|---|---|---|
| د کار او ټولنیزو چارو وزارت، د مهارتونو د پراختیا لوی ریاست، په ټول هېواد کې په نیمه رسمي ډول د مهارتونو د پراختیا لپاره هڅې همغږې کوي، او د نیمه رسمي زده کړو د وړاندې کولو لپاره اډانه چمتو کوي، ظرفیتونو ته لوړاوی ورکوي او د نویو کارونو لپاره ظرفیتونه جوړوي. | په کار او ټولنیزو چارو وزارت کې د مهارتونو د پراختیا ملي پروګرام. | د ګمارنې مهارتونو (۲۲۴) ملي سټنډردونه؛ د (۳۵) ښوونیزو نصابونو چمتو کول، د ګمارنې مهارتونو له ملي سټنډردونو څخه (۸۰۰) تنه ښوونکي له لیکلي لاربښود سره ګټه پورته کوي. | بېلا بېلې پروژې |
| د هېواد په روغتیایي نظام کې د طبي کار کوونکو تر منځ د واټن لږول او د کیفیت لرونکو چوپړتیاوو د وړاندې کولو په موخه د پیاوړو روغتیایي کار کوونکو زده کړې. | د عامې روغتیا وزارت | له (۱) تر (۳) کلن پورې (۹) بابه عامه او خصوصي ښوونیز مرکزونه | قابلګي، فارمسي (درمل پېژندنه)، د غاښونو پروتز، فزیوتراپي، رادیولوژي او نرسنګ |
| د هغو کارکوونکو زده کړې، چې په مهمو، وزارتونو کې د کلیوالي سیمو پروګرام د پراختیا مسؤلیت په غاړه لري. | د کلیو بیا رغونې او پراختیا وزارت کې د کلیو د پراختیا انستیټیوټ | | د لیسو فارغینو ته په دې موخه ښوونیزو برنامو وړاندې کول، چې د ټولنې مرستندویه وي او د لوړو زده کړو فارغینو ته د څو موخو لرونکي زده کړه.<br>د کلیوالي شورا ګانو له غړو سره د کارکوونکو او نورو ښوونیزو پروګرامونو مرسته. |
| د کار کوونکو د ظرفیت لوړاوي په موخه د داخل خدمت زده کړو لپاره د انستیټیوټ رامنځته کول، د څېړنې او پراختیا د هغو کادرونو لپاره، چې د کرنې پراختیا ملي اډانې (NADF) د موخو د تر لاسه کولو وړتیا ولري، اغېزمنې او ګټورې زده کړې | د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت | د کرنې د زده کړې د مرکزونو او ولسوالیو د پراختیا دفترونه | د ولایتونو او ولسوالیو ادارو له لوري د کرنې عملي زده کړو، د منظمې بیاکتنې او د مناسبو کرنیزو طرحو په ګټې اخیستنې سره د بزګرانو ظرفیت لوړول. |

له دې سره سره چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره یوازینی اداره ده، چې د نیمه رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړاندې کولو مسؤلیت لري.[۲۹] پوښتنه دا ده، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره څنګه کولای شي، له نورو مرستندویانو سره چې نیمه رسمي زده کړې ډېرې پر مخ وړي، اړیکې ټینګې کړي؟


د پولو ټاکل یا د واکونو مالومول،[۳۰] د همغږۍ څرنګوالی او د اغېزمنو او ګټورو ښوونیزو دورو وړاندې کول، هغه موضوع ګانې دي چې، باید روښانه شي. همدارنګه دغه ټکی هم ډېر مهم دی، چې د ولایت او ښوونیز مرکز په کچه مسؤلیتونه او واکونه روښانه او څرګند شي. ښه بېلګه يې کرنه ده، ځکه چې، د کرنې په مسلکي ښانګه (ښوونیز مرکزونه) کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري تر اغېز لاندې زده کړې ورکول کيږي. دې کار ته دا اړتیا ده چې، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره د کرنې په برخه کې ډېر تخصص تر لاسه کړي، تر څو له مرستندویه وزارتونو، لکه: کرنې وزارت او د کرنې په برخه کې نورو فعالو ښکیلو اړخونو سره د مرستو ډېروالي په موخه ونښلول او يو ځای شي.

د کرنې پراختیا نوې پالیسي، چې د ارزښت کړۍ (Value Chain) تر لاس لاندې کارکوونکو او بزګرانو ته نیمه رسمي زده کړې د کرنې زده کړییزو مرکزونو له لارې لوړوي، تر څو د کرنې په ښانګو کې د زده کړو او کار بازار اړتیاوو تر منځ ډېرې اړیکې رامنځته شي. همدارنګه دغه پالیسي مرسته کوي، چې د ډېرو مرستو په لار کې ځینې شته خنډونه لرې شي، دا په داسې حال کې ده چې، د کرنې ښوونیزو زده کړو د همغږۍ د رامنځته کولو برخې ته پاملرنه وشي. له دې سره، چې د کرنې مسلکي ښانګه په رسمي توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو په اډانه کې ده. د کرنې وزارت په څېر اداري او بنسټونه د کار بازار اړتیاوو سره په همغږۍ د دې ښانګو په پراختیا او لارښوونه کې نبغ په نبغه ښکیل دي.

[۲۹] د اداري واک دغه موارد هم په څنګ کې نيسي: (۱) د هغو دولتي مسلکي انسټيټونو تنظیم او مدی ریت، چې د نورو وزارتونو له لوري پرمخ وړل کیږي. (۲) خصوصي مسلکي ښوونځي او موسسې، (۳) د معلولو ځوانانو لپاره ښوونیزې موسسې او ښوونځي (۴) د نالوستو ځوانانو او هغو کسانو لپاره چې نه توانېدلي ښوونځي پای ته ورسوي د چوپړتیاوو وړاندې کول.

[۳۰] د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري لیدلوری او مسؤلیت په دو رسمي سندونو کې تشریح شوی دی، له هغو دوو سندونو څخه یو یې د پوهنې وزارت ستراتیژیک پلان او بل یې د ۱۳۹۲ تر ۱۳۹۷ کلونو لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو ملي ستراتیژي ده.

له ښکیلو اړخونو څخه د جوړ شوي همغږي سکټور په لرلو کې د ونډې روښانتیا او تفکیک یو ډېر لوی او مهم عامل دی، د ونډو له تفکیک وروسته د مسؤلیتونو تر سره کولو پولې هم باید و ټاکل شي. په ځانګړي توګه دغه ټکی هغه وخت ډېر اهمیت لري، چې موخه یې له نورو پروګرامونو او پروژو سره د رڼو او ټاکلو اړیکو ټینګښت او مرستو پراختیا وي. ځینې پولې موخې لرونکې دي؛ له دې ډلې څخه هغه چې په ښوونیزو نصابونو کې لیدل کیږي، د بېلګې په توګه د عمومي او تخنیکي او مسلکي زده کړو بېلا بېلې موخې. دا په داسې حال کې ده، چې ځینې پولې قانوني او ټولنیزې دي، لکه: د لومړنیو او منځنیو زده کړو د کارکوونکي او زده کوونکي **(لاندې شکل ته ځیر شئ)**




## په انځور کې د پولو کرښو تشریح

۱- د منځنیو او له هغو څخه د پورته زده کړو (لېسو او لوړو زده کړو ) تر منځ پولې

۲- ښوونیز نصاب ته په کتو سره د عمومي او مسلکي زده کړو تر منځ پولې

۳- د لوړو زده کړو په اړانه کې د پرمختللو او لومړنیو تخنیکي او مسلکي زده کړو تر منځ پولې

۴- د ټولنیز او حقوقي دریځ پر بنسټ پولې: د کار وزارت کار کوونکي یا زده کوونکي، له هغو ښاریانو ملاتړ کوي، چې د کارکوونکو په ټولنیز دریځ کې وي او اړتیا ولري او د خپل دکارموندنې او ګمارنې د بدلون لپاره زده کړې ووینې.

۵- د ښونیز نظام ترمنځ پولې: لوړې زده کړې پای ته رسېدلې دي.

په تېره کې د مسؤلیتونو او ونډې لرلو نه روښانتیا ته په کتو سره، د بېلا بېلو ادارو او بنسټونو د کړنو په بېلونه کې دغه نا ځرګندتیا او ابهام وو:

- عمومي او تخنیکي او مسلکي زده کړې (۲پولېزه اومرزي کرښه): د دیارلسم او څوارلسم ټولګیو ځینې ځانګې په عمومي زده کړو پورې اړه لري.
- تخنیکي او مسلکي زده کړې او د زده کړو دوام (۳ پولې او مرزي کرښه): دیارلسم او څوارلسم ټولګې د لوړو زده کړو په توګه په پام کې نیول شوې، خو د ټاکلو معیارونو نشتوالي ته په کتو سره د لومړنیو تخنیکي او مسلکي زده کړو په ډول باندې بدلې شوې دي.
- د کار وزارت او تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره (۵پولې او مرزي کرښه): د پوهنې وزارت او د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره یوه لوړې ته او د کار او ټولنیزو چارو وزارت بل لوري ته د نالوستو ځوانانو او کار زده کوونکو مسؤلیت اخیستلو په اړه یو له بل سره په یوه خوله نه دي. په شرکتونو او تشبثاتو کې د کار زده کوونکو ځای باید وټاکل شي. (ژبنی تړون لیک، د ماهرو کارکوونکو لږ تنخوا او د ځینو زده کوونکو عملي آزموینو ورکول).
- نا لوستي ځوانان زده کړو ته اړتیا لري. هغوی باید دوې لارې خپلې کړي:
  - د کار لپاره د عملي مهارتونو زده کړې
  - د ښوونځي د عمومي مضمونونو او نظري زده کړو تر څنګ د عملي مهارتونو زده کړې

اډانه ٤: د پولو ټاکل او د ونډې لرلو جلاوالي

## ۶. اړیکې او همغږي

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره، د مهمې ونډې په لرلو سره، چې وزارتونه او خصوصي برخه یې د رسمي، نیمه رسمي او نا رسمي زده کړو په وړاندې کولو کې لوبوي، د ونډې لرلو روښانتیا لپاره یوازې د پولو ټاکل بسنه نه کوي، مهمه دا ده، چې ګټه اخیستونکي او د تخنیکي او مسلکي زده کړو زده کوونکي، له ځانو کار زده کوونکو نیولې تر استادانو او هرې بلې ډلې پورې له خپل راتلونکي کسب او کار سره اړوند او همغږي ښوونیز چوپړتیاوې تر لاسه کړي. په دې موخه د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره په دې هڅه کې ده، چې د ښکیلو اړخونو یا د ښوونیزو چوپړتیاوو وړاندې کوونکو تر منځ ځو اړخیزې اړیکې ټینګې کړي. په دغه کار کې د نویو او عصري پروګرامونو او اړوندو عملي کارونو څخه د ډاډ په موخه د تصدیق پاڼو، اړیکو، کسب او کاري بشپړولو او نظري او عملي شبکو رامنځته کولو هر اړخیزه پېژندنه شامله ده.

دوې بېلګې او نمونې چې د یو ځایوالي او تړاو ښه والي ته اړتیا لري:

- د عمومي زده کړو او تخنیکي او مسلکي زده کړو تر منځ اړیکې: که څه هم دیارلسم او څوارلسم ټولګي د دولسم ټولګي زده کوونکو ته د ټکنیشن تر کچې(ISCO LEVEL) د ظرفیت لوړاوي په موخه جوړ شوي دي، خو د هغوی کړنې او پایله بل شی ده. له (۸۰٪) څخه د ډېرو زده کوونکو لپاره، چې په دیارلسم ټولګي کې داخل شوي دي، دغه زده کړې نوې دي، ځکه چې دوی له عمومي زده کړو څخه راغلي دي. دا په داسې حال کې ده، چې پاتې نور زده کوونکي له لسم ټولګي څخه په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې شامل شوي دي. سربېره پر دې ډېر زده کوونکي چې له عمومي زده کړو څخه په دیارلسم ټولګي کې داخلیږي، د ماهرو کار کوونکو په څېر د کار انګیزه نه لري، بلکې یوازې غواړي، چې لوړې زده کړې ولري. د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره په پام کې لري، چې دغه ستونزه د تخنیکي او مسلکي زده کړو په اړه د لنډ مهاله ښوونیزو دورو په دایرولو سره حل کړي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره به په منځ مهال کې دیارلسم او څوارلسم ټولګي بیا وګوري او لوړو ښوونیزو دورو ته به یې لوړ کړي، چې د ماهرو او څو کلن تجربه لرونکو کسانو د لاسرسي وړ وي. دا کار د دې لامل کیږي، چې د دې کسانو پوهه او مهارت د استاد یا ټکنیشن (۳کچې مهارت) د مهارت کچې ته لوړ شي.
- د تړاو او پولو ټاکلو لپاره بله برخه په نیمه رسمي ښوونیزو پروګرامونو پورې اړه لري، چې په هغو کې ځوانان اړینې وړتیاوې په دوو لارو د کار په چاپېریال کې د زده کړو او په شرکتونو او تشبثاتو لکه: د لیږد وسایطو ترمیم او نل غزونې(نلدوانی)کې د کار زده کوونکي په توګه تر لاسه کوي. د لوړې کچې په ښوونیزو مرکزونو کې په فزیک، میکانیک او ماشین برخو کې د نظري زده کړو او مهارتونو پرته تخصصي مهارت ته نشو رسیدلی، چې په لوړو ښوونیزو بنسټونو کې وړاندې شي. ماهر متخصصین په تشبثاتو او کارخونو کې د وضعیت د پر مختګ، د تولید ودې یا چوپړتیاوو په وخت کې له ستونزو سره مخامخ کیږي. دې مسئلې ته به کتو سره د زده کړو بل ډول د دې کار کوونکو لپاره وړاندې کیږي، تر څو خپل مهارتونه ډېر کړي. دغه کار په دیارلسم او څوارلسم ټولګي کې د ورو او سوکه بدلون او د لوړو زده کړو په موسسو باندې د هغو د بدلولو له لارې شونی دی، چې په هغو کې ماهر کار کوونکي د ټکنیشن او رسمي استاد وړتیاوې تر لاسه کړي.

*اړانه ۵: تړاو ته د اړتیا لرلو بېلګه*

## ۷. تخنیکي او مسلکي لوړې زده کړې

له دې سره سره چې په هېواد کې علمي زده کړې د ماستری او دکتورا تر کچې لوړې شوې دي، خو تخنیکي او مسلکي زده کړې د څوارلسم ټولګي د ډیپلوم په کچه پای ته رسیږي. چې دغه کړنه د پرمختللو هېوادونو د ښوونیز نظام سره په ټکر کې ده او په هغو کې مسلکي زده کړې د ماستری او یا له هغې نه تر لوړې کچې پورې دوام لري. د تخنیکي او مسلکي زده کړو لنډ واټن ځو زیانونه له ځان سره لري، چې مهم یې عبارت دي له:

۱) په اوسني وخت کې د کار ګمارونکي، د تخنیکي او مسلکي زده کړو ارزښت، له لوړو زده کړو څخه لږ او ټیټ ګڼي.

۲) له دې سره هم مهاله چې ډېری مسلکي زده کوونکي د تخنیکي کارونو لپاره لږه انګیزه لري، هغوی هم د ډېرو مسئلینو په څېر، تخنیکي او مسلکي زده کړې، لوړو زده کړو ته د رسېدو لپاره د نا مستقیمې لارې په توګه ویني.

۳) په ډېرو ښوونیزو مؤسسو کې د وروستیو نومرو پایله د پام وړ ټیټه ده، چې له ځانګې سره د زده کوونکو د لږې مینې او علاقې څرګندونه کوي او له لوړو زده کړو سره د یو ځای کېدو، مینه لري.

۴) په هماغه ډول چې د دې سند په څو ځایونو کې یادونه شوې، دیارلسم ټولګي ته د عمومي زده کړو زده کوونکو د ډېر جذب په دلیل، ډېر مضمونونه چې هلته تدریس کېږي، د کیفیت له اړخه، د تخنیکي او مسلکي زده کړو د لسم ټولګي په کچه دي. (لږ تر لږه دغه امر د کرنې په مسلکي ښانګه کې صادق او ریښتونی دی )

تر شپاړسم ټولګي او یا له هغه څخه پورته زده کړو لپاره د عملي زده کړو مرکز را منځته کول او په لاره اچول لاندې لاسته راوړنې موږ ته ډالی کوي:

۱) د کاري ځواک درلودل، چې په پرمختللي اقتصاد کې د فعالیت او ګټون لپاره چمتو وي.
۲) فارغین به په خپله ښانګه کې د کار او زده کړو په لټه کې وي، تر دې پورې، چې ښانګه بدله کړي او له فني ښانګو څخه بهر د لوړو مدارکو په لټه کې شي.
۳) تخنیکي او مسلکي استادان به عملي مهارت او مناسبه کاري تجربه، ترلاسه کړي.

یادې کړنې به، یوازې هغه وخت ګټورې وي، چې په دیارلسم او یا له هغه څخه په پورته ټولګیو کې د نوم لیکنې او منلو لپاره سخت معیارونه او ژمنې شتون ولري. چې پرته له دې، د دې ډول ښوونیزو مرکزونو په لاره اچول به د لږ کیفیته ښوونیزو موسسو او ښوونځیو له دوام څخه ډېر څه و نه لري.

## ۸ـ د تخنیکي او مسلکي زده کړو مدیریت

د (۱۳۹۷هـ ل) کال په غویي میاشت کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره تر بیا کتنې لاندې ونیول شوه، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت له پوهنې وزارت څخه بېل او په هېواد کې تخنیکي او مسلکي زده کړو ته د رسېدو، په موخه په یوه خپلواکه اداره باندې واوښته، چې دا مهال یاده اداره د هېواد په (۳۴) ولایتونو کې خپل ښوونځي او انسټیټیوټونه مدیریت کوي. دغه ښوونځي او انسټیټیوټونه درې ډوله ښوونیز پروګرامونه وړاندې کوي:

- دوه کلن ښوونیز پروګرام، چې د ښوونیزو مؤسسو په دیارلسم او څوارلسمو ټولګیو کې وړاندې کېږي.
- درې کلن ښوونیز پروګرام، چې لسم، یوولسم او دولسم ټولګي په کې شامل او د مسلکي لېسو په کچه دي.
- پنځه کلن ښوونیز پروګرام، چې (۱۰ـ ۱۴) ټولګي په کې شامل دي.

### ۸.۱ ـ د چوپړتیاوو وړاندې کول

دا چې په ټول هېواد کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د امکاناتو اوسنی وېش نا انډول دی او هېڅ منطقي بنسټ نه لري، نو؛ دغه موضوع روښانه ده، چې د ښارونو په مرکزونو او ولسوالیو کې د چوپړتیاوو وېش د نفوس د شمېر پر بنسټ نه دی. ډېر ځایونه لږ نفوس لري، چې له ډېرو عامه ښوونیزو چوپړتیاوو څخه برخمن دي، خو ډېر داسې ځایونه شته دي، چې نفوس یې ډېر دی، خو د تخنیکي او مسلکي زده کړو عامه چوپړتیاوې نه لري. له هغه ځایه چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره په هېواد کې د خلکو لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو چوپړتیاوې چمتو کوي، باید د ښوونیزو چوپړتیاوو د وېش لپاره یو موخه لرونکی منطق یا معیار په پام کې ونیول شي؛ تر څو د هغو پر بنسټ تخنیکي او مسلکي زده کړو ته لاسرسی، د مسلکي ښوونځیو د جوړېدو ځایونو اړتیا، او د هغه ښوونځیو د نفوس ټیټه کچه مالومه شي.

سربېره پر دې، د نویو لاربښوودونو چمتوکول او د اوسنیو لاربښوودونو پیاوړي کول، چې په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې دکړنو علمي بهیر روښانه او د ولایتي آمریتونو لپاره د ځینو مسؤلیتونو او چارو ورسپارلو شونتیا چمتو کوي.

### ۸.۲ـ د واکونو ورکړه او سپارل

په تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره کې پرېکړې ډېرې متمرکزې دي، نه یوازې مدیریتي کړنې لکه: پلان جوړونه، د بشري سرچینو او مالي چارو مدیریت، بلکې علمي کړنې لکه: د زده کوونکو منل، ښوونه او د ښوونیز نصاب څارل یوازې په کابل کې تر سره کېږي. په اوسني وخت کې په تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره کې ډېری لومړنۍ پرېکړې د ریاست مقام له

لوري تائیدېږي، په ټیټه کچه د واکونو نه ورکول، په ډېرو مهمو چارو کې د ځنډ لامل شوي دي. د منځنیو مدیرانو تر کچې د واکونو ورکړه، په کړنو او بهیرونو کې د هغوی د مالکیت او په کارونو کې د بریا او ډېر مسؤلیت منلو لامل کېږي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره او د هغې متمرکز بهیرونه باید په پلان جوړونه کې د بېلا بېلو سیمو اړتیاوو ته ښه ځواب ویوونکې وي. یوه ځواب ویوونکې اداره باید د پلان جوړونې د ځینو برخو مسؤلیت ټیټو کچو ته ورکړي او د سرچینو د ځانګړې کولو لپاره باید یوه مرکزي او معیاري اړانه وکاروي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري لپاره ډېره مهمه ده، چې په دې باندې و پوهېږي، هغه کارونه چې تر دې دمه د مرکز په کچه تر سره کېږي، د ولایت او تر ښوونیزو مرکزونو پورې یې د واک ورکړه شونې ده.

سربېره پر دې، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره، باید خپله د څارنې دنده له عملیاتي یا اجرایوي مدیریت څخه بېله کړي، چې اوس مهال یاده اداره دواړه دندې سرته رسوي. د څارنې د ونډې ترځنګ دغه اداره په نېغ ډول د کابل د مسلکي ښوونیزو مؤسسو او ښوونځیو په ورځنیو چارو (د تنخوا ورکړه، د لومړنیو توکو تدارک او د لګښتي مواردو لګښتونه او کرایې ورکړه) کې ښکېله ده او د ولایتي برخو دندې هم په غاړه لري. بنسټي پیاوړتیا او کړنو ته په پام سره، د جوړښت بیا کتنه، د اداري لپاره دا شونتیا چمتو کوي، چې خپلو نویو ژمنو او دندو ته رسېدنه وکړي؛ روڼتیا، پایلو او خپل دریځ ته د کار نړۍ او زده کوونکو په منځ کې لوړاوی ورکړي.

### ۸.۳ ـ پلان او پالیسي جوړول، څارنه او ارزول

مخکې له دې چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره خپل ستراتیژیک پلان چمتو کړي، هر کال به یې عملیاتي پلانونه او بودجه د پلي کولو لپاره ولایتونو ته استوله. د ځواب ویوونکو ښوونیزو چوپړتیاوو د وړاندې کولو او له اداري څخه د ډېر ملاتړ په موخه باید د پلان جوړونې، پلي کونې او ارزونې لپاره مشورتي لارې رامنځ ته شي. د راپور ورکولو پیاوړتیا او د څارنیزو چارو ترسره کول کولای شي، همدا ډول د پیل ټکی وي.

د یونسکو په مرسته د مالوماتو د مدیریت سېستم (TVET MIS) رامنځته شو، تر څو له علمي او مدیریتي اړخه د پروګرامونو د کړنو څرنګوالی مالوم شي. له دې ټولو سره سره له تېرو پنځو کلونو را په دېخوا، شته مالومات او شمېرنې ډېرې لږې او بې کیفیته دي. د څارنې لارې له ښوونیزو موسسو او ښوونځیو څخه د راپوروونو تر لاسه کول، چې ولایتي مسئولین او اړونده غړي (په کابل کې) له هغو څخه کار اخلي، باید لږ بدلون ومومي، پوهنیز او معیاري لارو ته لوړاوی وکړي. دغه کار د عمومي څېړنې او پرتلې زمینه چمتو کوي او د اداري مرکزي مالوماتو او د رښتینې وضعیت پېژندنې ته ښه والی وربښي.


| |
|---|
| یونسکو له (۱۳۸۹هـ ل) کال را په دېخوا د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري سره د ستراتیژۍ د پراختیا او پلي کولو په برخه کې مرسته کوله، د مالوماتو سېستم د مدیریت په لاره اچولو ملاتړ یې کاوه او د تخنیکي او مسلکي زده کړو د څېړنو د ملي مرکز په رامنځته کولو کې یې ونډه اخیستې ده. (د تخنیکي او مسلکي زده کړو لپاره د یونسکو نړیوال مرکز). همدرانګه، یونسکو د تخنیکي او مسلکي زده کړو له اغیزمن کیفیت څخه د ډاډ د ترلاسه کولو په موخه د ظرفیتونو د لوړولو لپاره فعالیتونه ترسره کړي دي؛ تر څو د کار بازار په تړاو د څېړنو د ترسره کولو لپاره د زده کړو وړتیاوې ډېرې او نا رسمي برخو ته هم د ښوونیزو توکو لمن پراخه کړي. |

*اړانه ٦: له مالوماتي مدیریت سیستم (TVET MIS) څخه د یونسکو ملاتړ*

په اداره کې د ځواب ویلو، راپور ورکولو او څارنې اوسنی مېتود اغیزمن نه دی، د پلان شویو کړنو د څارنې لپاره د یوې پیاوړې لارې په ګوته کول، چې له ښوونځیو څخه د ولایتي مسئولینو او پوهنیز غړو منظمې لیدنې په کې شاملې او د څارنې راپورونه له ځان سره ولري، د کاري پروګرامونو د ترسره کولو، پرېکړه کولو او ځواب ویلو لپاره منطقي بنسټ را منځته کوي. دا په داسې حال کې ده، چې د څارنې او راپور ورکولو په برخه کې د جوړښت نوی والی یوه اړینه کړنه ده.

## ۹ـ په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې ګډون او د (ژوند له شرایطو سره) د هغو اړیکې

په تېرو کلونو کې تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې، تخنیکي او مسلکي زده کړو ته د زده کوونکو د پراخ لاسرسي، ښوونیزې کچې د لوړاوي او په ښوونځیو کې د ډېرو تجهیزاتو د چمتو کولو په برخه کې، مهمه ونډه اخیستې ده، چې دغه ټکې د زده کوونکو په پام وړ لاسته راوړنو کې د هغه د پایلو یا عملي چارو په اړه غبرګون لري. د تخنیکي او مسلکي زده کړو د زده کوونکو شمېر ډېر او په (۱۴۰۱هـ ل) کال کې (۵۶۶۷۶) تنو زده کوونکو او زده کړیالانو ته رسېدلی دی، چې د هغوی (۱۳.۱٪) برخه یې نجونې جوړوي. همدارنګه د استادانو شمېر د(۱۳۹۷هـ ل) کال نه تر (۱۴۰۱هـ ل) کال پورې له (۲۶۹۷) تنو څخه (۲۸۸۸) تنو ته لوړ شوی دی.




*شکل ۶: له (۱۳۹۷هـ ل) کال څخه تر (۱۴۰۱هـ ل) کال پورې د زده کوونکو، استادانو او ښوونیزو مرکزونو شمېر*

له (۱۳۹۷هـ ل) کال نه تر (۱۴۰۱هـ ل) کال پورې د ښوونځیو او مسلکي موسسو شمېر له (۳۰۱) بابه څخه تر (۳۷۶) بابه پورې رسېدلی دی. چې د دې ښوونیزو مرکزونو له ډلې څخه، ځینې یې له کرایي او ټولیزو ودانیو او امکاناتو څخه ګټه اخلي، او د ښوونځیو له ودانۍ او امکاناتو څخه هر وخت په اغېزمنه او مناسبه توګه کار نه اخیستل کېږي. دا په داسې حال کې ده، چې ډېر شمېر زده کوونکي کولای شي، له شته امکاناتو څخه، برخمن شي؛ خو بیا هم د زده کوونکو د منلو د ډېروالي په برخه کې خنډونه شته، چې عبارت دي له:

- تر ښوونیزو مرکزونو پورې ډېر واټن او د لیلیو لږوالی.
- د عملي مهارتونو د لوړاوي له مخې، د کاري چاپېریال او د ژوندانه له شرایطو سره د ښوونیز نصاب پیکه اړیکې.
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو بڼه او انځور، چې د والدینو او اداري مسئولینو د لید له مخې، ټیټ ځای لري، هغوی له تخنیکي او مسلکي زده کړو څخه عمومي او لوړو زده کړو ته ډېر ارزښت ورکوي.

| |
|---|
| **تخنیکي او مسلکي زده کړې، لوړو زده کړو ته د شاملېدو د لارې په توګه** |
| له دې سره سره چې د کرنې مسلکي لېسو تر (۱۰ـ۱۲) ټولګیو پورې زده کوونکي له خپلې ځانګې سره اړیکې ټینګوي، خو د کرنې ښوونیزو مؤسسو د (۱۳ـ ۱۴) ټولګیو زده کوونکي داسې نه دي. له نیکه مرغه د کرنې ښوونیزو مؤسسو له زده کوونکو څخه نږدې (۲۰٪) له کرکیلې سره لېوالتیا لري؛ خو بیا هم دغه نا انډولي، د دې لامل شوې، چې ډېر شمېر زده کوونکي په لوړو زده کړو کې د شته کارونو په لور مخ واړوي او د عمومي زده کړو له لېسو څخه فارغینو ته، چې د هر ډول کارونو وړاندېز وشي، هغه مني. نو په همدې دلیل هغه کسان، چې درې کاله یې له (۱۰) څخه تر (۱۲) ټولګیو پورې زده کړې ترسره کړې، کله چې د کرنې دیارلسم ټولګي ته داخلیږي، له داسې کسانو سره ټولګیوال شي، چې له عمومي زده کړو څخه راغلي او هیڅ مخینه نه لري. د هغه زده کوونکو شمېر چې له کرنې سره هیڅ بلدتیا نه لري ډېر دی، د دیارلسم ټولګي ډېری ښوونیز توکي همغه د لسم ټولګي ښوونیز مواد دي، تر څو له پیل څخه ټول شیان زده کوونکو ته ور زده کړي. دغه کړنه د هغو زده کوونکو لپاره، چې د مسلکي لېسې څخه فارغ شوي دي د درسونو د تکرار او ښوونیز کیفیت د ټیټوالي لامل کیږي. |

*اډانه ۷: تخنیکي او مسلکي زده کړې، لوړو زده کړو ته د نا مستقیمې لارې په توګه (د کرنې له مسلکي ځانګې څخه بېلګه)*

د بېلګې په توګه د کرنې مسلکي ځانګه (یا کېدای شي په ټولو تخنیکي او مسلکي زده کړو) کې د انډول او چمتو لاسرسي ډېر والی، د کرنې په ځانګه کې د ښوونیزو امکاناتو د عادلانه وېش لامل شي، چې په اوسني وخت کې د بحث وړ موضوع ده. د ژوندانه له چاپېریال سره د دې ځانګې له اړیکو څخه د ډاډ لپاره ښه ده، چې د کرنې ډېری ښوونځي په کلیوالي سیمو کې شتون ولري.

## ۱۰ـ د موخې ډلې

له هغو لاسته راوړنو سره چې د زده کوونکو شمېر د ډېروالي په برخه کې تر لاسه شوې دي، د موخې ډېرې لوې ډلې تر دې دمه نه دي مخاطب شوې. د عمومي زده کړو په (۱۰ـ ۱۲) ټولګیو کې د یو ملیون[۳۱] څخه ډېر زده کوونکي درس لولي، نږدې اووه سوه زره[۳۲] تنه په کار بازار کې د کار زده کوونکو په توګه شتون لري او د نړیوال بانک د راپور پر بنسټ ۶۳ سلنه[۳۳] هغه کسان چې، عمر یې له ۱۵ کلنی پورته دی نالوستي دي. دې راپورونو ته په کتو، په هېواد کې تخنیکي او مسلکي زده کړو، د موخې د ټولو ډلو څخه یواځې ډېر لږ شمېر ترخپل پوښښ لاندې نیولی دی.

### د تخنیکي او مسلکي زده کړو سره د لږو ځوانانو د یو ځای کېدو، څو لاملونه:

په هېواد کې د مسلکي ښوونځیو رامنځته کول له شپاړسو کلونو وړاندې پیل شوي دي، خو تر دې دمه په هماغه لومړنیو پړاوونو کې دي، د ښوونځیو پراختیا باید هم ټولو ځوانانو ته د ارت او پراخ لاسرسي د زمینې چمتو کولو له مخې او هم د ځانګړو ډلو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د ځانګو د بیا کتنې له مخې لوړاوی وکړي.

په هېواد کې د ( استاد ـ زده کوونکي)دودیز پروګرامونه له ډېر پخوا، راهیسې شته.[۳۴] له ځوانو کار کوونکو څخه یې نیږدې (۲۰٪) خپلې کاري وړتیاوې له دې لارې تر لاسه کوي. نږدې (۷۵٪) ماهرو کار کوونکو د فلز کارۍ او (۹۶٪) کارکوونکو خپله کسب د لېږدونکو وسایلو د رغولو له لارې په شرکتونو او چاپېریال کې د کار زده کړې له لارې زده کړې دی.[۳۵] رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړې نه دي توانېدلې، چې د دې ډلې له وګړو سره اړیکه ټینګه او د هغوی ښوونیزې اړتیاوې مالومې کړي او د دوی لپاره نرم او انعطاف منونکي ښوونیز شرایط چمتو کړي.

هغه ځوانان چې د خپلو کورنیو د ملاتړ په موخه، د عایداتو د لاسته راوړلو، لپاره په کورنې کسب او کار بانديې بوخت دي، د کار په جریان کې د کارونو د اړتیا وړ مهارتونه لاسته راوړي. هغوی په بشپړه توګه نه شي کولای، چې د رسمي تخنیکي او

[۳۱] دزده کوونکي احصائیه، پوهنې وزارت (۱۴۰۰ هـ ش کال)
[32] Afghanistan private sector rapid survey, Worldbank, March 2022
[33] World Bank (2022)
[34] GIZ، 2014
[35] OEDA، Analysis 2017

مسلکي زده کړو ښوونځیو ته ولاړ شي، د هغوی په بدل کې په لنډ وخت کې له ځانه د زده کړو (خود آموز) په توګه کارونه زده کوي او هم مهاله د کورنیو کارونو په ترسره کولو او د ماشومانو په روزلو سره د خپلو کورنیو ملاتړ کوي.

د تخنیکي او مسلکي په ښوونځیو کې د لیک او لوست په کچه ګډون، په کلتوري ارزښتونو او کورني اقتصاد پورې اړه لري. تخنیکي او مسلکي زده کړو ته د لاسرسي موخه د هغو وړتیاوو، ترلاسه کول دي. په دې مانا، چې لومړی به د موخې ډلې ته نېږدې وي، دویم به په داسې چاپېریال یا اداره کې نه وي، چې د ښځو یا کومې بلې ډلې پر وړاندې تبعیض یا زور زیاتی روا بولي.

ډېرو ښاریانو ته د لاسرسي ډېرول، د نورو مواردو تر څنګ، د زده کوونکو د ژوند او کلتوري اړتیاوو د پوره کولو په موخه، د ښوونیزو، پروګرامونو د وړاندې کولو لپاره نرم او انعطاف منونکو مېتودونو ته اړتیا لري. له دې ټولو سره په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې د ګډون ډېروالي په برخه کې بل مهم ګام، د رسمي او نا رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو تر منځ همغږي او یو لاس کېدل دي. هغوی باید د زده کوونکو لپاره د زده کړو لارې روښانه کړي؛ تر څو د دوی د فني وړتیاوې په رسمیت وپېژندل شي او د کار ګمارونکو او کسب او کار خاوندانو د تائید او منلو وړ وګرځي.

تخنیکي او مسلکي زده کړې د موخې (۱۰) ډلې لري، چې عبارت دي له:

۱) زده کوونکي او زده کړیالان؛
۲) وزګاران (د کار په لټه کې، کار زده کوونکي) ؛
۳) کار پنځوونکي، استاد کاران او کارګران؛
۴) له ښوونځیو او لوړو زده کړو څخه پاتې شوي؛
۵) د ځانګړو اړتیاوو لرونکي (معلولین) ؛
۶) نا لوستي؛
۷) بندیان؛
۸) بېرته راستنېدونکي؛
۹) درمل شوي روږدي؛
۱۰) د مجاهدینو په ګډون اسلامي امارت کار کوونکي.

*جدول ٤: د همغږو رسمي او نیمه رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو لرولو لپاره د موخې ډلې*

| | ځوانان | ډېر عمر لرونکي | استادکاران/ متخصصين | ځانګړې ډلې |
|---|---|---|---|---|
| تشریح | • زده کړو ته لېواله ځوانان: چې اوس په مسلکي ښوونځیو کې درس لولي (له تخنیکي او مسلکي زده کړو څخه ګټه اخیستونکي او هغه ځوانان چې د تخنیك او مسلك د زده کولو سره مینه لري.<br>• وزګاران: د (۱۵) او (۲۴) کلونو تر منځ عمر لرونکي ځوانان، چې په رسمي اقتصادي کارونو کې ونډه نه لري او وزګاره دي. | • کار زده کوونکي: د ( استاد- زده کوونکي)پروګرام د هغو ځوانانو لپاره دی، چې د کارموندلو په پار د مناسبو کاري مهارتونه زده کوي او دا تر ټولو غوره او د لاسرسي وړ مېتود دی.<br>• بندیان: لوړ عمره مجرمینو او بندیانو ته، چې ډېری یې نارینه دي، په وړتیا ببنلو کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو ونډه.<br>• بېرته راستنېدونکي: چې د جګړو او طبعي وباګانو او آفتونو له امله بې ځایه شوي وي او هغه خلك چې له ګاونډیو هېوادونو څخه بېرته راستانه شوي وي. | • کار رامنځته کوونکي او متشبثین د کسب او کار د پیل لپاره په پوره اندازه نظري زده کړې (۱۲ ټولګي یا له هغه پورته)، پوهنیز مهارتونه لري او غواړي، چې نور پرمختګ هم ورکړي.<br>• د اسلامي امارت کار کوونکي، چې لږ مهارت لري او غواړي، خپلې نظري زده کړې او عملي مهارتونه ډېر کړي، تر څو ماهر شي.<br>• استاد کاران، چې غواړي د ډېرې تجربې په لرلو سره خپلو نظري زده کړو او عملي | • له ښوونځیو پاتې ځوانان، چې نه د عمومي زده کړو ښوونځیو ته ځي او نه هم د تخنیکي او مسلکي.<br>• د ځانګړو اړتیاوو لرونکي کسان: هغه ځوانان، چې له جسمي یا رواني معلولیت سره لاس او ګرېوان دي او ځانګړو مسلکي زده کړو او مهارتونو ته اړتیا لري.<br>• نا لوستي: هغه ځوانان چې دنده لري یا وزګار دي، خو د لیکلو او لوستلو وړتیا نه لري. |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | | • مجاهدین: هغه خلک چې وړاندې یې خپل کورونه پرې اېښي او په جهاد او مبارزو باندې بوخت وو، د پت او عزت وړ کارونو ته اړتیا لري.<br>• روږدي: هغه کسان، چې د روږدې کېدو له امله کسب او کار او مهارت نه لري، له درملنې وروسته کار او کسب او مهارتونو ته اړتیا لري. | مهارتونو ته ښه والي ور وبښي. (هغه تازه کړي) | |
| د لیک او لوست کچه | د نهم ټولګي فارغین چې ښوونځی پرېږدي. | د نهم ټولګي فارغین چې ښوونځی پرېږدي. لږ لوستي | د نهم او دوولسم ټولګیو ترمنځ | نا لوستي او لږ لوستي. |
| محدودیت ونه او د ګډون خنډونه | • د معلولینو په اړه کلتوري محدودیتونه.<br>• د تګ او راتګ ډېر واټن.<br>• د اړتیا وړ آسانتیاوې او امکانات. | • کار زده کوونکي: د کار زده کړې په پروګرام کې د تخنیکي او مسلکي او خصوصي برخې د وړاندې کوونکو تر منځ د همغږۍ نشتوالی.<br>• اقتصادي او د وخت له امله فشار.<br>• بندیان: په بندخونو کې د سختو مقررو شتون.<br>• بېرته راستنېدونکي: د دوی لپاره ځانګړي مهارتونه، نه دي ټاکل شوي. کورونو ته د دوی د بېرته راستنېدو وخت، د تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړاندې کولو مناسبه دوره نه ده. | • له کار را منځته کوونکو او متشبثینو څخه د ښوونیزو مرکزونو ډېر واټن.<br>• د شخصي کسب او کار د پیل لپاره مالي سرچینو ته لاسرسی نه لرل. (Subsidy)<br>• امنیتي اندېښنې.<br>• اسلامي امارت کار کوونکي: د سرچینو او د هغو د اړوندو مهارتونو شتون. | • ځانګړو امکاناتو ته د معلولینو لاسرسی.<br>• کلتوري خنډونه.<br>• د معلولینو تګ او راتګ ستونزو ته په کتو تر ښوونځیو پورې ډېر واټن.<br>• د معلولینو (کڼو او ړندو ) لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو یوازې (۱۶) بابه ښوونیز مرکزونه فعاله دي او د معلولیت نور ډولونه تر پوښښ لاندې نه دي نیول شوي. |
| زده کړه یېز حالت | ټول وخت: د سهار له خوا، له غرمې وروسته، د شپې، ټوله اونی یا ټول ښوونیز کال.<br>نیمايي وخت: په اونی کې درې ورځې.<br>فصل وار: د ژمي فصل | کار زده کوونکي: په بېلا بېلو دورو کې مسلکي زده کړې، ټول وخت: د سهار له خوا، له غرمې وروسته، د شپې، ټوله اونی یا ټول ښوونیز کال. نیمايي وخت: په اونی کې درې ورځې.<br>بندیان: په بندخونو کې د ملامتیا او محکومیت وخت دورې ته په کتوسره، لنډ مهاله ښوونیزې دورې کولای شي، د ټول وخت/ نیمايي وخت په توګه وي.<br>بېرته راستنېدونکي: لنډ مهاله ښوونیز پروګرامونه کولای شي د ټول وخت/ نیمايي وخت په توګه وي. | مسلکي لوړې زده کړې او لنډ مهاله ښوونیزې دورې. | • نیمايي وخت: په اونی کې درې ورځې.<br>فصل وار: د ژمي فصل. |
| د ژوند کولو ځای | (۵۰٪) ښاري او (۵۰٪) کلیوالي سیمې | ډېری یې په ښارونو کې ژوند کوي. | ډېری یې په ښارونو کې ژوند کوي. | ډېری یې په ښارونو کې ژوند کوي. |
| عملي زده کړه یېز ځای | په ښوونځي کې زده کړې.<br>په شرکتونو او تشبثاتو کې د کار زده کړې تر څنګ په ښوونځي کې زده کړې. | • کار زده کوونکي کولای شي، په عملي توګه په اسلامي امارت او خصوصي بنسټونو کې کار وکړي.<br>• بندیان د بند خونو د ننه.<br>• راستنېدونکي کولای شي، په عملي توګه په امارتي ادارو یا خصوصي بنسټونو کې کار وکړي. | د عملي زده کړو پوهنتون، عامه او خصوصي برخو بنسټونه. | په کور کې زده کړې.<br>د کار په چاپېریال کې زده کړې. |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د زده کولو موخه | • د (۱۲) ټولګي د شهادتنامو تر لاسه کول.<br>• کارکوونکی/ ماهرکارکوونکی.<br>• د عملي زده کړو پوهنتون.<br>• کارکوونکی/ نیمه ماهر کارکوونکی (ISCO) کچه. | د مناسب کار لپاره د ظرفیت لوړول یا د یو پتمن کار پر مخ وړلو لپاره د واړه کسب او کار پیل. | هغه استادان چې د واړه کسب او کار د پیل مینه لري یا لویې سوداګرۍ ته واړه کسب او کار د لوړاوي غوښتونکی وي. | • لړ لوستي<br>• کارکوونکي/ د لږ مهارت کار کوونکي. |

## ۱۱ـ په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې د کیفیت توکي

### ۱۱.۱ـ ښوونکي او د تدریس څرنګوالی (کیفیت)

وړتیا لرونکو استادانو ته د مسلکي زده کړو، وړاندې کول اړین دي، تر څو و کولای شي، چې خپلو زده کوونکو ته عملي زده کړې او مهارتونه په ښه توګه ور انتقال کړي. مسلکي استادان باید په ښوونیز چاپېریال کې د اړوندې څانګې سره علمي او ټکنالوژیکي وړتیاوې او همدارنګه د عملي کار د سرته رسولو وړتیا هم ولري. شمېرنې رابنيي، چې په (۱۴۰۱هـ ل) کال کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د استادانو شمېر (۲۸۸۸) تنو ته رسېدلی دی، چې له دې ډلې ښځه یې (۱۶.۷٪) ښځینه دي.

اوسم مهال، د تخنیکي او مسلکي زده کړو استادان (۸٪) د ماسټرۍ، (۷۷٪) د لسانس او پاتې (۱۵٪) نور یې د بکلوریا او فوق بکلوریا تر کچې تحصیلي زده کړې لري. دغه شمېرنې ښیي، چې د (۸۰٪) څخه ډېر یې د مسلکي استادۍ ښوونیز معیارونه پوره کړي دي. د استادانو د وړتیاوو د مالومولو په موخه ارزونې ښودلې ده، چې (۸۵٪) ښوونکي د تدریس لپاره اړینه وړتیا نه لري. په دې مانا چې د مسلکي ښوونکو د پېژندنې، تعریف او د دوی د ګمارنې پراوونه د کار بازار اړتیاوو ته په پام سره اغېزمن نه دي؛ له همدې کبله د مسلکي ښوونکو وړتیاوې باید وپېژندل شي او د دوی د ګمارنې معیارونو ته بیا کتنه وشي.

> **د کرنې څانګې لپاره د کیفیت پانګونه**
>
> د تېرو څو کلونو په جریان کې، په (۱۰) او (۱۲) ټولګیو کې د کرنې څانګې د لوړاوي لپاره د پام وړ ګامونه پورته شوي دي، چې لاندې توکي په کې شامل دي:
>
> - د کرنې د مسلکي لیسو لپاره د وړتیاوو پر بنسټ د ښوونیز نصاب ترتیب او پراختیا؛ په نوي نصاب کې د لومړني (ودې په حال کې) تولید د عناصرو تر څنګ، د کرنې نوي عناصر د فعالیت په توګه او د ارزښت کړی (value chain) پربنسټ شامل دي. د یوه بشپړ نصاب د لرلو لپاره، نوي کتابونه او د ښوونکو لارښوودونه په دواړو ملي ژبو چمتو او ترتیب شوي دي. نوی نصاب د هالنډ د واګنینګین (Wageningen) پوهنتون په مرسته او همکارۍ ترتیب شوی دی.
> - د خدمت په بهیر(داخل خدمت) لنډې زده کړې د هغو استادانو لپاره چې لږ تر لږه یې په درې کلنه ښوونیزه دوره کې تدریس کړی وي، دغه زده کړې د نویو موضوع ګانو او مضمونونو له پېژندلو څخه ډېلې دي، چې ښوونکو ته په تدریس او عملي مهارتونو باندې د برلاسي په موخه ورکول کېږي.
> - د نوي ښوونیز نصاب د بشپړ پلي کولو لپاره ټول د اړتیاو وړ وسایل او تجهیزات هغو ۱۲۰ بابه ښوونځیو ته ورکړل شوي دي، چې نوموړي وسایل یې نه درلودل. شواهد په ډاګه کوي، چې نوی ښوونیز نصاب، له داخل خدمت زده کړو سره، د کرنې څانګې په کیفیت لوړولو کې مهمه اغېزه لري. په ټاکلې توګه له عملي زده کړو څخه، چې دوی لېدلي دي د زده کوونکو اخیستنه د پام وړ ښه شوې ده، له ټوله مهمه دا، چې هغه مسئله پیاوړې کوي، چې په هغې سره، د شته ښوونیزو مرکزونو پیاوړتیا ته په کتو پرمختګ کېږي.

*اړانه ۸: موردي نمونه: د کرنې مسلکي څانګې ښوونیز نصاب پراختیا*

باید په دې باندې پوه شو، چې د زده کړې مانا یوازې، زده کوونکو ته د نظري او تخنیکي پوهې انتقال نه دی؛ بلکې پوهه دې ته هم اشاره کوي، چې ځوانان ژوند کولو ته څه ډول چمتو کړي. دغه کړنه په هغه نړۍ کې، چې په بیړه سره بدلون کوي، په دې مانا ده، چې د زده کوونکو لپاره باید د دایمي زده کړو د اړتیا وړ مهارتونه وړاندې شي. هغوی ته د نیوکې د مفکورې وړتیا ور زده کړل شي، د مهارتونو پېژندنه او له اړوندو مالوماتو څخه اخیستنه تدریس شي، په چاپېریال کې له چټکو بدلونونو سره د

جوړېدو وړتیا، چې زده کوونکو ته د راتلوونکو بدلونونو وړاندوینه ور زده کوي. نو په همدې بنسټ استادان باید له یو څخه د ډېرو متخصصینو زده کړې ووینې او وڅاري، دوی باید هغه مربیان وي، چې د هېوادوالو په روزنه کې پیاوړې او مسئولانه ونډه ولوبوي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره، هر کال ډېر شمېر حق الزحمه او لږ شمېر قراردادي استادان ګماري، که چېرې دغه استادان له بازار یا خصوصي برخې څخه د مرستې په پار راوبلل شي او عملي تجربې، چې په ښوونځیو کې ډېرې اړینې بلل کېږي، له ځان سره ولري، هغه وخت ښوونځي او مسلکي موسسې کولای شي، چې له دې ډول ښوونکو څخه د غوره زده کړو او د زده کوونکو د عملي کارونو لپاره ګټه واخلي. که چېرې دوې لارې شتون ولري، چې یوه یې له ښوونکو څخه د یوه کادر، رامنځته کېدل وي، چې نظري زده کړې او هم عملي مهارتونه ولري او بله یې له ښوونکو څخه د یو کادر رامنځته کول وي، چې د نظري زده کړو او عملي کارونو په برخه کې ډېر تخصص ولري، هغه وخت په اوسنیو شرایطو باندې دویمه لار عملي کېږي او په اوسني وخت کې په آزمایښتي ډول تر سره کېږي.

د تدریس کیفیت هم ( استادـ زده کوونکي) له مېتود څخه اغېزمن شوی دی. د ښاري او کلیوالي سیمو د ډېری ځوانانو لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړاندې کولو په برخه کې ناسمې پرېکړې، د دې لامل شوې دي، چې په کوچنیو ښوونځیو کې، د ښاري ښوونیزو مؤسسو په پرتله د ښوونکو نا انډول وېش ترسره شي. د (۱۴۸) مسلکي ښوونځیو له ډلې څخه، (٪۱۰) یې لوی ښوونځي جوړوي، چې په منځني ډول (۲۳۱) تنه زده کوونکي لري، په داسې حال کې چې (٪۱۰) یې کوچني ښوونځي دي، چې په منځني ډول (۲۴) تنه زده کوونکي لري، د تخنیکي او مسلکي زده کړو له نیمایي څخه ډېر ښوونیز مرکزونه، له (۶۰) تنو څخه لږ زده کوونکي او په منځني ډول (۶) تنه استادان لري. هر یو ښوونځی په منځني ډول د اداري او خدمتي کار کوونکو په ګډون (۱۱) تنه کار کوونکي لري.[۳۶] دې څرګندونو ته په کتو په ښوونځیو کې د زده کوونکو په پرتله د استادانو ناانډول وېش ترسره شوی دی؛ تخنیکي او مسلکي زده کړو ته ښه لاسرسی، کلیوالي او ښاري سیمو ته د چوپړتیاوو وړاندې کول او د امکاناتو د عادلانه وېش د اغېزمنتیا په پام کې نیولو سره، متوازنوکړنو ته اړتیا لري. د رڼو معیارونو پربنسټ د عملیاتي لارښوودونو پراختیا نورې تجزیې او شنني ته اړتیا لري؛ تر څو د پالیسي جوړونکو پرېکړو ملاتړ وکړي، چې څرنګه د انډولي او کیفیت دغه کتنې له بودجې او حاصلاتو معیارونو سره همغږې شي.

## ۱۱.۲ـ ښوونیزې ځانګې

د ښوونیزو موسسو او ښوونځیو هره ځانګه باید د نني نړۍ د کار بازار له اړتیاوو سره سمون ولري.

په تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره کې اوس مهال د (۶۵) په شاوخوا کې اصلي ځانګې شته. د ځانګو د شمېر ډېروالي، په تخنیکي او مسلکي زده کړو باندې ډېر فشار راوړی او د درسي توکو او وړتیاوو پر بنسټ د نصابونو د برابرولو په لاره کې خنډ ګرځېدلې دي. د (۶۵) ښوونیزو ځانګو ارزونې، یو شمېر جوړښتي مسایل پېژندلي، چې باید هغو ته رسېدنه وشي.

۱- ښوونیزې ځانګې په بازار کې د بوختېدنې اقتصادي جوړښت نه ښکاره کوي.
۲- یوازې څو ښوونیزې ځانګې په تخصصي ډول وړاندې کېږي.
۳- اړونده ښوونیزې ځانګې په یوه سکتور کې نه دي ځای پرځای شوې، یانې سکتوربندي شوې نه دي، لکه: (بېوالي، اګرانومي، ځنګلوالي، کولای شي د کرنې تر سکتور لاندې ډلبندي شي.)
۴- داسې ځانګې شته، چې لږ شمېر زده کوونکي جذبوي.

[۳۶] په تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره کې پر زده کوونکو د ښوونکو منځنی نسبت په سیمه کې له شته معیارونو او عمومي زده کړو سره لږ پرتله شوی دی. د دې هېواد عمومي زده کړو په نظام کې د هرو ۳۰ تنو زده کوونکو لپاره یو ښوونکی شته دی.(که څه دغه منځنی نسبت په منځنیو ښوونځیو او لېسو کې لږ دی) ( نړیوال بانک ۱۳۹۷)

پر دې ننګونو د برلاسی لپاره، تخنیکي او مسلکي زده کړې، باید د کار له نړۍ سره اړیکې ټینګې کړي او د دې ارزونه وکړي، چې کومې څانګې اړینې دي. همدارنګه د بازار له کارونو سره د ښوونیزو څانګو، واټن لږ شي، د نساجی او انجنیری رامنځته کول، د خوړو توکو، ګېډۍ او چمتو کول، پرچون پلورل، په هوټلونو او مېلمستونونو کې کار، لېږد را لېږد، طبي او روغتیایي چوپړتیاوې او له روغتیا څخه ساتنه کول، راوړل شوي دي. شرکتونه د تخصص جوړونې مسؤلیت په غاړه لري. ځکه دوی ښه پوهېږي، چې کوم ډول تخصص د اړتیا وړ دی.

| |
|---|
| ځینې ښوونیزې څانګې او مضمونونه لکه: د سرامیکو څخه څېره(مجسمه) جوړول، ژورنالیزم او سپورټ په مسلکي ښوونځیو کې لږ څه پردی ګڼل کیږي. د دې څانګو لپاره نظري او پوهنیز(علمي) بنسټ ډېر اړین دی. هغه څانګې چې باید د عمومي زده کړو ښوونځیو یا د لوړو زده کړو بنسټونو ته پرې ښودل شي، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره هغه وپېژني او په اړه یې له پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونو سره خبرې اترې او نظرونه شریک کړي. د (۶۵) ښوونیزو څانګو له ډلې څخه (۵۳) څانګې، یانې (۸۱٪) یې له زرو تنو څخه لږ زده کوونکي لري او پاتې یې له زرو څخه ډېر زده کوونکي لري. |

*اړانه ۹: د ښوونیزو څانګو اړیکې*

## ۱۱.۳ـ امکانات او اسانتیاوې

د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ښوونیزو مرکزونو لپاره د بنسټونو او زېربناوو د چمتو کولو، په موخه د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري له هڅو سره سره تر دې دمه یوازې (۳۳٪) ښوونیز مرکزونه ودانۍ لري.[۳۷] ډېرې ودانۍ چې له (۱۳۷۰هـ ل) کال څخه وړاندې جوړې شوې دي، په ناوړه شرایطو کې دي او بیا رغونې ته اړتیا لري.

### ۱۱.۳.۱ـ د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ښوونځیو ځایونه (موقعیتونه)

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره په اوس وخت کې د هېواد په (۳۴) ولایتونو کې (۳۷۶) بابه ښوونیز مرکزونه لري، چې په لوړې سلنې سره د ولایتونو په ولسوالیو کې دي. دغه ښوونیز مرکزونه په ولسوالیو کې د مسلکي ښوونځیو او د ولایتونو په مرکزونو او کابل ښار کې د مسلکي ښوونیزو مؤسسو په بڼه دي. چې اوس مهال د هر ولایت په مرکز کې لږ تر لږه د تخنیکي او مسلکي زده کړو یوه مسلکي ښوونیزه مؤسسه شته ده.

| |
|---|
| هغه نقشه چې نوې د تخنیکي او مسلکي زده کړو له مرکزونو څخه جوړه شوې ده، جوته وي، چې ډېری مسلکي مرکزونه تخصصي دي، د بېلګې په ډول د کرنې او سوداګرۍ ښوونځی. په ډېرو مواردو کې د دې تخصصي ښوونځیو ځینې یې په یوه ودانۍ کې دي او په ځینو مواردو کې یاد تخصصي ښوونځي په لږ نفوسه او لیرې ساحو کې دي، په داسې حال کې چې د هېواد ډېری اوسېدونکي تخنیکي او مسلکي زده کړو ته لاسرسی نه لري. |

*اړانه ۱۰: د ښوونیزو مرکزونو سمه څانګړتیا*

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره باید په راتلونکي کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ښوونییزو مرکزونو ترمنځ د اړیکو درلودلو لپاره پلان جوړ کړي. یو کړکېچن عامل چې د واقعیت یوه برخه ده او سترګې نشو ترې پټولای، دا دی چې د هېواد ډېری ولسوالی هېڅ ډول ښاري نفوس نه لري. یا په بله وینا هغوی په یوځای او سره نږدې میشت نه دي؛ دا پوښتنه پیداکیږي، چې د یوه ښوونځي د جوړولو لپاره کوم ځای غوره او د ولسوالی ډېری اوسېدونکو ته د لاسرسي وړ دی.

### ۱۱.۳.۲ـ د علمي زده کړو مرکزونه

د تخنیکي او مسلکي زده کړو لارښوودونه دا په ډاګه کوي، چې له ښوونیزو غونډو څخه (۴۰٪) یې باید نظري زده کړې ولېږدوي او پاتې نورو (۶۰٪) ته باید عملي مهارتونه ور زده کړل شي. د عملي غونډو لپاره کاري چاپېریال، تجهیزات او تکره ښوونکي اړین دي؛ تر څو وکولای شي چې له تجهیزاتو څخه غوره ګټه پورته کړي.

[۳۷] پاتې نور ښوونیز مرکزونه له کرایي ودانیو څخه ګټه پورته کوي.

ډېری ښوونیز مرکزونه د عملي زده کړو لپاره د ځمکې په ګډون لازمي اسانتیاوې نه لري او د تخنیکي او مسلکي کیفیت لرونکو زده کړو چمتو کول، زده کوونکي د عملي کارونو ترسره کولو ته اړ باسي، چې په ډېرو مواردو کې له ستونزو سره مخ دي. د بېلګې په توګه په کرنیزو ښوونځیو کې د عملي کار د تر سره کولو لپاره بشپړه ځمکه، کرونده او فارم نشته. د دې ننګونې د حل لپاره د کرنې وزارت او یا د سیمه ییزو مرکزونو ښه مرسته د کرنې لپاره د ځمکې د برابرولو لامل کېږي. په دې وروستیو کې ترسره شوې څېړنې وښودله، چې په ټول هیواد کې د دې سرچینو شریکولو بیلګې شتون لري او ډېری ښوونځي کولی شي له دې مرستو څخه ګټه پورته کړي.

*اړانه ۱۱: د سرچینو ګډون او همکاري*

د تخنیکي او مسلکي زده کړو له (۳۷۶) بابه ښوونیزو مرکزونو څخه یې لږ شمېر کارخونې (Workshop) یا آزمایښت خونې (Laboratory) لري او ډېری ښوونیز مرکزونه د اړتیا وړ توکي او تجهیزات نه لري، چې عملي چارې یې له ګڼو ستونزو سره مخامخ کېږي. په هغه ځای کې چې د عملي زده کړو لپاره لګښتي توکي او مناسب امکانات وي، د ښوونځي غړي د عملي کارونو وړاندې کولو لپاره اړینه وړتیا نه لري. د کار په بهیر کې (داخل خدمت) زده کړې ، د کرنې په ښوونځیو او ښوونیزو مؤسسو کې د پام وړ ښه والي لامل شوې دي؛ خو د عملي زده کړو کچه له هغه څخه ډېره ټیټه ده، چې په رښتنې توګه تخنیکي او مسلکي زده کړې و نومول شي او یا یې استازیتوب وکړي. پاتې مسئله په څېرکتیا او مسؤلیت سره د لایحې پلې کول دي، چې تجهیزاتو ته زیان و نه رسیږي. همدغه د مسؤلیت مسئله د ځینو استادانو د عملي کارونو د سرته رسولو انګېزه راټیټوي.

*جدول ۵: د ښوونیزو مرکزونو تاسیسات او تجهیزات (د شمېرنې او مالوماتي ټکنالوژۍ آمریت ۱۴۰۱)*

| نوم | لري | نه لري |
|---|---|---|
| لابراتوار | ۸۱ | ۲۹۵ |
| ورکشاپ | ۶۶ | ۳۱۰ |
| څېړنیز ځای (فارم) | ۳۸ | ۳۳۸ |
| د کمپیوټر ورکشاپ | ۱۶۸ | ۲۰۸ |
| ځمکه | ۲۵۱ | ۱۲۵ |
| لیلیه | ۴۴ | ۳۳۲ |
| تعمیر | ۱۲۰ | ۲۵۶ |
| انګړ دېوال( دېوار احاطه) | ۸۵ | ۲۹۱ |

## ۱۲ـ د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري چاپېریالي شننه

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري وضعیت، د ستراتیژیک پلان پېژندنې، مشورتي او چاپېریالي شننې(SWOT Analysis) تر نامه لاندې ورکشاپ د دایرولو له لارې روښانه شو، چې په هغه کې د وزارتونو او اړوندو ادارو، د سوداګرۍ او کسبګرو خونو او خصوصي سکټور استازو او همدارنګه د دې اداري اړوندو رئیسانو او تخنیکي کار کوونکو ګډون درلود او د پوښتلیکونو د وېش له لارې د اداري پیاوړې او کمزورې ټکي، فرصتونه او ګواښونه تر لاسه شول.

### ۱۲.۱ـ د کورنې (داخلي) چاپېریال عوامل

په دې برخه کې هغه عوامل څېړل کېږي، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري تر څارنې لاندې دي او دغه عوامل د ښکېلو خواوو د استازو او د اداري د تخنیکي کارکوونکو له خوا پېژندل شوي دي، یاد عوامل په لاندې (۶ـ۱) شمېره جدول کې ځای په ځای شوي دي:

جدول ٦: د کورني چاپېريال لوی عوامل

| د کورني چاپېريال عوامل | |
|---|---|
| پیاوړتیاوې (Strengths) | کمزورتیاوې (Weaknesses) |
| ۱- په هر ولایت او ډېری ولسواليو کې د ښوونیزو مرکزونو شتون. | ۱- د عملي کار د تجربې له مخې د فارغینوکمزوري او د ښوونیز څرنګوالي ټیټوالی. |
| ۲- په ځینو مرکزونو کې د ښوونیزو امکاناتو او تجهیزاتو لرل. | ۲- د خپلواکو قوانینو او مقررو نشتوالی. |
| ۳- د (۱۰۰) کلونو په شاوخوا مخینه درلودل. | ۳- د عملي مهارت لرونکو او متخصصو استادانو لږوالی. |
| ۴- د ځینو مجربو کارکوونکو او استادانو درلودل. | ۴- د اداري د چوپړتیاوو په اړه د کافي تبلیغاتو نشتوالی. |
| ۵- د یوه خپلواک بودجوي بنسټ په توګه بودجوي خپلواکي درلودل. | ۵- د تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړاندې کوونکو ادارو تر منځ د کافي همغږۍ نشتوالی. |
| ۶- د ځینو ښوونیزو مرکزونو د معیاري ودانیو لرل. | ۶- د نصاب او زده کړه ایزو سیسټمونو پخوانیتوب. |
| ۷- د تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړ سیسټم لرل. | ۷- د مرسته کوونکو (ډونران) د جلب او جذب نشتوالی. |
| ۸- واحد لید لوري له مخې د پالیسو او ستراتیژیو د جوړوني ظرفیت. | ۸- د اړینو تجهیزاتو او ښوونیزو فعالیتونو د ښه پلي کولو لپاره د بودجې لږوالی. |
| ۹- د مرکزي، ولایتي ادارو تر منځ همغږي. | ۹- د کار بازار د وضعیت د څېړلو نشتوالی. |
| ۱۰- په مرکز او ولایتونو کې د (۶۵) څانګو د فعالیت او د هغوی د نصاب لرل. | ۱۰- په هېواد کې د مهارتونو کچې او کاري مهارتونو د تصدیق کوونکو نه موندنه. |
| ۱۱- له (۵۰۰۰۰) پنځوس زرو څخه د ډېرو زده کوونکو شتون. | ۱۱- د کار بازار له اړتیاوو سره د ښوونیز نصاب سمون نه لرل. |
| ۱۲- د زده کوونکو او زده کړیالان لپاره د لیلیو او بدل اعاشې چمتو کول. | ۱۲- د ډېرو ښوونیزو مرکزونو لپاره د مناسبو ځایونو او ودانیو نشتوالی. |
| ۱۳- د معلولینو په څانګړې توګه د ګنو او ړندو کسانو لپاره د ځانګړو زده کړو درلودل. | ۱۳- د عملي ورکشاپ او د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ځینو ښوونیزو مرکزونو کې د څېړنیزو فارمونو نشتوالی. |
| ۱۴- د سمونو راوستلو لپاره د ژمن مشرتابه (رهبرۍ) شتون. | ۱۴- په ټولنه کې د سمون او ښه والي په موخه د دې اداري د فعالیتونو د پایلو نه ارزول. |
| ۱۵- د کیفیت د تضمین څېړنیز مرکز لرل او د استادانو او اداري کار کوونکو د ظرفیت لوړول. | ۱۵- د ښوونیزو څانګو د رامنځته کولو او نه رامنځته کولو لپاره د تحصیلي څانګو د اړتیاوو د ارزونې نشتوالی. |
| | ۱۶- د څېړنې په موخه د ښوونیزو پروګرامونو (کمپیوټرلیپ، لابراتوار او نورو) د معیاري کولو لپاره د سرچینو لږوالی |
| | ۱۷- د استادانو او زده کړیالانو لپاره د نظریاتو او تجربو د ګډولو په موخه د علمي یون (سفر) نشتوالی. |
| | ۱۸- د اداري په ځان بسیاینې لپاره د ټاکلې ستراتیژۍ نشتوالی. |
| | ۱۹- په تدارکاتي بهیرونو کې ځنډ. |
| | ۲۰- د مکافاتو او مجازاتو د راټه او عادلانه سیسټم نشتوالی. |
| | ۲۱- د امکاناتو او تجهیزاتو محدودیت. |
| | ۲۲- د ښوونیزو مرکزونو او کار بازار تر منځ د اړیکو نشتوالی. |

### ۱۲.۲ـ د بهرني چاپېريال عوامل

د بهرني چاپېريال عوامل هغه عوامل دي، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري له کنټرول څخه بهر وي او د اداري کورني چاپېريال تر خپل اغېز لاندې راولي. په دې برخه کې د بهرني چاپېريال ټول عوامل د ستراتیژیک پلان د وروستي کولو کمېټې له خوا د پوښتنلیکونو له وېش وروسته او د ورکشاپ دایرولو له لارې سپړل او پېژندل شوي دي، چې په لاندې (۷ـ۱) شمېره جدول کې ځای په ځای شوي دي:

جدول ۷: د بهرني چاپېريال لوی عوامل

| د بهرني چاپېريال عوامل | |
|---|---|
| فرصتونه(Opportunities) | تهدیدونه(Threats) |
| ۱- په هېواد کې د طبعي سرچینو شتون.<br>۲- د اسلامي امارت د لوړ پوړو چارواکو ملاتړ.<br>۳- یو موټی نظام او د ګډوډۍ (انارشی) پای.<br>۴- د پانګه اچوونکو د نوي لېوالتیا پر بنسټ، تخنیکي او مسلکي کار کوونکو ته د تولنې اړتیا.<br>۵- ورځ تر بلې د برښنايي وسايلو ډېروالي او د هغوی د رغنیزو چارو لپاره د تخنیکي کار کوونکو جذب.<br>۶- د هېواد په ګوټ ګوټ کې د امنیت شتون.<br>۷- د کانونو او صنعت په برخه کې د نوي پانګونې پیل.<br>۸- د لنډمهالو حرفوي زده کړو لپاره د ټولنې ډېره اړتیا.<br>۹- اقتصاد او صنعت ته د عمومي سکټور بې مخینې پاملرنه. | ۱- د فارغینو لپاره د کاربازار او بوختېدنې نشتون.<br>۲- د کورنیو اقتصادي ستونزې.<br>۳- د تخنیکي او مسلکي زده کړو په برخه کې په پاشلي ډول د نړیوالو پروژو پلي کول.<br>۴- د بېلا بېلو موسسو له لوري د تخنیکي او مسلکي زده کړو د اسنادو وېش.<br>۵- د ځوانانو لخوا د هېواد پرېښودل.<br>۶- رسمي او ځو کلنو زده کړو ته د ځوانانو د لېوالتیا لږوالی.<br>۷- اداري ته د ملکیتونو سپارلو په برخه کې د پوهنې وزارت مرسته نه کول.<br>۸- په هېواد کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو بنسټ ته د زده کوونکو د جذب لپاره د اغېزمن میکانیزم نشتون.<br>۹- د تخنیکي او مسلکي زده کړو د شته چاپېريالي شېګڼو څخه د خلکو نا خبري.<br>۱۰- د تخنیکي او مسلکي زده کړو د فارغینو ګمارنې په تړاو د خصوصي سکټور او امارتي ارګانونو لېوالتیا نشتون.<br>۱۱- د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري لپاره د کافي بودجې د تخصیص نشتون.<br>۱۲- په هېواد کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو پاشلتیا او نه همغږي.<br>۱۳- د نړیوالو موسسو د مالي او تخنیکي ملاتړ لږوالی.<br>۱۴- د تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړاندې کوونکو، د نورو ادارو سره نا همغږي.<br>۱۵- د سرچینو څخه بې خبري ( د مسلکي کسانو تېښته او په هېواد کې د مسلکي او نا مسلکي کسانو تر منځ جلاوالی نه کول)<br>۱۶- د تخنیکي او مسلکي زده کړو په برخه کې د امارتي او نا امارتي پانګونې نشتون.<br>۱۷- د زده کوونکو په جذب کې له پوهنې وزارت سره د میکانیزم او همغږۍ نشتوالی. |

### ۱۲.۳ـ د اداري د کورني(داخلي) چاپېريال شننه

لاندې جدول د کورني(داخلي) عواملو د ارزونې ماتريکس په ډاګه کوي، د دې ماتريکس د ترتيبولو ګامونه په لاندې توګه پوره کېږي:

۱. په دې ماتريکس کې، ستراتيژيک لاملونه چې کورني لومړيتوبونه لري، په لومړي ستون (کالم) کې د پیاوړ اوکمزورو ټکو په اړه کې لیکل کېږي.

۲. په دويمه ستون(کالم) کې، د هر لامل د ارزښت او حساسیت کچې ته په پام، له یو بل سره د دې لاملونو پرتله، چې ارزښتي ضریب يې(له صفر څخه تر یو) پورې د هغه لاملونو سره تړاو لري. دغه ضريبونه بايد په داسې ډول ځانګړي شي، چې د ټولو لاملونو د ضريبونو ټولګه له (۱) څخه ډېره نه وي.

۳. په دریېیم ستون (کالم) کې د فرصتونو یا ګواښونو کلیدي یا عادي کېدو ته په کتو سره، په ترتیب (۴) یا (۳) رتبه فرصتونو ته او (۲) او (۱) رتبه ګواښونو ته ځانګړې شوې. ډلبندي په داسې توګه شوې، که چېرې د اداري له فرصتونو څخه یو ښه فرصت وي (۴) رتبه او که یو عادي فرصت وي، (۳) رتبه لامل ته ورکول کېږي او که چېرې د اداري له ګواښونو څخه یو عادي ګواښ وي، رتبه(۲) او که جدي ګواښ وي، رتبه (۱) تر نظر لاندې عامل ته ورکول کېږي. لکه څرنګه چې تاسې لیدلی شئ، د رتبو ورکولو بهیر په دې ډول دی، په هره اندازه چې له استثنايي فرصت څخه د جدي ګواښ په لوري یون او حرکت کوو، د رتبې کچه را ټیټېږي او له (۴) څخه (۱) ته رسېږي.

۴. په څلورم ستون (کالم) کې د دویم ستون ضریبونه او د دریېیم ستون رتبې، د هر عامل لپاره له خپل ځان سره ضربېږي، تر څو د هغه عامل د (پیاوړتیا یا کمزورتیا) امتیاز د اداري لپاره مالوم شي. د دې ستون په پای کې د لاسته راغلو امتیازونو له ډلې څخه، د اداري ورستی امتیاز د رویې له نظره له پیاوړتیاوو یا کمزورتیاوو څخه ټاکل کېږي.

۵. لکه څرنګه چې په دې ماټریکس کې د وروستیو امتیازونو ټولګه له (۲.۵) څخه ډېره ده، د ترسره شویو ویراندوینو سره سم، د اداري پیاوړتیاوې کیدای شي، په کمزورتیاوو باندې برلاسې شي او که چېرې دغه امتیاز له (۲.۵) څخه لږ وي، پر پیاوړتیاوو باندې د کمزورتیاوو برلاسې ښکاره کوي.

د پیاوړتیاوو او کمزورتیاوو هغه ټکي، چې د ورکشاپ په ترڅ کې راټول شوي دي، کولای شو، چې په لاندې جدول کې یې وڅېړو:

*جدول ۸: د کورني(داخلي) چاپېریال څېړنه*

| شمېره | د کورني(داخلي) چاپېریال لاملونه (پیاوړتیاوې او کمزورتیاوې) | سرلیک | وزني ضریب | وزني امتیاز | موزون ضریب |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | په ټولو ولایتونو او ډېری ولسوالیو کې د ښوونیزو مرکزونو شتون. | S1 | 0.035 | 4 | 0.14 |
| ۲ | په مرکزونو کې د ښوونیزو امکاناتو او تجهیزاتو شتون. | S2 | 0.023 | 3 | 0.069 |
| ۳ | د (۱۰۰) کلونو په شاوخوا کې د مخینې درلودل. | S3 | 0.028 | 4 | 0.112 |
| ۴ | د ځینو مجربو استادانو او کارکوونکو درلودل. | S4 | 0.020 | 3 | 0.06 |
| ۵ | د تخنیکي او مسلکي اداري لپاره خپلواکه بودجه لرل. | S5 | 0.035 | 4 | 0.063 |
| ۶ | ځینو ښوونیزو مرکزونو ته د معیاري ودانیو درلودل. | S6 | 0.021 | 3 | 0.06 |
| ۷ | د تخنیکي او مسلکي زده کړو د یوه مناسب سیستم شتون. | S7 | 0.020 | 3 | 0.116 |
| ۸ | د یوه واحد لید لوري له مخې د پالیسیو او ستراتیژیو د جوړولو وړتیا. | S8 | 0.029 | 4 | 0.128 |
| ۹ | د مرکزي ولایتي ادارو تر منځ همغږي | S9 | 0.030 | 4 | 0.136 |
| ۱۰ | په مرکز او ولایتونو کې د (۶۵) ګرځندیو (فعالو) ځانګو او د هغو د نصاب شتون. | S10 | 0.032 | 4 | 0.057 |
| ۱۱ | د (۵۰۰۰۰) پنځوس زرو څخه ډېر د زده کوونکو شتون. | S11 | 0.034 | 4 | 0.087 |
| ۱۲ | د زده کوونکو او زده کړیالانو لپاره د لیلیې او بدل اعاشې چمتو کول. | S12 | 0.019 | 3 | 0.152 |
| ۱۳ | د معلولینو په ځانګړې توګه د کڼو او ړندو لپاره ځانګړې زده کړې. | S13 | 0.029 | 3 | 0.06 |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۴ | د سمونَو راوستلو لپاره د ژمن مشرتابه (رهبری) شتون. | S14 | 0.038 | 4 | 0.032 |
| ۱۵ | د کیفیت د تضمین، استادانو او اداري کار کوونکو د ارتقاء لپاره د څېړنيز مرکز درلودل. | S15 | 0.02 | 3 | 0.031 |
| ۱۶ | د عملي کار د تجربې له مخې د فارغینو کمزورتیا او ښوونیز کیفیت ټیټوالی. | W1 | 0.032 | 1 | 0.054 |
| ۱۷ | د خپلواکو قوانینو او مقررو نه درلودل. | W2 | 0.031 | 1 | 0.06 |
| ۱۸ | د پیاوړیو او مهارت لرونکو استادانو لږوالی. | W3 | 0.027 | 2 | 0.046 |
| ۱۹ | د اداري د چوپړتیاوو په تړاو د کافي کچې تبلیغاتو نشتون. | W4 | 0.030 | 2 | 0.033 |
| ۲۰ | د تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړاندې کوونکو ادارو ترمنځ د کافي همغږۍ نشتون. | W5 | 0.023 | 2 | 0.05 |
| ۲۱ | د نصاب او زده کړه ییزو سیستمونو دودیز او عنعنویتوب. | W6 | 0.033 | 1 | 0.036 |
| ۲۲ | د مرسته کوونکو (ډونران) د جلب او جذب نشتون. | W7 | 0.025 | 2 | 0.035 |
| ۲۳ | د ښوونیزو اغېزمنو فعالیتونو د پلي کولو او اړینو تجهیزاتو لپاره د بودجې لږوالی. | W8 | 0.036 | 1 | 0.042 |
| ۲۴ | د کار بازار د وضعیت څېړلو نشتون. | W9 | 0.035 | 1 | 0.032 |
| ۲۵ | په هېواد کې د مهارتونو کچې او کاري مهارتونو د تصدیق کوونکو نه موندنه. | W10 | 0.021 | 2 | 0.046 |
| ۲۶ | د کار بازار له اړتیاوو سره د ښوونیز نصاب نه سمون. | W11 | 0.032 | 1 | 0.044 |
| ۲۷ | د ډېرو ښوونیزو مرکزونو لپاره د مناسبو ځایونو او ودانیو نشتون. | W12 | 0.023 | 2 | 0.052 |
| ۲۸ | د عملي ورکشاپ او د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ډېرو ښوونیزو مرکزونو کې د څېړنیزو فارمونو نشتوالی. | W13 | 0.022 | 2 | 0.04 |
| ۲۹ | د سمون او ښه والي په موخه په ټولنه کې د دې اداري د فعالیتونو د پایلو نه ارزول. | W14 | 0.026 | 2 | 0.038 |
| ۳۰ | د ښوونیزو ځانګو د رامنځته کولو او نه رامنځته کولو په موخه د تحصیلي ځانګو د اړتیاوو نه ارزول. | W15 | 0.020 | 2 | 0.048 |
| ۳۱ | د څېړنې په موخه د ښوونیزو پروګرامونو (کمپیوټرلب، لابراتوار او نورو) د معیاري کولو لپاره د سرچینو لږوالی. | W16 | 0.019 | 2 | 0.042 |
| ۳۲ | استادانو او زده کړیالانو(محصلینو) سره د اندونو او تجربو ګډولو لپاره، د پوهنیزو سفرونو نشتوالی. | W17 | 0.019 | 2 | 0.035 |
| ۳۳ | د اداري په ځان بسیاینې لپاره د ټاکلې او روښانه استراتیژۍ نشتوالی. | W18 | 0.024 | 2 | 0.038 |
| ۳۴ | په تدارکاتي بهیرونو کې ځنډ. | W19 | 0.021 | 2 | 0.034 |
| ۳۵ | د مکافاتو او مجازاتو سیستم نشتوالی. | W20 | 0.035 | ۱ | 0.069 |
| ۳۶ | د اسانتیاوو او تجهیزاتو لږوالی. | W21 | 0.019 | ۲ | 0.112 |
| ۳۷ | د ښوونیزو مرکزونو او کار بازار تر منځ د اړیکو نشتوالی. | W22 | 0.034 | ۱ | 0.06 |
| | | | ۱ | | 2.406 |

له پورته (۸ـ ۱) شمېرې جدول سره سم، لیدل کیږي، چې د موزون ضریب ټولګه (2.406) او له (۲.۵) څخه لږه ده، نو کېدای شي، چې کمزورتیاوې په پیاوړتیاوو باندې برلاسې شي.

### ۱۲.۴ـ د اداري د بهرني چاپېریال شننه

لاندې جدول، د بهرنیو لاملونو د ارزونې ماټریکس را ښیي، د دې ماټریکس د چمتوکولو ګامونه عبارت دي له:

۱. په دې ماټریکس کې، ستراتیژیک لاملونه چې بهرني لومړیتوبونه لري، په لومړي کالم(ستون) کې د فرصتونو او ګواښونو په بڼه لیست شوي دي.

۲. په دویم ستون کې د هر لامل د حساسیت او ارزښت کچې ته په کتو، له یو بل سره د دې لاملونو په پرتله کولو سره ارزښتي ضریب (له صفر څخه تر یو) پورې د ارزښت ضمیمه یا مل ټاکي. د دې ضریبونو ځانګړې کول باید په دې ډول وي، چې د ټولو لاملونو د ضریبونو ټولګه له (۱) څخه ډېره نه وي.

۳. په درېیم ستون کې د فرصتونو یا ګواښونو کلیدي یا عادي کېدو ته په کتو سره، په ترتیب (۴) یا (۳) رتبه فرصتونو ته او (۲) او (۱) رتبه ګواښونو ته ځانګړې شوې. ډلبندي په داسې توګه شوې ، که چېرې د اداري له فرصتونو څخه یو ښه فرصت وي (۴) رتبه او که یو عادي فرصت وي، (۳) رتبه تر نظر لاندې لامل(عامل) ته ورکول کیږي او که چېرې د اداري له ګواښونو څخه یو عادي ګواښ وي، (۲) رتبه او که جدي ګواښ وي، (۱) رتبه تر نظر لاندې لامل ته ورکول کیږي. لکه څرنګه چې تاسې لیدلی شئ، د رتبو ورکولو بهیرپه دې ډول دی، په هره اندازه چې له استثنایي فرصت څخه د جدي ګواښ په لوري یون او حرکت کوو، د رتبې کچه را ټیټیږي او له (۴) څخه (۱) ته رسیږي.

۴. په څلورم کالم(ستون) کې، د دویم ستون ضریبونه او د درېیم ستون رتبې د هر عامل لپاره په خپل ځان کې ضربیږي، تر څو د هغه عامل (فرصت یا ګواښ) امتیاز د اداري لپاره مالوم شي. د دې ستون په وروستیو کې، د لاسته راغلو امتیازونو له جملې څخه، د اداري وروستی امتیاز، د کړنو او سلوک له نظره له فرصت یا ګواښ څخه ټاکل کیږي.

۵. لکه څرنګه چې په دې ماټریکس کې د اداري ټول وروستي امتیاز له (۲.۵) څخه ډېر دی. له ترسره شویو وړاندوینو سره سم، کېدای شي د اداري فرصتونه په ګواښونو باندې برلاسي شي او که چېرې دغه امتیاز له (۲.۵) څخه لږ او ټیټ وي، په فرصتونو باندې د ګواښونو پیاوړتیا ښکاره کوي.

هغه فرصتونه او ګواښوونه، چې د ورکشاپ په ترځ کې، د اداري د تخنیکي همکارانو او ښکېلو اړخونو له لوري راټول شوي دي، کولای شو د پورته لاربښوود سره سم په لاندې جدول کې و څېړو:

*جدول ۹: د بهرني چاپېریال شننه*

| شمېره | د بهرني چاپېریال لاملونه او عوامل (فرصتونه او ګواښونه) | سرلیک | وزني ضریب | امتیازي ضریب | موزون ضریب |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | په هېواد کې د ډېرو د طبعي سرچینو شتون. | O1 | 0.16 | 4 | ۰.۱۶ |
| ۲ | د اسلامي امارت د لوړ پوړو چارواکو ملاتړ. | O2 | 0.16 | 4 | ۰.۱۶ |
| ۳ | یو موټي او د ګډوډۍ (انارشي) پای. | O3 | 0.14 | 4 | ۰.۱۴ |
| ۴ | د پانګوالو د لېوالتیا په بنسټ تخنیکي او مسلکي کار کوونکو ته د ټولنې اړتیا. | O4 | 0.152 | 4 | ۰.۱۵۲ |
| ۵ | ورځ تر بلې د برښنایي وسایلو ډېروالی او د هغو د رغولو لپاره د تخنیکی کار کوونکو جذب. | O5 | 0.12 | 3 | ۰.۱۲ |
| ۶ | د هېواد په ګوټ ګوټ کې د ټیکاو او امنیت ټینګښت. | O6 | 0.108 | 4 | ۰.۱۶ |
| ۷ | د کانونو او صنعت په برخه کې د نوې پانګونې پیل. | O7 | 0.043 | 3 | ۰.۰۷۸ |
| ۸ | د لنډمهالو حرفوي زده کړو لپاره د ټولنې اړتیا. | O8 | 0.082 | 3 | ۰.۰۹۳ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | سوداګرۍ او صنعت ته د عمومي سکټور بې مخینې پاملرنه. | O9 | 0.07 | 4 | ۰.۱۵۶ |
| ۱۰ | د فارغینو لپاره د کار بازار او کارونو نشتوالی. | T1 | 0.052 | 1 | ۰.۰۳۸ |
| ۱۱ | د کورنیو اقتصادي ستونزې. | T2 | 0.045 | 2 | ۰.۰۶۲ |
| ۱۲ | د تخنیکي او مسلکي زده کړو په برخه کې په پاشلي ډول د نړیوالو پروژو پلي کول. | T3 | 0.042 | 2 | ۰.۰۵۶ |
| ۱۳ | د بېلا بېلو موسسو له لوري د تخنیکي او مسلکي زده کړو د اسنادو وېش. | T4 | 0.07 | 2 | ۰.۰۵۲ |
| ۱۴ | د نویو ځوانانو له خوا د هېواد پرېښودل. | T5 | 0.068 | 1 | ۰.۰۴ |
| ۱۵ | رسمي او خو کلنو زده کړو ته د ځوانانو د مینې لږوالی. | T6 | 0.07 | 1 | ۰.۰۳۹ |
| ۱۶ | اداري ته د ملکیتونو  سپارلو په برخه کې د پوهنې وزارت له لوري مرسته نه کول. | T7 | 0.05 | 2 | ۰.۰۵ |
| ۱۷ | د هېواد په کچه د دې اداري بنسټونو ته د زده کوونکو د جذب لپاره د اغېزمن میکانیزم نشتون. | T8 | 0.08 | 2 | ۰.۰۴۲ |
| ۱۸ | په هېواد کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو له موجوده  چاپېریالي ښېګڼو څخه د خلکو د پوهاوي نشتوالی. | T9 | 0.045 | 2 | ۰.۰۵۶ |
| ۱۹ | د تخنیکي او مسلکي زده کړو  فارغینو د ګمارنې په اړه د خصوصي سکټور او امارتي ارګانونو نه لېوالتیا. | T10 | 0.076 | 1 | ۰.۰۴۵ |
| ۲۰ | د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري لپاره د کافي بودجې د ورکړې نشتوالی. | T11 | 0.066 | 1 | ۰.۰۵ |
| ۲۱ | د هېواد په کچه د تخنیکي او مسلکي زده کړو پاشلتیا او نه همغږي. | T12 | 0.064 | 2 | ۰.۰۵۲ |
| ۲۲ | د نړیوالو موسسو د مالي او تخنیکي ملاتړ لږوالی. | T13 | 0.07 | 1 | ۰.۰۳۵ |
| ۲۳ | د تخنیکي او مسلکي زده کړو نورو وړاندې کوونکو ادارو  او خانګو سره د همغږۍ نشتوالی. | T14 | 0.16 | 2 | ۰.۰۶۴ |
| ۲۴ | د سرچینو څخه نا خبري (د مسلکي کسانو تېښته او په هېواد  کې د مسلکي او نا مسلکي کسانو تر منځ توپیر نه کول.) | T15 | 0.16 | 2 | ۰.۰۵ |
| ۲۵ | په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې د امارتي او نا امارتي پانګونې نشتوالی. | T16 | 0.14 | 2 | ۰.۰۶۲ |
| ۲۶ | د زده کوونکو په جذب کې له پوهنې وزارت سره د میکانیزم او همغږۍ نشتوالی. | T17 | 0.152 | 2 | ۰.۰۵۸ |
| | **ټولګه** | | ۱ | | 2.309 |

د (۹ـ ۱) جدول له پورته شرحې سره سم، لیدل کېږي، د موزون ضریب ټولګه (2.309) او له (۲.۵) څخه لږ ده، دا په دې مانا ده، چې راتلونکې ګواښونه کولای شي، چې په فرصتونو باندې برلاسي شي.


### ۱۲.۵ـ د چاپېریالي (کورنیو او بهرنیو) لاملونو او عواملو شننه

په دې پړاو کې کورني او بهرني اصلي عوامل د کورني او بهرني ماتریکس (IE) د توکو څخه په ګټه اخیستنې سره، پلي کېږي؛ تر څو د اداري ځای مالوم او د هغې سره سم، هغه ستراتیژۍ وپېژندل شي، چې د اداري د ماموریت په برخه کې له کورنیو او بهرنیو عواملو سره متناسبه وي.

### ۱۲.۵.۱ـ د IE (Internal and external) مېتود

په هم مهاله توګه د کورنیو او بهرنیو عواملو د تجزیې او څېړنې لپاره د کورني او بهرني ماټریکس د وسیلو څخه کار اخیستل کېږي. دغه ماټریکس د اداري د ځای د مالومولو لپاره کارول کېږي. د دې ماتریکس د جوړښت لپاره باید د کورنیو او بهرنیو عواملو د ارزونې ماټریکسونو د نومرو ټولګه د دې ماتریکس په عمودي او افقي برخو کې ځای ونیسي، تر څو د دې ماټریکس په خانو کې د اداري ځای او موقف مالوم شي او د اداري لپاره مناسبه تګلاره او ستراتیژي په پام کې ونیول شي. کورني او بهرني ماتریکس په دوه ډوله وړاندې کېږي: نهه خانه یي او څلورخانه یي ماټریکس په نهه خانه یي ماټریکس کې د لاندې جدول سره سم په یو درې برخه لرونکي جدول کې (پیاوړی ۳ـ ۴، منځنی ۲ـ ۳ او کمزوری ۱ـ۲) د کورنیو او بهرنیو عواملو ارزونې ماټریکسونو نومرې په افقي او عمودي اړخونو کې ځای نیسي؛ خو په دې ځای کې یوازې او یوازې له همدې نهه خانه یي ماټریکس څخه ګټه اخلو.

په نهه خانه یي ماټریکس کې کورني او بهرني عوامل د کورنیو او بهرنیو عواملو ماټریکس نومرو ته په پام سره، څرنګه چې د اداري موقعیت په II، III، VI خانو کې ځای نیسي، د اداري لپاره د ودې او پراختیا ستراتیژۍ بیانونکی ده. او که چېرې په I، V، IX خانو کې ځای پرځای شي د ثبات او ساتلو تګلارې(ستراتیژۍ) ته اشاره کوي او همدارنګه که په IV، VII، VIII خانو کې ځای ونیسي دا د تدافعي او لږولو ستراتیژۍ غوره کولو ته اشاره کوي.




*شکل ۷: په IE ماتریکس کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري موقعیت مالومول*

د (۸ـ۱) شکل ماټریکس په پام کې نیولو سره، کولای شو چې د اداري ځای مالوم کړو، څکه چې په (۸ـ ۱) او (۹ـ۱) شمېرو جدولونو کې مو په ترتیب سره کورني او بهرني عوامل وڅېړل، چې د داخلي عواملو ټولګه او موزون ضریب (۲.۴) او د بهرنیو عواملو ټولګه او موزون ضریب (۲.۳) وو د کورنیو او بهرنیو عواملو د موزون ضریب پایله له (۲.۵) څخه ټیټه ده. په همدې بنسټ د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري ځای په (I ،V ،IX) او (II، V، VI) خانو کې دی؛ کولای شي د ساتلو او ټینګښت ستراتیژي او ترڅنګ یې د ودې یا پرغلیزه ستراتیژي په پام کې ونیول شي.

په ټول کې څلور ډوله ستراتیژي شته، چې په لاندې ډول هره یوه یې تشریح شوې او وروستی پرېکړه له (۱۰ـ ۱) سواټ (SWOT) جدول سره سمه نیول کېږي.

۱) **پرغلیزه (OS) ستراتیژي:** د دې تګلارې(ستراتیژۍ) په اړانه کې اداره له کورنیو پیاوړو ټکو څخه په ګټه اخیستنې سره، هڅه کوي، چې له بهرنیو فرصتونو څخه برخمنه شي.

۲) **ځان ساتې (WO) ستراتیژي:** د دې ستراتیژۍ موخه، په پیاوړو ټکو باندې د کمزورو ټکو بدلولو لپاره په بهرني چاپېریال کې له شته فرصتونو څخه ګټه پورته کول دي.

۳) **سیالیزه (ST) ستراتیژي:** اداره د دې ستراتیژۍ په ترسره کولو سره هڅه کوي، چې له خپلو پیاوړو ټکو څخه په ګټه اخیستنې سره، په بهرني چاپېریال کې د شته ګواښونو اغېزې را ټیټې او یا له منځه یوسي.

۴) **دفاعي (WT) ستراتیژی:** دغه ستراتیژي هغه وخت اداره کاروي، چې نه کورني پیاوړتیا ولري او نه هم بهرني فرصت، نو له همدې کبله هڅه کوي، چې له بهرنیو ګواښونو څخه په ځان ساتنې سره خپلې کورنۍ کمزورتیاوې لږ او را ښکته کړي.

**وروستۍ پایله:** د (۸ـ ۱)، (۹ـ ۱) شمېرو جدولونو او (۷ـ ۱) شمېرې شکل ته په کتو سره، دې پایلې ته رسېږو، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري لپاره د ساتلو او ټینګښت او مخ پر ودې یا یرغلیزه ستراتیژي مناسبه ده او له کورنیو پیاوړتیاوو لکه: په ټولو ولایتونو او ډېرو ولسوالیو کې د ښوونیزو مرکزونو شتون، د (۱۰۰) کلونو په شاوخوا کې مخینې لرل، په ځینو مرکزونو کې د ښوونیزو امکاناتو او تجهیزاتو لرل، د ځینو تجربه لرونکو استادانو او کارکوونکو لرل، د ځینو ښوونیزو مرکزونو معیاري ودانیو لرل، د تخنیکي او مسلکي زده کړو مناسب سیستم شتون، د یو واحد لید لوري له نظره د پالیسیو او ستراتیژیو د جوړونې وړتیا، د مرکزي اوولایتي ادارو تر منځ همغږي، په مرکز او ولایتونو کې په (۶۵) ځانګو کې زده کړې او د هغو د نصاب شتون، له (۵۰۰۰۰) پنځوس زرو څخه د ډېرو زده کوونکو شتون، زده کوونکو او زده کړیالانو ته د لیلیې او بدل اعاشې چمتو کول، د د معلولینو په ځانګړې توګه د کڼو او ړندو لپاره ځانګړې زده کړې، د سموَنو راوستلو لپاره د ژمن مشرتابه (رهبرۍ) شتون، د استادانو او کارکوونکو د ظرفیت لوړاوي ځېرنیز او د کیفیت د تضمین مرکز شتون، کولای شي بهرني ګواښونه لرې کړي او همدارنګه له شته فرصتونو څخه لکه: په هېواد کې د طبعي سرچینو شتون، د اسلامي امارت د مقاماتو ملاتړ، د نظام متمرکز کېدل او د انارشی پای، د پانګوالو د نوې لېوالتیا پربنسټ تخنیکي او مسلکي کار کوونکو ته د ټولنې اړتیا، ورځ تر بلې د بربنسټایي وسایلو ډېروالی او د هغو د بیا جوړونې لپاره د تخنیکي کار کوونکو منل، د هېواد په ګوټ ګوټ کې د ټیکاو او امنیت ټینګښت، د کانونو او صنعت په برخه کې د نوې پانګونې پیل، د لنډمهالو حرفوي زده کړو لپاره د ټولنې ډېره اړتیا، اقتصاد او صنعت ته د عامه سکټور بې مخینې پاملرنه، کولای شي خپلې کورنۍ کمزورتیاووې لږې کړي. سربېره پر دې له کورنیو پیاوړتیاوو او بهرنیو فرصتونو څخه په ګټه اخیستنې سره، کولای شو اداره د پرمختګ په لار روانه کړو، د پورته مواردو نور جزئیات په (۱۰ـ ۱) شمېره جدول کې روښانه شوي دي.[۳۸]

[۳۸] د لوړو زده کړو وزارت د پوهنتون لپاره د ستراتیژیک پلان د ترتیب او جوړ شوي لارښود.۱۳۹۸ پسرلی.

جدول ۱۰: د سوات (SWOT) وروستي شوی جدول

| کورني عوامل<br>بهرني عوامل | پیاوړتیاوې(Strengths)<br>په (۸-۱) شمېره جدول کې د لیکل شویو پیاوړتیاوو سره سم | کمزورتیاوې (Weaknesses)<br>په (۸-۱) شمېره جدول کې د لیکل شویو کمزورتیاوو سره سم |
|---|---|---|
| فرصتونه(Opportunities)<br>په (۹-۱) جدول د لیکل شویو فرصتونو سره سم. | پرغلیز یا د ودې وضعیت(SO)<br>۱ـ د (S1) له لوري د (O4) ترلاسه کول.<br>۲ـ د (S2)، (S4) او (S5) له لوري د (O6)، (O7)،او (O9) ترلاسه کول.<br>۳ـ د (S12) له لوري د (O8) ترلاسه کول.<br>۴ـ د (S14) له لوري، د (O2) او ( O9) ترلاسه کول. | د ځان ساتنې او محافظه کارۍ وضیعت<br>۱- د (O2) له لوري د (W2)، (W5)، (W7)، (W8)، (W19)او(W22) د لیرې کولو لپاره.<br>۲- د (O1) او (O4) له لوري، د (W11)، (W16)، (W17) او (W21) د لیرې کولو لپاره.<br>۳- د (O9) له لوري، د (W13)، (W16) او (W21) د لیرې کولو لپاره.<br>۴- د (O7) له لوري، د (W3) ، (W8) او (W17) د لیرې کولو لپاره. |
| ګواښونه (Threats)<br>په (۹-۱) جدول کې د لیکل شویو ننګونو سره سم. | | |

# دویم څپرکی

# د ستراتیژیک پلان اډانه

## ۱ـ سریزه

د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې د رامنځته کېدو موخه دا وه، چې د نړېوالو ښوونیزو معیارونو او سټنډردونو په پام کې نیولو سره په بېلا بېلو تخنیکي او مسلکي برخو کې، تخنیکي او مسلکي کادرونه وروزي او ټولنې ته یې وړاندې کړي. دا چې افغانستان د پراختیا په حال کې هېواد دی، اړتیا لیدل کېږي، چې تخنیکي او مسلکي کادرونه په عمومي ډول په تخنیکي او مسلکي برخو کې د شرایطو او ټولنې له غوښتنو سره سم وروزل شي. خو دې ادارې د مهمو موضوع ګانو په پېژندلو سره تر اوسه پورې د هغه په اړه عملي ګام نه دی پورته کړی؛ تر څو په منظم او سیستماټیک ډول سره تخنیکي او مسلکي چوپړتیاوې د ستراتیژیک پلان په نوم په یوه ځانګړي سند کې وړاندې کړي او په هېواد کې د وروستیو بدلونونو په پام کې نیولو سره د پام وړ سند د اسلامي امارت د پالیسی او د دې ادارې له لید لوري سره سم بیا وکتل شو.

## لیدلوری

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره د یوې نوښتګرې، پنځوونکې او پیاوړې ادارې په توګه هوډ لري، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اعتبار لرونکی، اقتصادي، ثابت، همغږی او دوام لرونکی ښوونیز نظام د اسلام د دین په رڼا کې مدیریت او پراختیا ورکړي.

## ماموریت

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره په راتلونکو پنځو کلونو کې، د تخنیکي او مسلکي زده کړو د سیستم په جوړولو او اداره کولو سره د مسلکي استادانو له خوا د لوړ کیفیت لرونکي ښوونیزو پروګرامونو د برابرولو او د مناسبو بنسټونو (زیربناوو) او وسایلو په کارولو سره، د کار بازار له اړتیاوو سره سم او د ملي او نړیوالو معیارونو پر بنسټ مسلکي او ماهر کاري ځواک روزي.

## ارزښتونه

د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې ته په ستراتیژیک پلان کې لاندې ارزښتونه په پام کې نیول شوي دي:

۱) اسلامي او ملي ارزښتونه
۲) حساب ورکونه
۳) پنځونه او کاري فرصتونه رامنځته کونه
۴) تخصص
۵) څرنګوالی
۶) روڼتیا
۷) همکاري او همغږي.

## ۵ـ موخې

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري موخې، لویې او بنسټیزې غوښتنې او لومړيتوبونه د (۱۴۰۳ـ ۱۴۰۷هـ ل) او (۱۴۴۵ـ ۱۴۴۵۰هـ ل) کلونو تر منځ په لاندې ډول دي:

۱) تخنیکي او مسلکي زده کړو ته د ټولو(د موخې ډلو او اړونده برخو) د لاسرسي او ګډون ډېروالی.
۲) د شرایطو او کار بازار سره سم د تخنیکي او مسلکي زده کړو د کیفیت کچې لوړول.
۳) دایمي زده کړې او د اړیکو پراختیا او پیاوړتیا.
۴) جوړښتي پراختیا او د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري مدیریت.

یادو موخو ته د رسېدو لپاره مقصدونه او هر مقصد ته د رسېدو لپاره لوی فعالیتونه په پام کې نیول شوي دي، چې د هغوی عملي کول پورته موخو ته د رسېدو او په وروستیو کې په معیاري ډول د تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړاندې کولو لامل کېږي. په لاندې توګه هرې موخې ته پوره تشریح ور کړل شوې ده:

## ۶ـ لومړۍ ستراتیژیکه موخه: تخنیکي او مسلکي زده کړو ته د ټولو د لاسرسي او ګډون ډېروالی

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره، د موخې ټولو ډلو لپاره د رسمي او نیمه رسمي زده کړو فرصتونو ته د لاسرسي په موخه هڅې او کوښښ کوي، څکه چې په تېرو وختو کې له مهارت پرته کسانو، له زده کړې او تحصیل پاتې زده کوونکو، د لرې پرتو کلیو اوسېدونکو، ځانګړو اړتیاوو لرونکو او د کسب او کار لرونکو کسانو، چې د مهارت کچې لوړولو ته یې اړتیا لیدل کېږي، اړینه پاملرنه نه ده شوې؛ نو اړینه ده، چې په دې ستراتیژۍ کې د موخې ټولو ډلو ته، د تحصیل کچې، عمر، قومیت، دین او مذهب په پام کې نیولو پرته، د لاسرسي وړ وي. د لاسرسي ډېروالی، له سرچینو څخه د اغېزمنې ګټې اخیستنې، بنسټونو (زیربناوو) او د استادانو ظرفیت لپاره اړتیا ده، چې ډېر شمېر پېښېدونکي (احتمالي) زده کوونکي جذب شي.

### ۶.۱ـ د ستراتیژۍ څرګندونه

۱ـ تخنیکي او مسلکي زده کړې خپلې ښوونیز چوپړتیاوې، له کار بازار سره سمې وړاندې کوي، تر څو ډاډ ترلاسه شي، چې په اسانۍ سره د لاسرسي وړ دي او د کار بازار اړتیاوو ته ځواب ویلی شي.

۲ـ تخنیکي او مسلکي زده کړو ته د لاسرسي ډېروالی به په بشپړه توګه د رڼو غوښتنو او معیارونو په پام کې نیول، جغرافیوي انډولتوب، ژبې، لږَه کیو، معلولیت او د نفوس شمېر پر بنسټ وي. د کاربازار غوښتنو ته په کتو، د سرچینو لږوالي، د هغو لومړیتوبونو اړتیاوو او اقتصادي محصول او اغېزمنو چوپړتیاوو له نظره څلور ډوله ښوونیز مرکزونه رامنځته کېږي:

- د زونونو په کچه د تخنیکي او مسلکي زده کړو کمپلکسونه.
- د ولایت او لویو ولسوالیو په کچه کثیرالرشتوي (ټولیز) ښوونیز مرکزونه.
- د ولسوالیو په کچه د ښوونیزې ځانګې ټاکلو په شونتیا سره، پرمختللي ښوونیز مرکزونه.
- په صنعتي پارکونو کې تخنیکي، مسلکي او حرفوي ښوونیز مرکزونه.

۳ـ لومړنۍ تخنیکي او مسلکي زده کړې، د عمومي زده کړو د یوې برخې په توګه، د کلیوالي سیمو په لېسو کې د مسلکي ښوونځیو په امکاناتو سره، له لسم نه تر دولسم ټولګیو پورې ډېروالی او لوړوالی مومي.

۴ـ د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري له خوا د ځوانانو په ځانګړې توګه د کار زده کوونکو، په شرکتونو او خصوصي تشبثاتو کې د کارکونکو ځوانانو لپاره د زده کړو په بهیر او جریان کې د کار زده کوونکو د امنیتي او روغتیایي مسئلو په پام کې نیولو سره، د حرفوي زده کړو وړاندې کول په لومړیتوب کې نیسي.

## ۶.۲ـ د ستراتیژۍ تشریح

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره به د ځوانانو ښوونیزو اړتیاوو او لومړیتوبونو په پام کې نیولو سره د تخنیکي او ملسکي زده کړو د همغږۍ کولو لپاره د مناسبو قوانینو، مقررو، کړنلارو او مناسبو لارښوودونو په وضع کولو سره قانوني اډانه رامنځته کړي، چې رسمي او نیمه رسمي زده کړې سره ونښلوي، تر څو د کار د زده کوونکو اړتیاوو ته ځواب ووایي. همدارنګه له خصوصي سکټور سره په ملګرتیا به هڅه وشي، تر څو د عملي لیک او لوست زده کړو وړ پروګرامونه د موخې ډلې اړتیاوو ته په کتو سره په ټاکلي وخت او ځای کې، منځته راوړل شي، اصلي بدلون به دا وي، چې د کار زده کوونکو، نا لوستو او د بې برخې ډلو ښوونیزو اړتیاوو ته د رسېدنې لپاره، له سرچینو او امکاناتو څخه په کار اخیستلو کې د نرمښت او انعطاف ډاډ تر لاسه شي، د دې کسانو شرایط له اوسنیو زده کوونکو سره ډېر توپیر لري، ځکه ډېری یې نورې دندې لري، چې هغوی یې په ښوونیزو مرکزونو کې په نیمايي وخت، د اونۍ په پای یا د شپې له خوا سرته رسوي.

دویمه لویه هڅه، د منځنۍ دورې له نهم ټولګي څخه له فارغېدو وروسته ، د تخنیکي او مسلکي زده کړو په لسم ټولګي کې د زده کوونکو د جذب ډېروالی دی. د نهم ټولګي په پای کې یوه وروستۍ آزموینه، د نظري او اکاډمیکې لیاقت لرونکو او تخنیکي او مسلکي مینوالو زده کوونکو تر منځ د توپیر په موخه باید واخیستل شي. دغه کار به د زده کوونکو د شمېر ډېروالي او اړتیا وړ امکاناتو له نظره، چې وروسته به هغه روښانه شي، ډېرې پایلې ولري. په لومړنیو پړاوونوکې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د پیلني پروګرامونو پېژند په پام کې نیول کیږي؛ تر څو زده کوونکي او د هغوی والدین له حرفوي زده کړو سره ډېر آشنا شي. په دې مېتود کې تخنیکي او مسلکي زده کړې نه یوازې دا چې د موخې ډلې ډېرې تر خپل پوښښ لاندې راولي؛ بلکې د تخنیکي او مسلکي زده کړو په اړه به ځینې نا سمې پربکړې له منځه لاړې شي. په لاندې (۸) شمېره جدول کې د موخې ډلې ښوودل شوې دي.

*جدول ۱۱: په رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو کې د موخې ډلو توپیر.*

| سرلیک | په رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو کې د موخې ډلې | | |
|---|---|---|---|
| | د ښوونیزو مرکزونو زده کوونکي | کار زده کوونکي | نا لوستي ځوانان |
| موخه (تارګېټ) | ۷۸۰۰۰ | د طرحې په ترڅ کې مالومېږي. | د څېړنې او تولیزې(جامع) طرحې له مخې مالومېږي. |
| ښوونیزه مخینه | د منځنۍ دورې نهم ټولګی. | د کار زده کوونکو له درېیو څخه یوې برخې یې منځنۍ دوره تېره کړې او له نهم ټولګي څخه فارغ دي. | هېڅکله هم ښوونځي ته نه دي تللي |
| اقتصادي محدودیتونه | کورنۍ کولای شي، د زده کوونکو د زده کړو لګښتونه ورکړي. | نامالوم، خو د هغو کورنیو لپاره چې لږ عاید لري او نه شي کولای خپل ماشومان ښوونځیو ته واستوي د استاد ـ زده کوونکي پروګرام یو هیله ښونکی لید لوری دی. | د کورنۍ لپاره د ډوډۍ پیدا کوونکي دی او د دې تر څنګ په مناسب وخت کې کولای شي، تخنیکي او مسلکي زده کړې هم تر لاسه کړي. |
| د کاري او کسبي هیلې او اسرې | د کسب او کار تر لاسه کولو په موخه د فراغت سند. | • په یو کسب یا مسلک کې استاد کېدل، چې په خصوصي برخه کې پېژندل شوی وي. | له ټاکل شویو معیارونو سره سم د کاري شرایطو ښه والی. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | • د دولسم ټولګي سند ترلاسه کول<br>• پوهنتوني یا اکاډمیک سند. | |
| په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې د وړاندیز وړ اسانتیاوې او امکانات. | • د کار موندنې په امکاناتو سره اغېزمنې تخنیکي او مسلکي زده کړې.<br>• د کار زده کولو په لنډمهالو پروګرامونو کې د تجربې تر لاسه کول.<br>• له څو کاله عملي تجربې وروسته مسلکي لوړې زده کړې. | • په امارتي تخنیکي او مسلکي ښوونځیو او ښوونیزو مؤسسو کې د زده کړو دوام.<br>• تر شپاړسم ټولګي پورې مسلکي لوړې زده کړې. | • د دې ډلې لپاره باید یو ځانګړی پروګرام وړاندې شي.<br>• سپارښتې زده کړې دغه موارد وړاندې کوي:<br>• نا لوستې: عملي لیک او لوست (د زده کړو او وړتیاوو ترکیب).<br>• ماډیولار زده کړې هغو کسانو ته وړاندې کیږي، چې لږ لیک او لوست لري، خپل کسب او کار او د کار نړۍ ته ننوتلې وي.<br>• د ماهرکارګر(له وړتیاوو د کار زده کولو) تر کچې لوړتیا لپاره ښوونیز پروګرامونه.<br>• اوږد مهاله بېلا بېل پروګرامونه، د کارګرانو د مهارت کچې لوړاوې او ارتقاء لپاره ارتباطي پروګرامونه.<br>• ټول ښوونیز پروګرامونه له کار شرایطو او د موخې د دې ډلې ژوند لپاره چمتو کیږي. همدارنګه دا پروګرامونه له کار او ټولنیزو چارو وزارت او نورو اړوندو بنسټونو سره په همغږۍ وړاندې کیږي. |

په افغانستان کې تخنیکي او مسلکي زده کړې د خلکو په ذهن کې کمزوری انځور لري. تخنیکي او مسلکي زده کړې په عادي توګه، له لږ ارزښت او اهمیت لرونکي کسب او کار، لږ تنخوا او د کارموندنو فرصت نه لرونکو سره تړاو موندلی دی. د دې چارې لامل کولای شي، تر ډېره د تخنیکي او مسلکي زده کړو د هغو پروګرامونو لږ کیفیت وي، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو فارغینو ته په کار بازار کې د سیالۍ زمینه نه چمتو کیږي. په معمولي توګه داسې انګیرل کیږي، چې تخنیکي او مسلکي زده

کړو ته یو شمېر هغه زده کوونکي راځي، چې لوړو زده کړو ته په شاملېدو نه دي بریالي شوي، دغه ذهنیت باید له منځه لاړ شي.

په دې برخه کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ساده او روښانه پېژندلو او هغو زده کړو ته د لاسرسي ډېروالي په موخه د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ارزښت او اهمیت د خلکو پوهاوی او د ځوانانو مهارت ته لوړتیا ورکوي، د عمومي خبرو اترو فضاء په رامنځته کولو سره، د تخنیکي او مسلکي زده کړو په اړه د خلکو پوهاوی باید د کاري لوړاوي لپاره یوه لاره او لامل شي.

د یوه پتمن او خوندي کار تر لاسه کولو لپاره، کار بازار ته د زده کوونکو په لېږد کې آسانتیاوې د غوره پرمختګ شونتیا چمتو کوي او د تخنیکي او مسلکي زده کړو رابښکونتیا (جذابیت) ته لوړاوی ورکوي. د کیفیت لرونکو زده کړو وړاندې کولو، لاسرسي او د موخې ډلې له اړتیاوو سره د چمتوکېدو، ښوونیزو نصابونو پراختیا، د ښوونکو ظرفیت لوړاوی د ښوونځیو او تجهیزاتو چمتو کولو په څېر ژمنې تر سره کول، د تخنیکي او مسلکي زده کړو د څېرې او اعتبار په ښه کولو کې، د ډېروخلکو په منځ کې اغېز لري. د فارغینو ټولنه (انجمن) رامنځته کول هم باید په پام کې ونیول شي.

د ولسوالي او سیمې په کچه باید تخنیکي او مسلکي زده کړې، د کار بازار او زده کوونکو اړتیاوو ته ځواب ویونکې وي. د لویو موخو لرونکو ډلو لکه: کار زده کوونکو اړتیاوو ته د رسېدنې لپاره، له اسانتیاوو او امکاناتو د غوره، لا اغېزمنې او نرمښت کارولو او ګټې اخیستنې سربېره، دکسب او کار زده کړو پروګرامونه باید له شرایطو او ځایي اړتیاوو سره سمون ولري. د کار بازار څېړنې او له ځایي تشبثاتو او شرکتونو سره د شبکو جوړولو ښه کولو او ښه والي به د لا عملي زده کړې او روزنې پایله ولري، چې په همدې توګه د کار بازار غوښتنو او ځایي او سیمه ییزې سوداګرۍ ظرفیت ته ځواب ورکول کېږي.

### ۶.۳ـ موخه، مقصدونه او فعالیتونه

*جدول ۱۲: موخه، مقصدونه او فعالیتونه*

| لومړۍ موخه: تخنیکي او مسلکي زده کړو ته د ټولو د لاسرسي او ګډون ډېروالی. په هېواد کې د لوړ عمر لرونکو او ځوانانو لپاره په چمتو ښوونیزو فرصتونو کې د عادلانه او ټولګډونه، ګډون ډېروالی. | | |
|---|---|---|
| موخه مقصدونه او فعالیتونه | موخه( ټارګېټ) | شاخص |
| لومړی مقصد: په عمومي توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړې، د خلکو په ذهنونو کې د کارموندنې امکان چمتو کوي او ښه والی ور ببښي. | | |
| ۱ـ د تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړتیا په اړه عامه پوهاوی او د کار او مسلک چمتوکولو ظرفیت. | د هېواد د (۳۴) ولایتونو عام وګړي | له عامو خلکو څخه د هغو کسانو شمېر چې پوهاوی ورکړل شوی دی |
| ۲ـ د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ولایتي مرکزونو له لارو فارغینو ته د کارموندنې چوپړتیاوې وړاندې کول | کلني فارغین | د دندو لرونکو فارغینو شمېر |
| ۳ـ د تخنیکي او مسلکي زده کړو چوپړتیاوو وړاندې کولو په اړه، د پوهاوي په پار د ځایي مخورو او زده کوونکو د والدینو لپاره د پوهاوي پروګرامونو دایرول. | د ښوونیزو مرکزونو د آمریتونو له لارې د هېواد (۳۴) ولایتونه | د هغه ولایتونو شمېر، چې د پوهاوي پرګرامونه په کې دایر شوي دي. |

| دویم مقصد: په ټول هېواد کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو چوپړتیاوو پراختیا | | |
|---|---|---|
| ۱ـ د عمومي زده کړو څخه تخنیکي او مسلکي زده کړو ته د زده کوونکو منل. | په کلني ډول د تخنیکي او مسلکي زده کړو د مرکزونو د اړتیا وړ زده کوونکي له عمومي زده کړو څخه د تخنیکي او مسلکي زده کړو لسم ټولګي ته منل کېږي. | د هغو زده کوونکو شمېر، چې هرکال د تخنیکي او مسلکي زده کړو لسم ټولګي ته منل کېږي. |
| ۲ـ د شته نرمښت منونکو استادانو ګمارنه | د شته اسانتیاوو په پام کې نیولو سره په ځانګه کې د زده کوونکو منل | د زده کوونکو شمېر |
| ۳ـ د نرمښت منونکو ښوونیزو برنامو وړاندې کول. | د موخې ډلې | د ګډون کوونکو شمېر |
| ۴ـ په مرکز او ولایتونو کې د ځانګړو زده کړو پراختیا | په (۱۰) ولایتونو کې ډېرول | له ځانګړې موخې څخه د منل شویو زده کوونکو شمېر |
| ۵ـ په لیرو پرتو ساحو کې د سیارو او ګرځنده ښوونیزو برنامو وړاندې کول | (وروسته له ازمایښت څخه ) ۳۴ ولایتونه | د ګډون کوونکو شمېر |
| **دریم مقصد: د بنسټونو او تجهیزاتو پراختیا او معیاري کول.** | | |
| ۱.په زونونو کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د کمپلکسونو را منځته کول | په دوو زونونو کې د کمپلکس را منځته کول | # د کمپلکسونو شمېر |
| ۲. له شته تجهیزاتو څخه مناسبه ګټه پورته کول | شته اسانتیاوو ته په کتو په ځانګه کې د زده کوونکو منل | د هغو زده کوونکو شمېر چې له عملي کار څخه یې ګټه پورته کړې |
| ۳. په صنعتي پارکونو کې د ښوونیزو مرکزنو را منځته کول. | لس صنعتي پارکونه | # ګټه اخیستونکي |
| ۴. د هر زون د کمپلکسونو د موډل سره سم د لومړیتوب ورکړل شویو ښوووڼځیو او ښوونیزو مؤسسو، بنسټونو او تجهیزاتو معیاري او استنډرډ کول. | په (۳۴) ولایتونو کې | # په وسایلو سمبال شویو ښوونیزو مرکزونو شمېر |
| ۵. د چاپ او خپرونو مدیریت او پراختیا | مرکزي مطبعه او د برېل لیک مطبعه ترمیم او سمبالول | د چاپ شویو کتابونو او درسي توکو شمېر |
| ۶. د چاپیریال ساتنه او د ښوونیزو مرکزونو د ښکلا او زرغونتیا وده | ۱۵۰ ښوونیز مرکزونه | د ښوونیزو مرکزونو شمېر |

### ۶.۴ـ د تمې وړ پایلې

پورته موخې ته په رسېدو او د یادو فعالیتونو په تر سره کولو سره، به لاندې د تمې وړ پایلې تر لاسه شي:

۱- عام وګړي د تخنیکي او مسلکي زده کړو له ظرفیت او وړتیاوو او د کسب او کار لارو ټاکلو لپاره د هغو له ظرفیت څخه خبروي.
۲- د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري فارغینو سره د کسب او کار تر لاسه کولو په موخه اړینه مرسته او همکاري کیږي.
۳- ځایي اوسېدونکو او د زده کوونکو والدینو ته د پوهاوي ورکولو پروګرام، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د چوپړتیاوو وړاندې کولو په اړه، د پوهاوي ورکولو په موخه وړاندې کیږي.
۴- له پوهنې وزارت سره، له عمومي زده کړو څخه د لیږد په برخه کې هوکړه شوې ده، چې د زده کوونکو او زده کړیالانو د ډېروالي لامل کیږي.
۵- د معلولینو په ځانګړې توګه د کڼو او ړندو لپاره ځانګړې زده کړې وړاندې کیږي او هغوی په ځان بسیاینې لور ته بیایي.
۶- د تخنیکي او مسلکي زده کړو کمپلکسونه د هېواد په دوو زونونو کې، د اداري د موخو څارلو لپاره رامنځته کیږي
۷- ښوونیز مرکزونه د اړتیاوو په پوره کولو سره سمبالیږي.
۸- اړتیا لرونکو ته د ښو چوپړتیاوو وړاندې کولو لپاره ګرځنده او آنلاین زده کړې چمتوکیږي.
۹- د هر زون د کمپلکسونو د موډل سره سم د لومړیتوب ورکړل شویو ښوونځیو او ښوونیزو مؤسسو، بنسټونه او تجهیزاتو معیاري کیږي.

## په صنعتي پارکونو کې د ښوونیزو مرکزونو د رامنځته کولو په اړه روښانتیا او سپیناوی.

اوس مهال په هېواد کې (۳۷) صنعتي پارکونه شته، چې له دې ډلې څخه (۱۲) یې فعال او (۲۵) نور په پلان کې نیول شوي او تر کار لاندې دي او صنعت کارانو ته د ځمکې ویش جریان لري.[۳۹]

*جدول ۱۳: فعال صنعتي پارکونه (سرچینه: د صنعت او سوداګرۍ وزارت)*

| شمېره | د صنعتي پارک نوم | موقعیت (ولایت) | مساحت (جریب) | د کار خونو مجموعي شمېر | د فعالو کار خونو شمېر |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د پلچرخي صنعتي پارک | کابل | ۱۳۴۸ | ۳۶۰ | ۲۷۱ |
| ۲ـ۳ | د جمعه محمد محمدي صنعتي پارک ۲.۱ فاز | کابل | ۱۰۰ | | ۳۸ |
| ۴ | د باریکاب صنعتي او کرنیز پارک | پروان | ۲۰۰۰ | | |
| ۵ | د هرات صنعتي پارک ۱. ۲. ۳ فاز | هرات | ۳۸۵۰ | ۵۱۵ | ۱۶۶ |
| ۶ـ۷ | د امیر علي شیر نوایي صنعتي پارک ۱. ۲ فاز | بلخ | ۹۲۵ | ۲۰۱ | ۲۴ |
| ۸ | د شادیان صنعتي پارک | بلخ | ۱۲۵۰ | ۱۱۳ | ۸۱ |
| ۹ | د شیخ مصري صنعتي پارک | ننګرهار | ۱۵۰۰ | ۴۵۲ | ۵۱ |
| ۱۰ | د شور اندام (عمومي) صنعتي پارک | کندهار | ۳۸۵۰ | ۱۶۶ | |
| ۱۱ | د شور اندام(USAID) صنعتي پارک | کندهار | ۷۵ | ۱۶ | ۱۴ |

[۳۹] د صنعت او سوداګرۍ راپور، د هغه په ویپاڼه کې د بیا کتنې نېټه (د مارچ ۱۵- ۲۰۲۳)، په دې پته:
https://moci.gov.af/dr/%D9%BE%D8%A7%D8%B1%DA%A9-%D9%87%D8%A7%DB%8C-%D8%B5%D9%86%D8%B9%D8%AA%DB%8C

په دې صنعتي پارکونو کې، د هېواد ځینې صنعتي او تولیدي کارخونې شته دي او ډېر ماهر او صنعتي کارګر په دې کارخونو کې په کار بوخت دي. صنعتي پارکونه په رښتیا هم، چې د کارکوونکو او متخصصینو د مهارت ساتلو لپاره د اړیکو پُل دی او د ماهر کاري ځواک په چمتو کولو کې د هغې ونډه ښکاره ده؛ نو ځکه په دې پارکونو کې د کسب او کار لرونکو مهارت او پیاوړتیاوې باید د ټکنالوژۍ پرمختګ له پیاوړتیا سره د پام وړ او متناسبه، ارتقاء ورکړل او تازه شي. په همدې بنسټ د پارکونو په منځ کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ښوونیزو مرکزونو رامنځته کول، د کارکوونکو او صنعت کارانو لپاره دغه فرصت او امکان چمتو کوي، چې وکولای شي، پر کاري ظرفیت، ارتقاء او د مهارت پراختیا او مرکزي پیاوړتیا سر بېره د زده کړو او تجربو د لېږد لپاره هم وي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره کولای شي، د صنعت او سوداګرۍ وزارت، صنعتي پارکونو او خصوصي سکټور په مرسته او همکارۍ د صنعتي پارکونو په منځ کې د ښوونیزو مرکزونو په رامنځته کولو اقدام وکړي. په لومړي پړاو کې به له ښکیلو اړخونو سره په ګډه، په صنعتي پارکونو کې د ښوونیزو مرکزونو د رامنځته کولو څرنګوالي په موخه څېړنې او مطالعې ترسره شي، چې په هغه کې، د زده کړو لپاره د اړتیا وړ حرفې او څانګې او د هغوی د نصاب جوړونه، د تدریس څرنګوالي او د ښوونیزو پروګرامونو وړاندې کولو په موخه روښانتیا ورکول کیږي. سربېره پر دې به، د دې ښوونیزو مرکزونو د امکان او اړتیا مالومول، هم تر سره شي او په وروستیو پړاوونو کې په صنعتي پارکونو کې، چې ډېر صنعت کاران او کارخونې په کې شته، د دې مرکزونو د بنسټ اېښودنې او رغونې لپاره ګامونه پورته کیږي.

## ۷ـ دویمه ستراتیژیکه موخه: د کار بازار شرایطو سره سم د تخنیکي او مسلکي زده کړو د کیفیت کچې لوړول.

**کیفیت او له کارموندنې ورتیاوو سره اړیکې:** زده کوونکي په ټولو کچو کې زده کړې، مهارتونه، مینې او اړوند ارزښتونه تر لاسه کوي، تر څو وګړي مسئول، جوړونکي او روغ وي او د ټولنې د هوساینې په برخه کې د خدمت لپاره تیار وي، همدارنګه په ځایي او ملي اقتصاد کې د کار رامنځته کولو په پیاوړتیا او کار موندنې په وړتیا هم مجهز وي.

تخنیکي او مسلکي زده کړې ځوانان د کار بازار لپاره، همدارنګه د آزاد کسب او کارلرونکي یا کارکوونکي تیار او چمتو کوي، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره، ښوونیزې چوپړتیاوې په دې ډول وړاندې کوي، چې فارغین له دوو لارو څخه یوه یې و ټاکي: آزاد کسب او کار یا ځانته کسب او کار یا هم متشبث کیدل، په ځانګړې توګه په کلیوالي سیمو یا د ښارونو په څنډو کې په کار بازار کې مهمه لار ښکاره کوي. په یوه مالومه ځانګه کې له تخنیکي پیاوړتیا یا مهارت څخه د برخمن کېدو تر څنګ د آزاد کسب او کار لرلو سره سره نورو ډېرو شیانو ته اړتیا لري. متشبثان یا کار را منځته کوونکي د پنځونې، په ځان ډاډ او باور، د ریښتینولۍ پر بنسټ د بازار ارزونه، د اقتصادي مدیریت لومړني مهارتونو او خطر منلو زړورتیا لپاره هم اړتیا لري. دغه ټولنیز او فني مهارتونه د تخنیکي او مسلکي زده کړو له مهمې برخې څخه دي. همدارنګه د دیني زده کړو او روغتیایي برخو په اړه عامه پوهاوی هم د دې کیفیت لرونکو زده کړو څخه دي، چې کولای شي، د فارغینو هوساینې او د ژوند کړنلارې ته ښه والی ورو‌بښي.

### ۷.۱ـ د ستراتیژۍ بیانیې او څرګندونې

۱- په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې ټولې ځانګې د ((کار لپاره زده کړې)) فلسفې او عملي وړتیاوو پورې تړلې دي.[٤٠] په ((کاري چاپېریال کې د عملي زده کړو)) بهیر، تر لاسه شوې پیاوړتیاوې او عملي مهارتونه د زده کړو له اصلي توکو او عناصرو څخه دي.

۲- تخنیکي او مسلکي زده کړې باید له کار بازار سره ډېرې اړیکې ولري. تخنیکي او مسلکي زده کړې به له کار ګمارونکو سره د اړیکو له لارې وکولای شي، تر څو هم ښوونیز نصاب تنظیم کړي او هم په بېلا بېلو ځانګو کې د بازار اړتیاوو ته په کتو زده کوونکي ومني.

۳- تخنیکي او مسلکي زده کړې په یوویشتمه مېلادي پېړۍ کې د کار نړۍ لپاره زده کوونکي چمتو کوي. د ژوند مهارتونه او د کار موندنې اړتیاوې لکه: مدیریت، د نیوکې فکر، د مسئلې حل، د اړیکو او مالوماتي ټکنالوژي، نړیوالتوب[٤١]، ښاریتوب او د بشر اسلامي حقونه به د دې زده کړو له اصلي برخو څخه وي.

۴- تخنیکي او مسلکي زده کړې هڅه کوي، تر څو ټولې ښوونیزې برنامې د اسلامي حکمونو په رعایت کولو سره د نني کار بازار له اړتیاوو او نړیوالو معیارونو سره چمتو کړي، تر څو وکولای شي، په نړیوالو معیارونو سره فارغین ټولنې ته وړاندې کړي.

۵- باید چې زده کوونکي په هره تخنیکي او مسلکي ځانګه کې، روغتیایي او دفاعي قوانین مراعات کړي.

### ۷.۲ـ د ستراتیژۍ تشریح

د کار بازار ارزونې ته په کتو، د کسب او کار لسو ځانګو لپاره باید نوی ښوونیز نصاب جوړ شي. د خصوصي برخې له شریکانو سره په مرسته د وړتیاوو اړانه چمتوکیږي، د هغې تر څنګ به ځانګړې تخنیکي زده کړې او نصاب چې ټولنیزې او د ژوند مهارتونو زده کړې به کې شاملې وي، ځای ولري. د ښوونیزو توکو او تدریسي مېتود له کبله د عملي او نظري زده کړو ترکیب په اړه اصولي پرېکړه نیول کیږي، تر څو په هغې کې د کار چاپېریال په اړه د زده کړو مېتود روښانه وي. دغه کار باید

---

[٤٠] په عملي وړتیاوو کې درې ډوله پیاوړتیاوې شاملې دي: ۱) عملي مهارت، ۲) بنسټیز مهارتونه، ۳) د مهارتونو د پېژندلو او پلي کولو پیاوړتیاوې.

[41] Globalization

د کاري مقررو له بیا کتنو سره وشي، تر څو ښوونکو ته هم انګیزه ورکړي. د مسلکي استادانو مهارت لوړولو لپاره د داخل خدمت زده کړو وړاندې کول یا د تجربه لرونکو استادکارانو ګمارل د عملي تدریس د پرمختګ او ارتقاء سبب کیږي. د کافي تجهیزاتو او امکاناتو چمتو کول، د زده کولو خوندي او سالم چاپېریال منځته راوړلو تر څنګ د رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو د معیاري چوپړتیاوو برخه جوړوي.

له دې څخه ډاډ تر لاسه کول، چې زده کوونکي له تخنیکي او مسلکي زده کړو سره مینه او لېوالتیا لري، د زده کولو، پایلو ته د روښانه پولو ټاکل او د لوړو زده کړو او مسلکي منځنیو زده کړو تر منځ توپیر رامنځته کېږي او په پراخه توګه د دوی د لاسرسي وړ ګرځي. که چیرې د عملي مهارتونو کچه یا کاري تجربه د مسلکي استادانو د ګمارنې په ترڅ کې د رڼو او سختو معیارونو یوې برخې په توګه په پام کې ونیول شي، د تدریس معیارونه هم لوړاوی او ارتقاء کوي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو لپاره د کسب او کار معیار جوړونه، او له کار بازار سره اړیکې، د کار موندلو لپاره د فارغینو فرصتونه ډېروي. د معیارونو د چمتو کولو پروسه، د همکارۍ او همغږۍ لپاره د پیل ټکي:

الف) د تخنیکي او مسلکي زده کړو شورا د وړتیاوو له اړانې سره د تړاو ډاډ ترلاسه کول؛

ب) د اړیکو پراختیا لپاره د کار بازار په دودیزه توګه د استاد-زده کوونکي پروګرام چمتو کوي. د حرفوي معیارونو کارول د کار او ټولنیزو چارو وزارت سره په همکارۍ کې وده کوي ، په ځانګړي توګه کله چې یو متشبث یا شرکت ته جواز ورکول کیږي.

د استادانو د عملي پیاوړتیا کچې لپاره د لوړو معیارونو رامنځته کول، د داخل خدمت زده کړو وړاندې کول او د عملي زده کړو لپاره د تکړه استادانو ګمارل، د کیفیت لوړاوي په لوري د بنسټیزو ګامونو له ډلې څخه دي. له دې ټولو سره، اصلي آزموینه عبارت ده د نویو استادانو په ګمارنه کې د سختو معیارونو پلي کول، د اوسنیو استادانو د ظرفیت لوړول، د اړتیا وړ ملاتړ او دکړنو پر بنسټ مدیریت، چې د ظرفیت لوړولو لپاره په ځایي، ولایتي او ملي کچه د بشري سرچینو د پالیسیو د مدیریت له ډلې څخه دي. د وضع شویو معیارونو په یو روښانه او روڼ مېتود سره عملي کول، له دې څخه ډاډ تر لاسه کول دي، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري داسې استادان ګمارلي دي، چې د تمې وړ وړتیاوې او پیاوړتیاوې لري او د نوي مېکانېزم پر بنسټ په لنډ وخت کې له خصوصي برخې څخه د ماهرو او تکړه استادانو د ګمارنې لپاره چې له عملي برخې استادانو سره ورته والی لري د ګټې وړ ګرځي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره، د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ښوونیزو مرکزونو د پلان جوړونې میکانیزم پراختیا په موخه یو پروګرام یا میکانیزم رامنځته کوي او د ښوونځیوکیفیت ارزونې په برخه کې د اړوندوکارکوونکو له ظرفیت، ارتقاء او پلان جوړونې پراختیا، ترسره کونې، څارنې او ارزونې سره یوځای د بشپړ کیفیت لرونکې دورې په توګه په ښوونیزو مرکزونو کې ټاکل شوي توکي کارول کیږي.

د پراختیا او ارزونې لوېې برخې باید اداري اغېزمنتیا او کیفیت وړاندې او ښوونیزو پایلو ته پوښښ ورکړي. هغه فرعي شاخصونه چې باید تر څېړنې لاندې ونیول شي، کولای شي د مسئلو دکیفیت اړانې پربنسټ پراختیا وومومي او د نارسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو لپاره وي. همدارنګه نوي ملاحظات لکه: د نوښت کچه او د هغې وړاندې کول، د استادانو د ظرفیت لوړونې لپاره له لرې واټن څخه د زده کړو د پروګرامونو پلي کول، له نویو ټکنالوژیو څخه ګټه اخېستنه او نور، کارول کیږي. له پلان جوړونې پراختیا او ښوونځیو ارزونې څخه دپلي کولو پړاو لوړ او مهم دی، همدارنګه له پرمختللیو پلانونو څخه ملاتړ کوي.

د ښوونیزو مرکزونو سره د دوديزې لارې (ښوونکي ـ زده کوونکي) ترمنځ د اړیکو د زیاتولو لپاره به پراخه هڅه وشي. په دې برخه کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره په عامه او خصوصي برخو کې کار زده کوونکو لپاره چې غواړي د تخنیکي او مسلکي پوهې د زیاتوالي او د مسلک د پرمختګ لپاره د مدیریت مهارتونو د ترلاسه کولو په موخه ښوونیزو مرکزونو ته ولاړ شي، د لارښوونې مواد چمتو کوي. د ولسوالیو ښوونیز مرکزونه د دغو زده کوونکو لپاره زمینه چمتو کوي، چې په نرمښت منونکي توګه او د ماډیولار ښوونیز نصاب، عملي مهارتونو او پخوانیو زده کړو ته په کتو سره ښوونیزو مرکزونو ته ولاړ شي.

### ۷.۳ـ موخه، مقصدونه او فعالیتونه

*جدول ١٤: موخه: مقصدونه او فعالیتونه*

| دویمه موخه: د کار بازار له شرایطو سره سم د تخنیکي او مسلکي زده کړو د کیفیت د کچې لوړول: زده کوونکي په ټولو کچو کې، زده کړې، مهارت، علاقه او اړوند ارزښتونه تر لاسه کوي، تر څو مسئول وګړي رغوونکي او سالم وي او د ټولنې د هوساینې په برخه کې د خدمت لپاره چمتو وي او هم په ملي او خاُیي اقتصاد کې د کار موندلو او کار رامنځته کولو په وړتیاوو سمبال وي. | | |
|---|---|---|
| **لوی مقصدونه او فعالیتونه** | **موخه (تارګېټ)** | **شاخص** |
| **لومړی مقصد:** د (ځایي، ملي او سیمه ییز) کار بازار اړتیاوو سره مناسب د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ځانګو او کاري برخو پېژندنه او پراختیا. | | |
| ۱ـ د ملي او نړیوالو څېړنو په پام کې نیولو سره او د اسلامي دین احکامو په رڼا کې له خصوصي سکټور سره د کسب او کار معیار پېژندنه او ټاکنه. | د ترسره شوې څېړنې او ښننې پر بنسټ او په ځانګړي سند کې اړین معیارونه چمتو او جوړیږي. | چمتو شوي سندونه |
| ۲ـ له کار بازار او د ارزښت کړۍ څخه د سیمه ییزو، ملي او ځایي اړتیاو څېړنه او ښننه. | په (۳۴) ولایتونو کې | د راټول شویو مالوماتو شمېر |
| ۳ـ د سیمه ییز، ملي او خایي کار بازار ښننې پر بنسټ د لومړیتوب ورکړل شویو کاري ځانګو لپاره د شته ځانګو همغږي او د عصري ښوونیزو ځانګو را منځته کول | په (۳۴) ولایتونو کې | د ځانګو شمېر او چمتو شوي نصابونه |
| **دویم مقصد:** د مناسب موخې ډلو تر پوښښ لاندې نیول په (مناسبو ځانګو کې) د زده کوونکو وړ او اغېزمنه ټاکنه | | |
| ۱ـ د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري په برنامو کې د موخې وړ ډلو بیا کتنه | په ټول هېواد کې | د څېړل شویو موخو ډلې شمېر |
| ۲. منځنیو ښوونځیو، لیسو او نیمه لوړو رسمي زده کړو ته د زده کوونکو د ټاکنې او ور پېژندنې بهیر ته بیا کتنه | په ځانګړي سند کې اړینې کړنې د ترسره شویو څېړنو پر بنسټ چمتو کیږي | د چمتو شویو سندونو شمېر |
| ۳. د استاد – زده کوونکي برنامې پراختیا | اړینې ځانګې او نصابونه چمتو کیږي | د چمتو شویو ځانګو او نصابونو شمېر |
| **درېیم مقصد:** د اعتبار ورکولو پروګرامونو له لارې د کیفیت لوړول | | |
| ۱ـ د ښوونیزو مرکزونو د کیفیت د تضمین بهیر ترتیب او را منځته کول | د هېواد (۳۴) ولایتونه | د ښوونیزو مرکزونو شمېر |

| | | |
|---|---|---|
| ۲. د تخنیکي او مسلکي ښوونځیو او ښوونیزو مؤسسو کې د ارزونې او اعتبار ورکونې د سیستم را منځته او پراختیا ورکول | ۲۰۰ ښوونیز مرکزونه | د ښوونیزو مرکزونو شمېر |
| ۳ـ د تخنیکي او مسلکي زده کړو زده کوونکو ته د تصدیق ورکولو سیستم را منځته او پراختیا ورکول | د هېواد د (۳۴) ولایتونو ټول ښوونیز مرکزونه | هغه ښوونځیو شمېر چې په سیستم باندې سمبال شوې دي |
| ۴- په کار بازار کې د تجربه لرونکو استاد کارانو لپاره د تصدیق ورکونې په موخه د ارزونې سیستم رامنځته او پراختیا ورکول | د هېواد په (۳۴) ولایتونو کې | د چمتو شویو سندونو شمېر |
| ۵- د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ښوونځیو او ښوونیزو مؤسسو کې د عملي کار د ښوولو لپاره د کار بازار له استاد کارانو څخه ګټه پورته کول | د هېواد په کچه | د ټاکل شویو استاد کارانو شمېر |
| **څلورم مقصد:** ماډیولار ښوونیز نصاب او کرېډېټ سیستم په لاره اچول او پلي کول | | |
| ۱.د کسب او کار ځانګو لپاره د کرېډېټ سیستم او ماډیولار جوړښت پربنسټ د واحد نصاب د اړاتې پراختیا | د هېواد (۳۴) ولایتونو ښوونیز مرکزونه | د هغو مرکزونو شمېر، چې کرېډېټ او ماډیولار سیستمونه په کې پلي شوي دي |
| ۲. په تخنیکي او مسلکي رسمي زده کړو کې د کرېډېټ او ماډیولار سیستم پر بنسټ د نصابونو او ځانګو پراختیا | (۶۵) ځانګې | د رامنځته او جوړ شویو ځانګو او نصابونو شمېر |
| ۳ـ په تخنیکي او مسلکي ښوونیزو برنامو کې د کار رامنځته کونې(تشبث) مفهوم ځای پرځای کول | (۶۵) ځانګې | د چمتو شویو نصابونو او منځپانګو شمېر |
| **پنځم مقصد:** د تخنیکي او مسلکي زده کړو برښنایي یا مجازي ښوونیزو برنامو وړاندې او پراختیا | | |
| ۱. د مجازي ښوونیزو برنامو، چې د ځانګړو موخو لرونکو ډلو اړتیاوې تر پام لاندې نیسي، چمتو، تر سره او ارزول | د مجازي زده کړو سیستم په لاره اچول او پراختیا ورکول | د ښوونیزو برنامو او د ګډون کوونکو شمېر |
| ۲. په تخنیکي او مسلکي زده کړو کې د لیرو لارو څخه د زده کړو په اړه په سیمه ییزه کچه د علمي او عملي برخو سره مرسته کول | ۲۰ هوکړې | د لاسلیک شویو هوکړه لیکونو شمېر |
| ۳. د استادانو لپاره د پوهې او مهارتونو دوامداره پرمختګ شونتیا او د مالوماتو، تجربو او مرستو تبادلې لپاره د ډیجیټل زده کړې چاپیریال چمتو کول | د هېواد په کچه | د ګډون کوونکو شمېر |
| **شپږم مقصد:** د استادانو علمي او عملي ظرفیت لوړول | | |
| ۱. د ارزونې او ډلبندۍ (علمي رتبې) سیستم را منځته او پراختیا ورکول | د هېواد د (۳۴) ولایتونو ښوونیز مرکزونو استادان | د هغو استادانو شمېر چې زده کړې ورکړل شوي دي |
| ۲. د تخنیکي او مسلکي زده کړو ښوونکو لپاره د تدریسي وړتیاوو او عملي مهارتونو په لوړ تمرکز سره د خدمت څخه دمخه او د خدمت په بهیر کې | د هېواد د (۳۴) ولایتونو ښوونیزو مرکزونو استادان | د هغو استادانو شمېر چې زده کړې ورکړل شوي دي |

| | | |
|---|---|---|
| ښوونکو روزنې لپاره د اوږدمهاله برنامې رامنځته او پلي کول | | |
| ۳. په کار زده کړو برنامو کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ښوونکو د ځانګه ییزو عملي مهارتونو لوړول | د هېواد د (۳۴) ولایتونو ښوونیزو مرکزونو استادان | د هغو استادانو شمېر چې زده کړې ورکړل شوې دي |
| **اووم مقصد:** د ولسوالیو او ولایتونو په کچه د کاربازار او زده کوونکو اړتیاوو ته ډېره رسېدنه | | |
| ۱ـ د ځایي کار بازار اړتیاوو سره په ښوونیزو مرکزونو کې شته ځانګو د ورته والي څېړل او اړتیاوو ارزول | د ۳۴ ولایتونو ښوونیزو مرکزونه | د بیاکتل شویو نصابونو او ځانګو شمېر |
| ۲ـ د ښوونیزو پروګرامونو د یوې کڅوړې چمتو کول (چې پر بنسټ یې تولنې او سیمه ییز پرمختیایي شوراګاني وکړای شي چې د ځایي کار بازارونو لپاره ور وړتیاوې او مهارتونه غوره کړي) | د هېواد په کچه | د پلي شویو برنامو شمېر |
| ۳ـ په ځایي خصوصي برخه کې د کار زده کړې عملي ښوونیز مهارت تر سره کول | د هېواد په کچه | د ګډون کوونکو شمېر |

## ۷.۴ـ د تمې وړ پایلې

پورته موخو ته له رسېدو او د هغې د فعالیتونو له عملي کېدو وروسته، به لاندې پایلې تر لاسه شي:

۱- له خصوصي سکټور سره د کسب او کار معیارونه او سټنډرډونه د ملي او نړیوالو څېړنو په پام کې نیولو سره ټاکل او پېژندل کیږي.

۲- د کسب او کار لومړیتوب ورکړل شویو ځانګو لپاره د ملي او د ځایي کار بازار شننې او تحلیل پر بنسټ نوي ښوونیزې ځانګې رامنځته او وړاندې کیږي.

۳- له علمي او عملي نظره، د ښوونیزو مرکزونو د استادانو ظرفیت ته لوړتیا او ارتقاء ورکول کیږي.

۴- د تخنیکي او مسلکي زده کړو ښوونځیو او ښوونیزو مؤسسو ته د اعتبار ورکولو سیستم جوړ او پراختیا ورکول کیږي.

۵- په کار بازار کې د شته استادانو او تجربه لرونکو استادکارانو ته د تصدیق ورکونې او ارزونې سیستم ته پراختیا ورکول کیږي.

۶- د تخنیکي او مسلکي زده کړو، زده کوونکو لپاره د تصدیق ورکولو سیستم ته پراختیا ورکول کیږي.

۷- د کسب او کار ځانګو لپاره د کرېډیټ سیسټم او ماډیولار جوړښت پربنسټ د واحد نصاب اډانې ته پراختیا ورکول کیږي.

۸- له اړوندو ځانګو سره په مرستې او همغږۍ، د شونتیا په صورت کې په ملي کچه د ماډیولار او کرېډېټ سیستم پربنسټ، نصاب او ځانګو ته پراختیا ورکول کیږي.

۹- د ولایت او ولسوالي په کچه د کار بازار او زده کوونکو اړتیاوو ته رسېدنه کیږي.

۱۰- د موخې ډلې بیا کتل او ارزول او د شرایطو د غوښتنې سره سم به پریکړه کیږي.

۱۱- د استاد-زده کوونکي برنامې په ښه توګه پلي کولو سره به د مهارت کچې ته لوړاوی ورکول کیږي.

## ۷.۵ـ پلان شوي چارې

### ۱ـ د تخنيکي او مسلکي زده کړو سره د استاد ـ زده کوونکي دوديزې کړنلارې، د اړيکو او تړاو په پار، د ورتياوو اړاوتې رامنځته کول

د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداره، په شرکتونو او تشبثاتو کې د ځوانانو عملي زده کړو ته ارزښت ورکوي، په همدې توګه د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداره غواړي، چې په کاري چاپېريال کې د زده کړو په بشپړولو سره، د بشپړ ښوونيز نصاب له لارې لکه: ټکنالوژۍ، تخنيکي اړيکو، عملي رياضياتو او اسلامي ثقافت په مضمونونو سره د هغې ملاتړ وکړي. اوس په ځينو ولايتونو کې د کار زده کوونکو لپاره آزمايښتي پروګرام جريان لري. تر دې دمه د زده کوونکو او متشبثانو اخيستنه او نظرونه هيله بښونکي دي. پلان شوې ارزونې ته په کتو سره، دغه طرحه تر (۱۰) مسلکي ښوونيزو مؤسسو او ښوونځيو پورې پراختيا مومي، چې ډېر ټينګار او تمرکز يې په ښاري مرکزونو دی.

په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د استاد ـ زده کوونکي پروګرامونو لپاره اغېزمنه او ګټوره اړاوته چمتو کول، له خصوصي سکټور سره په همکارۍ نويو مېتودونو ته اړتيا لري، له هغه ځايه چې کار زده کوونکي د خپل وخت ډېره برخه نږدې (۷۰٪) په شرکتونو او تشبثاتو کې تېروي، خصوصي برخه په دې اړه اصلي ونډه په غاړه لري. شته لارښوودونه او د مسلکي ښوونځيو اسانتياوې د زده کړو مېتودونو سره د کار په چاپېريال کې سمون، نه کوي.

### ۲ـ په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې د زده کوونکو منلو معيارونو ته بيا کتنه

د اداري ماموريت دا دی، چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو په ښوونيزو مرکزونو کې ځوانان د کسب او کار مهارتونه په بېلا بېلو کچو کې په لاس راوړي او دغه ماموريت د تخنيکي او مسلکي زده کړې پولې او محدوده تعريفوي. له دې کبله هره ښوونيزه دوره په کار بازار کې د منلو وړ مهارتونو يوه کچه، د زده کړو د موخو په توګه راپېژني. زده کوونکي بايد تخنيکي او مسلکي زده کړو ته داخلېدلو معيارونه بشپړ کړي، ځکه چې له دې معيارونو څخه د زده کوونکو د جذب په بهير کې ګټه اخيستل کېږي. زده کوونکي د نيمه لوړو زده کړو په کچه د زده کړو دوام لپاره بايد د دولسم ټولګي شهادتنامه او يا د کار زده کوونکي، کارګر يا کار کوونکي په توګه په کار بازار کې کاري تجربه ولري. پر دې سربېره، به زده کوونکو ته بشپړې زده کړې وړاندې شي، تر څو د کار زده کولو له دورې او دولسم ټولګي فراغت وروسته، وکولای شي، په تخنيکي او مسلکي زده کړو کې زده کړو ته ادامه ورکړي او د ټکنيشين يا د عملي زده کړو انجنير په توګه ټولنې ته وړاندې شي.

*جدول ۱۵: په بېلا بېلو کچو کې د زده کوونکو د منلو شرايط او معيارونه*

| ښوونيزه کچه | د ښوونيزو پروګرامونو ډول | ښوونيزه څټه | د ګټه اخيستونکي وضعيت | کاري تجربه | د مهارت کچه |
|---|---|---|---|---|---|
| لومړنۍ زده کړې | د کار وزارت لنډمهاله ښوونيزې دورې | نه لري | کارګر/ د کسب اوکار لرونکي | يو کال | ۱ |
| لومړنۍ تخنيکي او مسلکي زده کړې | رسمي مسلکي ښوونځي (ورځنۍ او شپنۍ) | نهم ټولګي | زده کوونکي | نه لري | ۲ |
| | د استاد ـ زده کوونکي برنامې کار زده کوونکي | نهم ټولګي | کار زده کوونکي | نه لري | |
| مسلکي نيمه لوړې زده کړې (عملي زده کړې) | ماهر استاد کار | دولسم ټولګي | کارکوونکي/ د کسب او کار لرونکي | دوه کاله | ۳ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| تخنیکي او مسلکي لوړې زده کړې | د عملي زده کړو انجنیر | دولسم/ څوارلسم ټولګی | کارمند/ دنده لرونکی | څلور/ دوه کاله | ۴ |

## ۳ـ د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ښوونکو زده کړو او ګمارنې، معیارونو ته بیا کتنه

د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ځینو ښوونکو د ظرفیت لوړونې او مهارت کچې د پراختیا لپاره کولای شو، لاندې چارې ترسره کړو:

- د ښوونکو د ګمارنې په شرایطو کې د مهارتونو او پیاوړتیاوو معیار، بیا کتل شوی او په علمي مهارتونو او تدریس پیاوړتیاوو باندې دا ټینګار کیږي، چې ښوونکي باید د وړتیا او پوهې پر بنسټ د تدریس له مېتود سره بلدتیا ولري. دغه فعالیتونه د اوسنیو او نویو ګمارل شویو ښوونکو لپاره، له خدمت وړاندې (قبل ازخدمت) او د خدمت په بهیر (داخل خدمت) کې د ښوونکو روزنې دورو په پلي کولو سره بشپړیږي.
- د ګمارنې په جریان کې د دې معیارونو سخت پلي کول او د کړنو د ارزونې په وخت کې له هغې څخه ګټه اخیستنه د مسلکي ښوونکو لرلو لپاره د بشري سرچینو مدیریت او تنظیم په برخه کې د وړتیا جوړونې مېتود رامنځته کېدو لامل کیږي. دغه مېتود د ښوونکو تر منځ د زده کولو انګیزې او د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري له لوري د زده کړو وړاندې کولو شونتیا ته اړتیا لري.
- په عملي برخه کې د مهارت پربنسټ د زده کړو زمینې چمتو کولو لپاره، باید متخصص استاد کاران د لوړې کاري تجربې په لرلو سره له شرکتونو او تشبثاتو څخه و ګمارل شي.
- د مسلکي ښوونکو لپاره، له خدمت وړاندې (قبل ازخدمت) او د خدمت په بهیر (داخل خدمت) کې زده کړو په موخه، اوږدمهاله پروګرامونه چمتو او پلي کیږي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو استادانو وړتیا، مهارت او زده کړو لپاره لوی معیارونه او له خدمت وړاندې زده (قبل ازخدمت) کړو لپاره، په نیمه لوړو زده کړو کې وَړ او مناسبې ښوونیزې څانګې پېژندل کیږي. همدارنګه له خدمت وړاندې (قبل ازخدمت) زده کړې په ټولیزه توګه د دوی لپاره وړاندې کیږي.

## ۴ـ د تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړو د فراغت اسنادو او د تصدیق پاڼو د اعتبار پیاوړتیا

په ټولنه کې، بېلا بېل کسب او کارونه او حرفې شته دي، چې د مهارتونو او اړینو تخنیکونو ترلاسه کولو ته اړتیا لري، د دې د پېژندلو لپاره، چې یو وګړی د کسب او کار لپاره اړین مهارت لري، اړتیا ده، تر څو د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره، له اړوندو ادارو سره په همغږۍ د هغو وګړو د مهارت او وړتیا پېژندنې او ثبتولو لپاره به ګام پورته کړي، چې د شرایطو سره سم وي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره په پام کې لري، چې د خپل ښوونیز کیفیت د ښه والي په برخه کې، د زده کوونکو د مهارت کچه لوړه کړي، په دې ډول چې دوی وکولای شي، په عامه اوخصوصي سکټورونوکې، د استاد کارانو او ماهرو کارګرانو په توګه وګمارل شي یا وکولای شي، په ټولنه کې خپل کسب او کار او مهارتونه په کار واچوي او کار رامنځته کړي. د دې کار تر څنګ اړینه ده، تر څو د دې اداري د فراغت اسناد او تصدیق پاڼې، چې زده کوونکو او کار زده کوونکو ته له فراغت وروسته یا د ښوونیزې دورې په پای کې ورکول کیږي، په ټولنه او د صنعت کارانو او خصوصي او عامه ادارو تر منځ پېژندل شوې وي، د منلو وړ وګرځي. دغه کار له اړوندو څانګو او ادارو لکه: د کار او ټولنیزو چارو وزارت، ښاروالۍ، د سوداګرۍ خونو او خصوصي سکټور سره د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري دوام لرونکو مرستو او همغږیو ته اړتیا لري.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره له اړوندو ځانګو سره په مرسته، هڅه کوي، تر څو په راتلونکي کې له تخنیکي او مسلکي زده کړو څخه د فراغت اسناد او یا حرفوي تصدیق پاڼې لرل په عامه او خصوصي برخه کې د تخنیکي او ماهرو کار کوونکو په توګه د کسب یا حرفوي کارونو او یا ګمارنې لپاره یوه اړتیا وي. او په دې موخه به د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره له اړوندو ادارو سره په همغږۍ له تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړو څخه د فراغت سند ته د اعتبار ورکولو په برخه کې یوه طرحه ترتیب کړي، تر څو د هغې له مخې د تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړو ټول فارغین وکولای شي، په ټول هېواد کې وړ او مناسب کسب او کار تر لاسه کړي. همدارنګه د هغې طرحې اړوندو کسبګر او د نورو چارو خاوندان، چې په تخنیکي او مسلکي زده کړو پورې اړه لري او اوس مهال په ښارونو او ولایتونو کې فعالیت کوي، دوی هم خپلو چارو ته د اعتبار ورکولو سند په تر لاسه کولو مکلف وي.

## ۸ درېیمه ستراتیژیکه موخه: دایمي زده کړې

د کسب او کار پرمختګونو د ملاتړ لپاره د دایمي زده کړو له لارې، له کار بازار سره په ګډه د زده کړو او ښوونیزو چوپړتیاوو همغږو لارو رامنځته کول او د نیمه لوړو زده کړو ترکچې د کار زده کوونکو وړتیاوو پالنه د دې موخې له لویو پایلو څخه ده.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو موخه داده، چې د دایمي زده کړو (د لومړنیو او نیمه لوړو زده کړو) فرصتونه چمتو کړي، تر څو کاري ځواک ته وړتیا ورکړي، چې د کار مېتودونو او ټکنالوژۍ پرمختګ له امله د کار بازار له چټکو بدلونونو سره همغږي شي. همدارنګه، دایمي زده کړې دا روښانه کوي، چې خلک و کولای شي تل خپل مهارتونه لوړ کړي.

تخنیکي او مسلکي زده کړې د ټولنې له بیلا بیلو برخو، لکه: د زده کړو، کار بازار، صنعت، واړه او منځنی تشبثات، کرنه او د کلیو پراختیا او عامه مدیریت سره په نږدې اړیکو لرلو سره فعالیت کوي. د لوړ کیفیت له لارې له دې برخې سره د اړیکو او چوپړتیاوو رسولو او د دوی اړتیاوو ته د ځواب ویلو په موخه باید د تخنیکي او مسلکي زده کړو نظام له ښکېلو اړخونو سره په پراخ ګډون مدیریت او رهبري شي. له ښکېلو اړخونو څخه هر یو یې خپلې تجربې، تخصص او ظرفیت ته ونډه ورکوي، تر څو د هغوی ګډې هڅې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د فعالیتونو اغیزمنتیا ډېره کړي.

### ۸.۱ د ستراتیژۍ څرګندونه

۱) د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره، د دایمي زده کړو په اغېزمنو لارو کې د اړتیا په پېژندلو سره د خصوصي برخو، کارګمارونکو او ښوونکو په څېنو بنسټیزو کړنلارو، لکه: د دین د احکامو په رڼا کې ښوونیز پراختیایي نصاب، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د امکاناتو او تجهیزاتو اړتیاوو تشخیص او د هغو له منځه وړلو لپاره اړیکې را منځته کوي.

۲) په زده کړه کې یووالی د موخې لرونکو او دایمي زده کړو د کړنو د ملاتړ لپاره د کار زده کړو څخه، تر تکړه زده کوونکو پورې د میکانیزم د رامنځته کولو له لارې پیاوړې کېږي.

۳) د تخنیکي او مسلکي لوړو زده کړو ښوونیز سیستم (د تخنیکي او مسلکي لوړو زده کړو ښوونه او د انجینرانو او استاد کارانو د پوهې او مهارتونو کچې لوړول) د ماهرو کارګرانو د دایمي زده کړو څخه ملاتړ به د تطبیقي پوهنتون جوړولو له لارې پراختیا و مومي. تخنیکي او مسلکي اداره د مسلکي استادانو د عملي چارو او کارونو د زده کړې زمینه رامنځته او همدارنګه د متخصصو انجینرانو لپاره د کړنې، کانونو او ساختمانونو په برخو کې د پرمختللې زده کړې زمینه مساعده کړي.

٤) دوامدارو پراختیایي موخو ته د ۴.۱.۱ ژمنه په ځانګړې توګه څلورمه موخه یې ټینګار په دایمي زده کړو باندې د دې لامل کېږي، چې تخنیکي او مسلکي اداره یوازې د ماشومانو او ځوانانو پر زده کړو ټینګار نه کوي؛ بلکې د هغې ترڅنګ د لویانو او پوخ عمره خلکو د زده کړو او مهارت لوړولو او ارتقاء لپاره هم د ښوونیزو دورو زمینه را منځته او رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړې د نیمه رسمي او نا رسمي زده کړو سره همغږې کړي.

### ۸.۲ د ستراتیژۍ تشریح:

۱) په مرکزي او ولایتي کچه د خصوصي برخو سره د رسمي او نیمه رسمي ښوونیزو همکاریو شبکې رامنځته او پراختیا ورکول به د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ښوونیز نصاب او د کاري معیارونو د پراختیا په برخو کې د کار ورکوونکو د ونډې د زیاتوالي لامل شي او د زده کوونکو لپاره به د کار زده کړې لاره پرانیزي.

۲) د ښوونیز برخو وړاندې کوونکو ترمنځ د ښې همغږۍ لپاره، اړینه ده، چې د وزارتونو تر منځ یو مشورتي بورډ شتون ولري، چې په مستقیم ډول د تخنیکي او مسلکي زده کړو (د پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونو او د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري) او همدارنګه د ۱۳ وزارتونو ترمنځ د همغږۍ شورا جوړه شي، ترڅو د تخنیکي او مسلکي زده کړو په برخه کې د لوړ کیفیت خدمتونه وړاندې کړي. د نویو لیدونکو او مخاطبانو اړتیاوې په ګوته او د سرچینو څخه اغیزمنه ګټه پورته کړي.

۳) د دندو روښانه کول، د مسؤلیتونو او وړتیاو پیژندل د روزنې د ځایونو پراختیا ته اجازه ورکوي، تر څو د تخنیکي او مسلکي زده کړې، د یو کس لخوا زده شوې یوځای کړي. دا کار د وزګارو او کار رامنځته کوونکو لپاره عملي فرصتونه برابروي، ترڅو د دایمي زده کړو د زده کولو او مهارت لوړولو په لټه کې وي.

۴) د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره د ځارنې او پالیسی جوړونې د ونډې زیاتوالي د یوې برخې په توګه، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت سره همکاري او همغږي یو ښه پیل کیدی شي، ځکه چې کرنه د تخنیکي او مسلکي زده کړو د رسمي زده کړو یوه مهمه برخه ده. د کرنې وزارت په دې برخه کې د اصلي مسؤل په توګه، د دوه اړخیزو همکاریو او د اسانتیاوو د شریکولو له لارې د اړخونو احتمالي ګټو پیژندلو ته چمتو دی.

۵) د مسلکي لوړو زده کړو لپاره تر شپاړسم ټولګي او یا تر هغه لوړ د عملي او تطبیقي زده کړو د پوهنتون جوړول او زمینې چمتو کول، د اوسنیو مسلکي زده کړو د بشپړولو او د زده کړې زمینې رامنځته کولو لامل کیږي. لوړې زده کړې د هېواد ځوانانو ته په تخنیکي او مسلکي برخه کې دا زمینه برابروي، چې خپل تخنیکي او تخصصي وړتیاوې زیاتې کړي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو له ښوونځیو څخه د فراغت لپاره شرط، یا په شرکتونو یا تشبثاتو کې د کار زده کونې شالید، یا د پوهنتون څخه مخکې شپږ میاشتنۍ دوره، چې په کې عملي مهارتونه په لنډ او نچوړ توګه تدریس کیږي، د زده کونکو غوره کولو لپاره غوره لاره رامنځته کوي، چې د فارغینو د کار کچې د زیاتوالي لامل کیږي. همدارنګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو له ښوونیزو مؤسسو څخه فارغین به د شرایطو په درلودلو سره ددې پوهنتون لوړو زده کړو درېیم ټولګي ته شامل او خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي. تخنیکي او مسلکي لوړې زده کړې د متشبثینو او تجربه لرونکو کار رامنځته کوونکو لپاره د اړتیا وړ زده کړې وړاندې کوي، تر څو واړه او منځنۍ تشبثات لویو او سوداګریزو تشبثاتو او شرکتونو ته لوړتیا وکړي او په ملي او سیمه ییزه کچه د لا ډېرو دندو را منځته کولو شونتیا چمتو شي. تخنیکي او مسلکي لوړې زده کړې کولی شي د کرنې په ځانګه کې د ارزښتمنو تجربو څخه د ماډیولار او وړتیا لرونکي ښوونیز نصاب په چمتو کولو کې کار واخلي. همدارنګه په راتلونکي کې به د دغه پوهنتون فارغین د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ښوونځیو او ښوونیزو مؤسسو کې د تدریس لپاره ښې سرچینې شي.

### ۸.۳ موخه، مقصدونه او فعالیتونه

*جدول ۱۶: موخه، مقصدونه او فعالیتونه*

<table>
<tr><th colspan="3">درېیمه موخه<br><u>دایمي زده کړې:</u> یو له بل سره د اړوندو او همغږو د زده کولو لارو رامنځته او د دایمي زده کړو له لارې د کسب او کار له پرمختګ څخه د ملاتړ لپاره، له کار نړۍ سره په ګډه ښوونیزې چوپړتیاوې او د مسلکي لوړو زده کړو تر کچې د زده کوونکو او کار زده کوونکو د وړتیاوو روزنه</th></tr>
<tr><th>مقصدونه او فعالیتونه</th><th>موخه (ټارګېټ)</th><th>شاخص</th></tr>
<tr><td colspan="3">لومړی مقصد: د تخنیکي او مسلکي زده کړو او کار نړۍ تر منځ د اړیکو شبکې رامنځته او پراختیا ورکول</td></tr>
<tr><td>۱ـ د ځایي اوسېدونکو، د زده کوونکو والدینو، خصوصي سکټور استازیو په ګډون او مرستې سره د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري، ښوونځیو او ولایتي برخو له لوري د تخنیکي او مسلکي زده کړو د شورا ګانو رامنځته کول</td><td>د هېواد په کچه</td><td>د رامنځته شویو ټولنو شمېر</td></tr>
<tr><td>۲ـ په کار بوختو کارکوونکو لپاره، د زده کړو په موخه له صنعتي پارکونو، شرکتونو، سوداګرۍ او کسبګرو خونو سره د سیستماټیکو اړیکو او شبکو رامنځته کول</td><td>د پراختیا او د اړیکو ښه والي ۸ برنامې</td><td>د پلي شویو برنامو شمېر</td></tr>
</table>

| | | |
|---|---|---|
| ۳ـ له ملي او نړیوالو موسسو، وزارتونو او ادارو سره، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ښوونیزو چوپړتیاوو وړاندې کولو کې ښکیل دي، د شبکې او همغږۍ رامنځته کول | د پراختیا او د اړیکو ښه والي ۸ برنامې | د پلي شویو برنامو شمېر |
| ۴ـ د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د فارغینو لپاره د کسب او کار موندنې شبکو رامنځته کول | د کارموندنې سیستم رامنځته او پراختیا ورکول | په کار بوختو فارغینو شمېر |
| دویم مقصد: د تخنیکي او مسلکي زده کړو د پلي کولو او ودې په برخه کې د اړوندو وزارتونو ترمنځ د مشورې او همغږۍ د میکانیزم پیاوړتیا | | |
| ۱ـ له پوهنې، لوړو زده کړو وزارتونو او تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري سره د هېواد په ښوونیز سکټور کې د مشورې ورکولو او همغږۍ میکانیزم رامنځته کول | د ښوونیز سکټور د همغږۍ یو بورډ | تاسیس شوی بورډ |
| ۲ـ د (۱۳) وزارتونو او خپلواکو ادارو ترمنځ د تخنیکي او مسلکي زده کړو د پیاوړتیا لپاره د مشورې او همغږۍ میکانیزم رامنځته کول، چې د مهارت تر دریمې درجې (ټکنیشن) پورې ماهرو کارمندانو ته اړتیا لري | د همغږۍ یوه ټولنه | تاسیس شوی ټولنه |
| **دریم مقصد: د تخنیکي او مسلکي زده کړو لپاره د لوړو زده کړو زمینه رامنځته او پراختیا ور کول** | | |
| ۱ـ د عملي او تطبیقي زده کړو پوهنتون فعالول | په کابل کې د ۲۰ علمي څانګو په درلودلو سره د عملي او تطبیقي زده کړو پوهنتون فعالول | د تحصیلي نصابونو او څانګو شمېر<br>د پوهنتون د امکاناتو او تاسیساتو کچه |


### ۸.۴ـ د تمې وړ پایلې

۱- د تخنیکي او مسلکي زده کړو شورا، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري، ښوونځیو او ولایتي برخو له لوري او د خصوصي سکټور د استازو، د زده کوونکو والدینو، عالمانو او مخورو ځایي اوسېدونکو په مرستې او ګډون سره رامنځته کېږي.
۲- په کار بوختو کارګرانو لپاره، تخنیکي، مسلکي او حرفوي زده کړو په موخه، له صنعتي پارکونو، شرکتونو او سودا ګرۍ او کسبګرو خونو سره سیستماتیکې اړیکې او شبکې رامنځته کېږي.
۳- له ملي او نړېوالو موسسو او ادارو سره، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د نا رسمي زده کړو د ښوونیزو چوپړتیاوو په وړاندې کولو کې ښکیل دي، شبکه او همغږي رامنځته کېږي.
۴- د تخنیکي او مسلکي زده کړو د فارغینو لپاره د کسب او کار موندنې شبکې رامنځته کېږي.
۵- د وزارتونو او ادارو تر منځ چې تخنیکي او مسلکي زده کړې پر مخ وړي، د همغږۍ میکانیزم رامنځته او پیاوړی کیږي.
۶- د مهارت په (۴ او ۵) کچو کې د ماهرو او مسلکي کارکوونکو روزنې په موخه د عملي زده کړو پوهنتون رامنځته کېږي.

### ۸.۵ـ پلان شوي چارې

## د تخنیکي او مسلکي زده کړو په بېلا بېلو کچو کې د مدیریتي جوړښت رامنځته کول

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره، د رغوونکې او کار جوړونکې همکارۍ لوړاوي رامنځته کولو لپاره، په پام کې لري، تر څو د تخنیکي او مسلکي زده کړو شورا ګانې د مرکز، ولایتونو او ولسوالیو په کچه د خصوصي برخې د استازو او د عالمانو شورا په ګډون په لاره واچوي. د دغو مدیریتي جوړښتونو په پراخې همغږۍ او د واکونو په ورکولو او لېږد سره ورانداوینه شوې ده.





اړتیا وړ وړتیاوو لپاره د تخنیکي او مسلکي ځایي خبرو د پېل لپاره، اداره په پام کې لري، تر څو مسلکي ښوونیز مرکزونه په ځایي یا سیمه ییزو شبکو کې شاملېږي. له همدې امله هر مسلکي ښوونیز مرکز[۴۲] د عالمانو شورا، ځایي اقتصاد، ښاروالۍ او د ځایي پراختیا له استازو سره د تخنیکي او مسلکي زده کړو په اړه د خبرو کولو شورا رامنځته کېږي، تر څو د لاندې مسئلو په اړه خبرې وکړي:

- ښوونیزې ځانګې، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ځایي مرکزونو کې وړاندې شي.
- د ماهرو او نیمه ماهرو کارکونکو لپاره د ډېرو ښوونیزو پروګرامونو په اړه پرېکړه کول.
- د موخې ځانګړو ډلو ته ځانګړې زده کړې.
- د هغو کسانو لپاره د موسمي ښوونیزو دورو په اړه کتنې، چې د ډېر کار په مهال، وخت نه لري (د کښت فصل، د حاصلاتو فصل).

ټولې شوراګانې تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري ته د مشورو ورکولو او د هغې د مشورو اورېدلو حق لري. د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره، تر څو پورې چې توان ولري، د هوکړې پربنسټ کار کوي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره غواړي، له اړوندو شوراګانو سره د پوښتنو بشپړې ټولګې په اړه بحث او اندونه شریک کړي.

[۴۲] د ولسوالیو په هغو ځایونو کې چې له یوه څخه ډېر ښوونځي وي، دا ډول بوردونه کولای شي، د څو ښوونځیو لپاره رامنځته شي.




*شکل ۸: د ولایتي بحث فضا*

په ټولو کچو کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د شورا ګانو رامنځته کولو تر څنګ، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره د پوهنې، لوړو زده کړو او د کار او ټولنیزو چارو وزارت ته بلنه ورکوي، تر څو د وزارتونو تر منځ یو بورډ هم رامنځته کړي. په دې بورډ کې مرستیال وزارتونه خپل ستراتیژیک پلانونه له اړوندو فعالیتونو په ګډون د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري سره د ولایت او ولسوالیو په کچه همغږي کوي.

*جدول ۱۷: هغه مسئلې چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو شورا ګانو په بېلا، بېلو کچو کې بحث پرې وشي.*

| | د تخنیکي او مسلکي زده کړو شورا | د تخنیکي او مسلکي زده کړو ولایتي شورا | د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ولسوالیو شورا |
|---|---|---|---|
| **د تخنیکي او مسلکي زده کړو مرکزونو شبکه** | د تخنیکي او مسلکي ښوونیزونو مرکزونو د شبکې ستراتیژی په اړه مشورې او سپارښتنې ورکول. | د ولسوالیو په کچه د تخنیکي او مسلکي مرکزونو د شبکو په لاره اچول | د تخنیکي او مسلکي زده کړو ځایي مرکز، د یوې ځانګې لرونکي یا کثیرالرشتوي د ظرفیت لوړول یا نور |
| **د ټولو لپاره تخنیکي او مسلکي زده کړې** | د مهارت ټولو کچو لپاره مشورې او سپارښتنې ورکول، لومړنی تخنیکي او مسلکي زده کړې، معیاري تخنیکي او مسلکي زده کړې او مسلکي نیمه لوړې زده کړې | د ولسوالیو په کچه د ټولو لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو پلي کول | د ولسوالی په تخنیکي او مسلکي ښوونیزو مرکزونو کې باید کوم ډول زده کړې ورکړل شي؟ د تګ او راتګ واټن په اړه سپارښتنې او د امارت د پالیسي سره سم د ښځو لپاره ځانګړي تدابیر |
| **د ماهرو کارکوونکو/ کارګرانو لپاره د لنډ مهاله تخصص بشپړولو دورې** | دښوونیزو برنامو لپاره سپارښتنې، په مسلکي ښوونیزو مرکزونو کې د بېلګو لپاره سپارښتنې | د ښوونیزو برنامو لپاره سپارښتنې، په مسلکي ښوونیزو مرکزونو کې د جوړښتي بېلګو ازمایښت او پراختیا | د دې په اړه د عملي سپارښتنو وړاندې کول، چې کومې ښوونیزې دورې وړاندې شي، د ښوونیزو دورو په جوړولو کې ګډون او د صنایعو کار پوهانو د ګډون لپاره سپارښتنې |
| **نیمه لوړې تخنیکي او مسلکي زده کړې** | د عملي زده کړو مرکزونو د شبکې د ځای او په لار اچولو د څرنګوالي په اړه، د مشورې ورکول او د کار بازار له اړتیاوو سره د عملي زده کړو د مرکزونو د څېړنیز کارونو د اړیکو ټینګولو په اړه وړاندیز | د عملي زده کړو کمپلکس جوړولو د ځای په اړه مشوره ورکول، ډګریزې څېړنې او له شرکتونو او کار بازار تشبثاتو سره د اړیکو پیاوړتیا | د ۳ مهارت کچې، تکنیشن / استادکار په اړه او دا سپارښتنې، چې کومې ځانګې او مهارتونه په لومړیتوب کې وي |
| **آزموینه او اعتبار ورکول** | د خصوصي برخې په ګډون سره د وروستی آزموینې اخیستلو په اړه سپارښتنې، د مسلکي سویې تثبیت (پخوانی زده کړو په | په ولایت کې د آزموینې اخیستلو په اړه مشوره، د وړتیاوو او مهارتونو مالومولو لپاره د اړتیا وړ معیارونو او پراوونو ټاکل | خصوصي برخه څنګه کولای شي، له اعتبار لرونکې وروستی آزموینې له اخیستلو او لوړولو او د هغې |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | رسمیت پېژندلو) لپاره سپارښتنې | | د شواهدو له وړاندې کولو څخه ملاتړ وکړي |
| **د مسلکي ښوونیزو مرکزونو کاري ساعتونه** | د تخنیکي او مسلکي ښوونیزو مرکزونو کاري ساعتونو لپاره سپارښتنې | د تخنیکي او مسلکي ښوونیزو مرکزونو د کاري ساعتونو لپاره ولایتي لارښوودونه | د ژوند له شرایطو سره، د مسلکي ښوونیزو مرکزونو کاري ساعتونو د همغږي کولو په اړه سپارښتنې |

### د لومړیتوب لرونکو مسلکي څانګو لپاره د اسلام له اصولو سره سم د نویو مهارتونو لپاره د روزنیز نصاب جوړول

د بازار د اړتیا وړ او معیاري وړتیاوو په پېژندلو کې د آسانتیاوو په موخه، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره له اړوندو شرکتونو او تشبثاتو سره، د پایلې یا لاسته راوړنو پر بنسټ د نویو مهارتونو ښوونیز نصاب چمتو کوي، چې د لومړیتوب لرونکو کسب او کار څانګو د ټاکلو لپاره له کار بازار سره ښې اړیکې لري. د کسب او کار څانګې د ځانانو وړتیاوې په کاري لارو کې لوړوي، چې یوه له بلې سره اړیکې لري، په پایله کې هغوی د کسب او کار د یوې لوېې ډلې په توګه تیارېږي.

> د نمونې په توګه، د ودانیزو چاروکار کوونکي په خښتې کارونې، پلستر کارونې، کانګرېټي کارونو او نورو سره، سر او کار لري، دغه ټول تخصصي یاد شوي کارونه د ورته زده کړو او مهارتونو ټولګه ده، چې له: توکو، وسیلو، ماشینونو، د سمنټو ګډولو، کچې اخیستنې (اندازه ګیري)، نرخ مالومولو، لوستلو او په لومړنۍ نقشه پوهېدلو او داسې نورو څخه عبارت دي. په پایله کې سره ورته زده کړې او مهارتونه د ښوونیزو نصابونو په یوه څانګه کې ځای پر ځای کېږي، چې د اوږد مهاله او لنډمهاله زده کولو پروګرامونو لپاره بنسټ وي.

د اړتیا په صورت کې، د مسلکي ښوونیزو څانګو تخصصي کول کولای شي، د درېږ کلنو زده کړو له وروستي کال څخه پیل شي.

## په امارتي ادارو کې د نا رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو له وړاندې کوونکو سره د پولو ټاکل او همغږي (د کار او ټولنیزو چارو وزارت په څېر)

د هغو بنسټونو د همغږۍ لپاره، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو وړاندې کول په غاړه لري، د دندو او مسؤلیتونو بېلول یو مهم او اړین عامل ګڼل کیږي، د هر بنسټ دندې، مسؤلیتونه او کاري استقامتونه د دندو په بېلولو سره ټاکل شوي او د زده کړو وړاندې کوونکو او هغوی لپاره، چې زده کړې ورته وړاندې کیږي، اسانتیاوې رامنځ ته کوي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري په رهبرۍ، د ادارو تر منځ د همغږۍ رامنځته کولو په موخه یوه ډله را منځته کیږي، چې موخه یې د دندو، مسؤلیتونو او اړوندو ادارو د کاري استقامتونو په اړه د روښانتیا رامنځته کول دي. همدارنګه دغه کاري ډله کولای شي، د دایمي ښوونیزو لارو بیا کتنه وکړي او اړین بدلونونه رامنځته کړي.

### د مسلکي لوړو زده کړو له لارې د ۴ او ۵ کچې مهارتونو وړاندې کولو لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو لوړاوی

د پرمختللو تخنیکي او مسلکي زده کړو د وړاندې کولو لپاره، د دیارلسم او څوارلسم ټولګې ښوونیز نصاب بیا کتل کیږي، په ډېره څېرکتیا پلي کولو لپاره د مسلکي زده کوونکو د منلو د معیارونو پلان جوړ شوی دی او د هغو زده کوونکو لپاره، چې له عمومي زده کړو څخه راځي، د عملي مهارتونو تجربې لرلو په موخه د کار زده کولو درېږ میاشتنۍ دورې په څېر شرطونه په پام کې نیول کیږي. د هر زون په کچه کیفیت لرونکي ښوونیز مرکزونه هم د عملي زده کړو پوهنتون تر کچې لوړاوی کوي.

د (٪۸۰) په شاوخوا کې زده کړیالان، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو په ښوونیزو مرکزونو کې په دیارلسم او څوارلسم ټولګیو کې په زده کړو بوخت دي، پر دې سر بېره د تخنیکي او مسلکي زده کړو د زده کوونکو لپاره په دیارلسم او څوارلسم ټولګیو کې لومړني ښوونیز پروګرامونه هم وړاندې کیږي، چې ډېری یې غواړي، خپلو زده کړو ته په پوهنتونونو کې دوام ورکړي. په پوهنتونونو کې د زده کړو دوام ډېر لګښت ته اړتیا لري او له (٪۷۰) څخه تر (٪۸۰) پورې له پوهنتونونو څخه د فارغو زده کړیالانو لپاره دغه ډول زده کړې بې ارزښته دي؛ ځکه چې پوهنتونونه په معمولي توګه د علمي دندو لپاره چمتو کوي. په داسې حال کې چې هېواد د هغو ټکنیشنانو او انجنیرانو له نشتوالي او لږوالي سره مخامخ دی، چې وکولای شي، محصولات او ماشین آلات جوړ او تولید کړي، یا وکولای شي، هغو ته پراختیا ورکړي او یا هم د تولید د بهیر متخصص وي. د عملي زده کړو او همدارنګه د استادکارانو او ټکنیشنانو  لپاره د تخنیکي او مسلکي زده کړو پرمختللې دورې ګټورې او د هېواد اقتصادي پراختیا او پایښت لپاره اغېزمنې شي.

د واقعېتونو پر بنسټ، د (۲۵) کلونو ځوانان، چې ډېری یې نارینه دي، په شرکتونو کې د کار پر مهال په لنډمهاله او اوږد مهاله زده کړو بوخت دي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره په ډېره ځیرکتیا سره غواړي وپوهیږي، چې څرنګه دغه زده کړې کولای شي، په ښوونیزو مرکزونو کې بشپړې او د ځوانانو د عملي مهارتونو او زده کړو کچه  لوړه کړي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره پلان لري، تر څو د ټولو هغو کسانو لپاره، چې د شرکتونو په لنډمهاله ښوونیزو پروګرامونو کې یې ګډون کړی وي، بشپړې زده کړې وړاندې کړي.

## د کار موندنې وړتیاوو ډېرول

د فارغینو د کارموندنې وړتیاوو ډېرول، چې په یوه تن پورې د اړوندو مهارتونو، پوهې او یوازېتوب ذهنیت یو ترکیب دی، د هغه تر لاسه کول او د خپلې پر زړه پورې دندې پرمخ وړل بریا ته رسول، د نوښتونو ټولګې ته اړتیا لري، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري دندو په محوري هسته کې ځای لري. سربېره پر دې د تخنیکي او مسلکي زده کړو پنځه بنسټیز توکي او عناصر، چې له، نصاب پراختیا، تجهیزاتو او لګښتي لومړنیو توکو، زده کړو وړاندې کولو، آزموینو اخیستلو، او کار موندنې څخه عبارت دي، له فارغینو سره مرسته کوي، او دوی ته وړتیا وربښي؛ تر څو د کار تر سره کولو لارو او طریقو ښه والي، او ټکنالوژیکي پرمختګ له امله د بدلون په حال کې چاپېریال سره یو ځای پر مخ لاړ شي.

## ۹ـ څلورمه ستراتیژیکه موخه: د اداري مدیریت او جوړښتي پراختیا

په رېښه توګه، لږ لګښت او اغېزمنې نظري زده کړې او عملي مهارتونه، چې په ملي او ځايي کچه سکټوري او د زده کوونکو غوښتنو ته ځواب ویوونکې وي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري ټوله جوړښتي اډانه، د طریقو او معیاري عملیاتي بهیرونو رامنځته کولو له لارې، چې په اداره کې شته دي او همدارنګه له بهرنیو ښکیلو لوریو سره د ګډ تعامل له لارې پیاوړې شي. هم مهاله د ځینو واکونو په ورکولو سره، اداره د ځواب ویلو او ښکیلو اړخونو ته د ښلا ښلو چوپړتیاوو وړاندې کولو په برخه کې لا فعاله کیږي. اداره باید په رسمي زده کړو کې خپل ډېر اجرايوي رول ولوبوي، همدارنګه په دې برخه (نیمه رسمي او نا رسمي زده کړو) کې خپل د څارنې ونډې ته د ارزښت په ډېرولو او د رهبرۍ درېځ په ښوودلو سره ډېروالی ورکړي. تخصص د کار نړۍ لپاره د مهارت پر بنسټ د زده کړو د پراخې ودې زمینه چمتو کوي او د بدلون په حال کې اړتیاوو لپاره د نوښت لرونکو لارو د پراختیا لامل ګرځي.

### ۹.۱ـ د ستراتیژۍ بیانیه او څرګندونه

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره، تخنیکي او مسلکي سکټور ته خپلې چوپړتیاوې په تخصصي توګه او د روښانه پالیسیو او رڼو پرېکړو پر بنسټ وړاندې کوي. د کنټرول او څارنې له میکانیزمونو څخه په ګټه اخیستلو سره هڅه کیږي، تر څو د کیفیت کچې او د چوپړتیاوو وړاندې کولو ته ښه والی او ارتقاء ورکړل شي.

د هېواد په کچه، ښلا ښلو اړتیاوو ته په رسېدنه کې د حاصل ورکولو، ځواب ویلو او ډېرې اغېزمنتیا په موخه د اداري مرکزي او ولایتي ښلا ښلو برخو دندې، مسؤلیتونه او کاري استقامتونه روښانه شوي او د اداري تشکیل به د پایلو پر بنسټ بیا وکتل شي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره په داسې بنسټ بدلېدونکې ده، چې د مهارتونو ودې ته د زده کړو پر بنسټ د عملي کارونو وړاندې کولو له لارې او له کار نړۍ سره په مرستې پراختیا ورکوي.

### ۹.۲ـ د ستراتیژۍ تشریح

د تخنیکي او مسلکي زده کړو د رسمي پروګرامونو تنظیم او ښه والی، په راتلونکي کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د تشکیل او جوړښت بیا کتنې او نوي کېدو ته اړتیا لري. د دندو ښلول، پلي کول، د کړنو څارنه، پالیسي جوړول او ولایتي برخو ته د ځینو ټاکلو مسؤلیتونو ورکول، د دې بهیر له مهمو فعالیتونو څخه دي. د پروګرامونو په تر سره کولو او همدارنګه د هغو معیارونو په ښه توګه پلي کولوکې له ولایتونو څخه د ملاتړ او ظرفیت رامنځته کولو په موخه لاربښوونه، د دوی له فعالیت ارزونې او څارنې سره، د اداري او د هغې د کارکوونکو په کړنو او د تمې وړ پایلو باندې ډېره اغېزه لري.

د دې لپاره چې، د اداري ستراتیژي په ښه توګه د پوهېدلو او پلي کولو وړ وګرځي، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره، پالیسی، مقررې، کړنلارې او لارښوودونه د مرکز او ولایتونو په کچه، د کار کوونکو د دندو او مسؤلیتونو په تر سره کولو کې د اسانتیاوو په موخه ترتیب او جوړوي. دغه امر د مرکز او ولایتونو په کچه د کارکوونکو زده کړو او ظرفیت لوړاوي ته اړتیا لري، چې د پایلې او تخصص پر بنسټ یې پلان جوړول او وړاندې کیږي.

د معیارونو او کړنلارو د پلي کولو څارنه، مدیریت او کنټرول په تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره کې د تخصص، ژمنو او مسؤلیت منلو کلتور رامنځته کولو لپاره د ډېرې میکانیزمونو برخه ده. په تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره کې د زده کوونکو، د هغوی د والدینو، عالمانو او د ټولنې استازو له اندونو او وړاندیزونو څخه به د پالیسیو، میکانیزمونو، او معیارونو د جوړښت او د کارکوونکو او استادانو د کړنو ارزولو څرنګوالي په برخه کې ګټه واخیستل شي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو نیمه رسمي او نا رسمي پروګرامونو په ښه والي او پراختیا ته په پاملرنې سره، چې د مرستندویه وزارتونو او نورو برخو له لوري پر مخ وړل کیږي، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره هڅه کوي، چې د تنظیم او ښه والي لپاره، د پالیسیو، مقررو او معیارونو جوړولو له لارې تر لاس لاندې نیسي. د زده کوونکو او کار بازار لپاره د تخنیکي او مسلکي زده

کړو په لوړاوي کې تخصص، یووالي او همغږي د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري درېځ او د هېواد په کچه د تخنیکي او مسلکي زده کړو وړاندې کولو ښه والي په برخه کې د هغو د کړنو د لوړېدو لامل ګرځي.

### ۹.۳ـ موخه، مقصدونه او فعالیتونه

جدول ۱۸: موخه، مقصدونه او فعالیتونه

| مقصدونه او فعالیتونه | موخه (ټارګېټ) | شاخص |
|---|---|---|
| **ځلورمه موخه: د اداري مدیریت او جوړښتي پراختیا** | | |
| **لومړی مقصد:** د ستراتیژیکو لومړیتوبونو سره سم د اداري جوړښت بیاکتنه او نوي کول | | |
| ۱ . د ښوونځیو، موسسو او ولایتي برخو د کیفیت او موثریت د لوړولو او همدارنګه د خدمتونو د معیارونو تنظیم او د ځایي اړتیاوو د پوره کولو په موخه د (اداري، مالي او علمي)واکونو ورکړې زیاتول | د هېواد په (۳۴) ولایتونو کې | د هغو ولایتي برخو شمېر چې واکونه ورکړل شوي دي |
| ۲. د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د تشکیل بیاکتنه او د هرې څانګې اصلي دندې او مسؤلیتونه مشخص کول | د اداري ټولې برخې | د برخو ټاکل شوي دندې او مسؤلیتونه |
| ۳ـ د اداري د کاري کیفیت د کچې د لوړولو په موخه د تخنیکي او مسلکي زده کړو د کارکوونکو د ظرفیت لوړول او روزل | د هېواد په کچه | د تطبیق شویو برنامو شمېر |
| ۴– دعوت، ارشاد او د اسلامي کلتور خپرول | د هېواد په کچه | په دیني او اصلاحي تعلیمي پروګرامونو کې د ګډون کوونکو شمېر<br>د ترسره شویو سیالیو شمېر |
| ۵ـ د تخنیکي او مسلکي زده کړو په اداره کې نوښتګر نظام ته پراختیا ورکول | د هېواد په کچه | د چمتو شویو اسنادو شمېر<br>د تطبیق شویو پروګرامونو شمېر |
| **دویم مقصد:** د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري پالیسي او د تقنیني اړانې جوړول او پراختیا | | |
| ۱ـ د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د عمومي پالیسي او تګلارې ته پراختیا ورکول | یوه عمومي پالیسي | دچمتو شویو پالیسیو شمېر |
| ۲ـ د قانون، مقررو، کاري کړنلارو او نورو کاري سندونو چمتو کول او تصویبول | د اړتیا وړ تقنیني سندونه | د چمتو شویو تقنیني سندونو شمېر |

| | | |
|---|---|---|
| ۳ـ د اصلاحي پلان جوړول او د اداري د نوي ستراتیژۍ سره سم د سمونو په موخه د تطبیقي او عملیاتي پلانونو بیا کتل | یو منظم او جوړ شوی پلان | د جوړ شوي او کتل شویو پلانونو شمېر |
| **درېیم مقصد:** د روڼتیا او ځواب ویلو میکانیزم ترتیب، تدوین او تر پلي کول | | |
| ۱ـ د روڼتیا او ځواب ویلو خوندیتوب په موخه د شته او اړتیا وړ سیستمونو برښنايي کول | د سیستم جوړول او پراختیا ورکول | د رامنځته شویو مالوماتي مدیریتي سیستمونو شمېر |
| ۲ـ د تخنیکي او مسلکي زده کړو ولایتي برخو لپاره د مالیې وزارت په مرسته د مالي افمیس (AFMIS) سیستم ته پراختیا ورکول | د هېواد په (۳۴) ولایتونو کې | د هغو ولایتونو شمېر چې سیستم کاروي |
| ۳ـ د ویب سایټ، برښنايي سیستمونو او ټولنیزو شبکو له لارې د مالوماتو او راپورونو خپرول | په پرله پسې توګه | د خپرو شویو راپورونو شمېر |

### ۹.۴ـ د تمې وړ پایلې

د پورتنیو موخو د فعالیتونو تر سره کول به لاندې د تمې وړ پایلې له ځان سره ولري:


١- په چټکه توګه د چارو تر سره کولو لپاره، ولایتي برخو او ښوونیزو مرکزونو ته د اداري د ننه واکونه ورکول کېږي.
٢- د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د هرې برخې دندې او مسؤلیتونه د اداري له موخو او شته شرایطو سره سم مشخص او ټاکل کېږي.
٣- د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د نوښتونو یووالي ته پراختیا ورکول کېږي.
۴- د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري عمومي پالیسي او تګلاره چمتو او ترتیب شوې او د اداري ټول اسناد له هغې سره سم جوړ او پراختیا ورکول کېږي.
۵- د اداري کړنو د اصولي کولو لپاره قانون، مقررې، کاري کړنلارې او د اړتیا وړ نور اسناد ترتیب، جوړ او پراختیا ورکول کېږي.
۶- د کارکوونکو، استادانو، زده کوونکو او زده کړیالانو لپاره د ارشاد او اسلامی کلتور خپرونو برنامې پلي کول او په فقهې، عقیدې او اسلامی کلتور د هغوی د پوهې کچه لوړېږي.
٧- د اداري د اړتیا وړ ډېرې کړنې برښنايي کېږي.
٨- د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ولایتي برخو لپاره، د مالیې وزارت په همکارۍ د مالي افمیس (AFMIS) سیستم پراختیا مومي.
٩- عامو خلکو ته د ویبسایټ، برښنايي سیستمونو او ټولنیزو شبکو له لارې، د خپرو شویو راپورونو او د دې اداري د کړنو څرنګوالي په اړه عامه پوهاوی ورکول کېږي.

### ۵-۹ـ پلان شوې چارې

### د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د مدیریت او جوړښت اړانې پیاوړتیا:

د لویو اصلاحاتو د بهیر یوې برخې په سرلیک، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره د اداري معیارونو رامنځته کولو په درشل کې ده، چې په پراخه توګه به د اداري په د ننه کې برخه ورکړل شي او له بهرنیو ښکیلو اړخونو سره به هم شریک شي. دغه د نویو ارزښتونو، لکه: هراړخیزتوب، د چوپړتیاوو کیفیت د لاسرسي وړوالي او روڼتیا پر بنسټ د بنستي کلتور رامنځته کولو په برخه کې

لومړی ګام دی. د رڼو او روښانه تصميم نيولو لپاره د پاليسۍ او سيسټم رامنځته کولو پر بنسټ له وسيلو او د مديريت له لارو څخه کار اخيستل د پاليسي له موخو او لومړيتوبونو څخه دي. د مديريت لپاره وړاندوينه شوې اډانه بايد بېلا بېل شکېل اړخونه په خپله لمن کې را ونغاړي.




*شکل ۹: په ملي ولايتي او ولسوالۍ کچه د مديريت اډانه*

## د اداري د ننه د صلاحيتونو او واکونو ورکولو لپاره پلان جوړونه

د تخنيکي‌او مسلکي زده کړو اداره په پلان کې لري، چې خپلې ځينې دندې او کړنې تخنيکي او مسلکي ښوونځيو او ښوونيزو مؤسسو او د تخنيکي او مسلکي زده کړو ولايتي برخو ته وسپاري. اداره د خپل پاليسي جوړولو او ځارنيز مسؤليت په پېژندلو سره بايد مالوم کړي، چې د مرکز په کچه کومې دندې او کړنې د تخنيکي او مسلکي زده کړو ښوونځيو، ښوونيزو مؤسسو او ولايتي برخو ته ورسپارلو وړ دي. د سپارلو لپاره وړاندوينه شوې دندې د مالي مديريت، بشري سرچينو او پلان جوړونې په ګډون د کړنو مديريتي سيسټم لپاره هغه مالومات او موارد دي، چې ولايتي ليدنو ته اړتيا لري. بايد د تخنيکي او مسلکي زده کړو ښوونځيو او ښوونيزو مؤسسو مسؤليتونه هم ډېر شي. همدارنګه دغه طرحه په ډاګه کوي، چې په کوم ځای کې مناسبې کړنې کولای شي، عمومي لګښتونه را لږ کړي، او په کوم ځای کې د کار حجم په پام کې نيولو او انعطاف منونکي تشکيل سره د ګټورو او اغېزمنو ادارو رامنځته کول د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري د کار کوونکو د لړوالي لامل کيږي.

د دې طرحې پلي کول، د ولايتونو او مسلکي ښوونځيو په کچه د دې کړنو تر سره کولو ملاتړ او سپارلو او د کار کوونکو ظرفيت لوړولو اړتياوو پېژندلو لپاره لارښوودونو، مقررو او لايحو ته اړتيا لري.

## د عامه پاليسۍ، لارښوودونو او اړوندو عملياتي معيارونو چمتو او رامنځته کول

هماغه ډول چې د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري بنسټي شننې ته اشاره شوې ده، معياري چوپړتياوې د عامه پاليسۍ په ګډون د خبرو لپاره بنسټ ګڼل کيږي او د مسؤليت په ورکولو کې ډېر اهميت لري. په کارکوونکو پورې اړونده معيارونه کېدای شي، لکه د ښوونکو او زده کونکو ترمنځ د غوره او پايلو لرونکو چوپړتياوو معيارونو له ډلې څخه وي؛ ځکه چې د ډېرې برخو معاشونه د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري له بودجې څخه ځانګړي کوي. د مسلکي ښوونځيو د ښوونکو او کارکونکو کچې په ځېر

د روښانه معیارونو ټاکل او له ټولو مهم د هغو تر سره کول کولای شي، په بودجه کې د پام وړ سپما لامل و ګرځي او تر ډېره له هغه څخه کولای شو، په هڅولو کې کار واخلو او په پایله کې په لومړنیو مقاومتونو بریا تر لاسه کړو. یوه نوې پالیسي باید:

۱- وپېژني، چې کوم کسان د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ترلاسه کولو وړ او مستحق دي؟
۲- د ځانګو او وړاندې کولو ډول له نظره د شته چوپړتیاوو توپیر تشریح کړي.
۳- په بېلا بېلو برخو کې د خلکو لپاره د چوپړتیاوو وړاندې کولو او د هغو د وړاندې کولو ډول، معیار روښانه کړي.
٤- لږ تر لږه د چوپړتیاوو معیارونه ښکاره او وټاکي.

## د نوښت مرکز پراختیا

د تخنیکي او مسلکي زده کړو له نوښت مرکز او په (عامه او خصوصي) ښوونیزو مرکزونو کې له تولید شویو صنایعو څخه ملاتړ کولای شي، په هېواد کې د صنایعو په پراختیا او تولیداتو ډېروالي باندې مثبتې اغیزې ولري، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د نوښت مرکز رامنځته کړی، چې د هغې له موخو څخه یوه یې له نوښت او پنځونې څخه ملاتړ دی. په دې ملاتړ کې کیدای شي لاندې موارد شامل وي:

- د طرحو او نوښتونو د ښه والي او بشپړ والي په موخه پوهنیز او تخنیکي ملاتړ.
- د مناسبې فضا چمتو کول (کارخونه یا ورکشاپ).
- د اړینو کاري تجهیزاتو او وسایلو چمتو کول.
- د اړتیا وړ لومړنیو توکو چمتو کول.
- له اړوند برخو سره د نوښتونو او پنځونو د ثبت په برخه کې همکاري.
- د پنځونو(اختراعاتو) او نوښتونو په ښکاره کولو او پېژندلو کې همکاري
- د پانګونې د جلب او ملاتړ په برخه کې هڅې.

د دې برخې د ملاتړ لپاره په وروستیو پړاوونو کې، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره، د اسلام اقتصادي نظام په رڼا کې له مالیې او اقتصاد وزارتونو، د افغانستان بانک او نورو امارتي، خصوصي او نړېوالو بنسټونو سره په همغږۍ او مرستې سره هڅه کوي، چې پنځونې او نوښت لرونکو او کار رامنځته کوونکو ته د پور ورکولو په موخه د پیسو بکس طرحې (طرح وجهي صندوق) په رامنځته کولو باندې کار وکړي.

# دریم څپرکی

# د ستراتیژۍ د تطبیق او پلي کولو میکانیزم

## ۱. د ستراتيژيک پلان پلي کول

د دې ستراتيژۍ په پلي کولوسره د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداره په دې ښه پوهېږي، چې دغه اداره بايد په دې برخه کې خپل نوی دريځ روښانه کړي او خپل رښتيني ارزښت په ټولنه کې وپېژني. د تخنيکي او مسلکي زده کړو د سکټور د پراختيا په برخه کې سترې هڅې، چې په ستراتيژۍ کې هم ځيرې شوې، د اداري له سمونيز(اصلاحي) پروګرام سره نږدې تړاو لري او د هغه د بشپړېدو لامل کيږي. په داسې حال کې چې دا ستراتيژي د تخنيکي او مسلکي زده کړو سکټور لومړيتوبونه په ټوليزه توګه ګوري، د اصلاحاتو پروګرام پر تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري باندې د يو خپلواک بنسټ په توګه ټينګار او تمرکز کوي، په لاندې ډول دي:

(۱) د چوپړتياوو معيارونه
(۲) د اداري جوړښتونو اړخونه
(۳) مالي مديريت
(۴) د بشري سرچينو مديريت
(۵) پلان جوړونه
(۶) څارنه او ارزونه

په پايله کې، دا د هغه شيانو د ښه کولو لپاره بسنه نه کوي، چې تر اوسه ترسره شوي دي. هغه څه ته اړتيا ده، چې د دوی له لوړاوي سره سم اوسني مناسب فعاليتونه ساتل او همدارنګه د غوره فعاليتونو پېژندلو او پلي کولو يا منلو اراده درلودل دي. لوړېدل او نوښت، له نويو تکنالوژيو څخه ګټه اخيستنه او د تخنيکي او مسلکي زده کړو د اداري جوړښت ته وده ورکول به نوي ارزښتونه او معيارونه وي. تخنيکي او مسلکي زده کړو ته د لاسرسي ډېروالي په برخه کې د ستراتيژيک پلان هيلې هم مهاله د کيفيت د ښه کولو او په راتلونکې او ښکاره فضا کې د اړتيا وړ زده کړو پراخولو سره لټول او څارل کيږي؛ کېدای شي دا فعاليت په خصوصي سکټور کې د نوي مرسته کوونکو موندلو يا د ګډو وزارتونو سره مرسته وي.

په ټوليزه توګه د تخنيکي او مسلکي زده کړو په اداره کې د روڼتيا، روښانتيا او غوره ځيرنې کلتور هم اغيز لري، چې د ستراتيژۍ په چمتو کولو کې د ډيرې مشورې ورکولو اهميت په ګوته کوي. له اړوندو اړخونو سره تعامل، چې په کې د اداري د ټولو کارکوونکو، مرستندويه وزارتونو، خصوصي سکټور او مدني ټولنې بنسټونو نيوکې او نظرونه شامل دي، يوازې د ستراتيژۍ د چمتو کولو په بهير پورې محدود او تړلي نه دي، بلکې د پلي کولو په بهير کې بايد له ورته چلند څخه کار واخستل شي. او د ستراتيژۍ پلي کول هم تر لاس لاندې ونيول شي. لکه څرنګه چې مديريت او رهبري په خپلو کارونو او فعاليتونو کې د پريکړو د پايلو په اړه د ټولو بنسټي کچو څخه د نيوکو او اندونو په ترلاسه کولو پورې اړه لري، دا ډول تعامل په خپله د کارمندانو لپاره هم په نازکو شيبو کې د پريکړه کولو د ستونزو په پوهيدو کې مرسته کوي او د اوږد مهاله موخو په پام کې نيولو لپاره مهم دي.

## ۲. د پلي کولو مديريت

ستراتيژيکې موخې د هر اړخيز پوهو او اصطلاحاتو په ښه بيان شوي او د اسلامي امارت، د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري او پراختيايي مرستندويان له لوري يې ملاتړ کيږي. تمه کيږي چې د موخو ترلاسه کول به لږ تر لږه پنځه کاله او په ځينو مواردو کې به تر پنځو کلونو ډېر وخت ونيسي. د پايلو د څارنې او دوامدار حساب ورکونې د اسانتيا لپاره، ستراتيژۍ خپلې ټولې اوږد مهاله موخې، په څو مقصدونو ويشلې دي، چې د ستراتيژۍ د پلي کولو په ترڅ کې اغيزمن پلي کول او د کلني فعاليت راپور چمتو کولو توان ورکوي.

د پاليسي فعاليتونو لپاره، د تمې وړ موخې د پايلو په جدول کې ځای پرځای او ليکل شوې دي. د تخنيکي او مسلکي زده کړو د بياکتنې ګډ بهير هر کال د دې شونتيا چمتو کوي، چې په مهال وېش او ستراتيژۍ کې سمونې راولي او د تخنيکي او مسلکي زده کړو اداري او پراختيايي مرستندويان موخې ته د رسېدو لپاره ډېر ځواب ويونکي شي. په هرځای کې چې تجربوي پروګرامونه

ګټورې پایلې او مالي سرچینې ولري، د هغو پروګرامونو پراخه پلي کول، باید تر لاس لاندې ونیول شي، چې په کلنۍ توګه پلي او ترسره کېږي. سره له دې، د ځینو واکونو د پېښېدونکي او احتمالي لېږد له امله، د ښوونځیو او ولایتي برخو د ډېرېدونکي ګڼون وړاندوینه هم کېږي. هر کال په دې برخه کې اړتیا لیدل کېږي، چې روزنیز پروګرامونه او لارښوونې چمتو کړي؛ تر څو ټول ریاستونه او ولایتي دفترونه، ورسپارل شوې دندې په ښه توګه وپېژني او پلي یې کړي.

د سمونو پروګرام اړانه به د بشري سرچینو د پراختیا له لارې، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د ظرفیتونو لوړولو د پلانونو طرح کولو، د بودجې مسؤلیت منلو او موخو ته د رسېدو لپاره چمتو او ترتیب شي. د هر پلان پلي کول، په ځانګړې توګه ستراتیژیک پلان، د ښکیلو اړخونو ترمنځ لا ډېرې او ښې همغږۍ ته اړتیا لري. د دې پلان د ښه او اغیزمن پلي کولو لپاره، د اداري له لورې د کورنیو او بهرنیو شریکانو ترمنځ همغږي ترسره کېږي.

**د تخنیکي او مسلکي زده کړو د رهبرۍ کمېټه** د امارت له استازو او د خصوصي سکتور او تمویل کوونکو مرسته کوونکو سره په هرو درېیو میاشتو کې یوه غونډه کوي، چې د پرمختګونو ارزونه وکړي او د اړینو کړنو او همکاریو په اړه خبرې اترې وکړي.

*جدول ۱۹: بېلابېلو کچو ته د اصلي دندو او مسؤلیتونو ورکولو وړاندوینه*

| کچه | تعامل او اړیکې | اصلي دندې او مسؤلیتونه |
|---|---|---|
| د تخنیکي او مسلکي زده کړو مرکزي اداره | | **د تخنیکي او مسلکي زده کړو د مرکزي دفتر په کچه د واکونو نا متمرکز کول او منځنیو کچو (ریاستونو او آمریتونو) ته د صلاحیت ورکول.** |
| ولایتي واحدونه | | **د عملیاتي مدیریت اړوند فعالیتونه، لکه:** (د بشري سرچینو په برخه کې د استادانو له ګمارلو پرته ډېر مدیریتي فعالیتونه)، تدارکات (تر نیم میلیون افغانیو پورې)، پلان جوړونه (د مالوماتو مدیریت سیستم (MIS) او د (Data Entry)<br>**هغه فعالیتونه چې د ښوونځیو څخه د منظمې لیدنې لپاره اړین دي،** لکه: څارنه، کتنه، د مالوماتو تصدیق او کره کول او په ښوونځي کې د ښوونکو د تدریس لارې.<br>د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د څېړنې ریاست تر څارنې لاندې **د هر زون په کمپونو کې د څېړنې ظرفیت لوړول،** په هر زون کې د څېړنې مرکز د هغه اداري واحد زړې په توګه کار کوي، تر څو دندې او کارونه نوي کړي، روزنیز کورسونه، او د کار بازار اړتیاوې وڅاري. |
| تخنیکي او مسلکي ښوونځي او ښوونیزو مؤسسو | | د خصوصي سکتور په مرسته **د** ښوونیز نصاب چمتو کول:<br>د ښوونیزو پروګرامونو یوه ډلګۍ جوړول، چې پر بنسټ یې به هر ځای کې ټولنې کولای شي، د ځایي کارکوونکو، والدینو او د ښوونځي د مدیرانو په مشوره د ځایي کار بازارونو لپاره مناسبې وړتیاوې او مهارتونه غوره کړي.<br>د زده کونکو لپاره، شته سرچینو ته لومړیتوب ورکول.<br>د ولایتي دفترونو د کړنو په اړه د نیوکو او اندونو راټولول. |
| سوداګرۍ او ځایي تجارت | | د خصوصي سکتور د لارښوونو او تصویب او د تابعیت منشور او د سیمه ییزو پراختیایي کمېټو سره سم، د سوداګریزو اړتیاوو، روزنیزو کورسونو او وړتیاوو ټاکل. |

| | | |
|---|---|---|
| | | د ټولنو سمه زده کړه د تخنیکي او مسلکي زده کړو د اړتیاوو په ټاکلو کې ځانګړې اهمیت لري، تر څو دا اغیزمنه کړي.<br>په هر ښوونځي/مسلکي انسټیټوټ کې د کار ګمارونکو، والدینو او ښوونیزو مرکزونو په ګډون د تخنیکي او مسلکي زده کړو د شورا جوړول. |
| زده کوونکي او ځایي استازي | | د پالیسی لارښودونو او معیارونو، د فعالیت ارزونې وسیلې، او د راپور ورکولو لارښوونې د چمتو کولو له لارې د څارنې، راپور ورکولو، ځواب ورکولو او فیډبک ورکولو میتودونو رامنځته کول. |

## ۳. له مرستندویه بنسټونو سره همغږي

ډېری وزارتونه هم مهاله د تخنیکي او مسلکي زده کړو چوپړتیاوې وړاندې کوي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو د همغږۍ او ښه مدیریت لپاره، دا اړتیا لیدل کیږي، چې تخنیکي او مسلکي زده کړې د اړوندې ادارې (د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې) له لارې همغږې او اداره شي. که څه هم دغه اداره به د رسمي تخنیکي او مسلکي زده کړو د چمتو کولو په برخه کې له اړوندو وزارتونو سره یو هوکړه لیک لاسلیک کړي؛ خو ښه به وي چې د دغه ادارې له لارې په عمومي ډول همغږې او مدیریت شي. څرنګه چې دا اداره د زده کړیالانو د منلو او راجستر کولو لپاره ځانګړې بهیر لري او د ښوونیز نصاب او درسي موضوع ګانو د چمتو کولو او جوړولو لپاره اړینې لارښوونې لري، د دې ځانګې لپاره دا اسانه ده، چې ډېر زده کوونکي جذب کړي او د کاري ساحې اړوند یې اداره کړي.

څرنګه چې تخنیکي او حرفوي زده کړې، د زده کړې له نظره د کار په ګډون په ډېرو مسلکونو او کسبونو پورې تړلې او دایمي زده کړې د رسمي، نیمه رسمي او نا رسمي حرفوي زده کړو تر منځ اړیکو ته اړ دي؛ نو باید د مرستندویه وزارتونو ترمنځ د همغږۍ یوه کړنلاره جوړه شي؛ تر څو دا اداره د ځانګړو قانوني اډانو او منظمې همغږۍ له لارې ډاډ ترلاسه کړي، چې د مرستندویه وزارتونو سره ګډ مسؤلیتونه په ښه توګه ترسره کیږي، تر هغه چې د تمې وړ پایلې ترلاسه کړي. له دې وړاندې هم ، د نړدې مرستې لپاره یوې ځانګړې قضیې ته اشاره وشوه، یانې، د عمومي زده کړو له نهم ټولګي څخه تخنیکي او مسلکي زده کړو ته د زده کونکو د لیږد ډېروالي ته اشاره شوې ده . د زده کوونکو دا لیږد به په راتلونکي کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د اوسنیو زده کونکو شمېر څو برابره کړي.

### ۳.۱. همکاري او ګډون

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري دندو ته په کتو، خپل لید لوری لړ لړ د تخنیکي اومسلکي زده کړو په وړاندې کولو کې د اجرایي رول څخه د یوه همغږي او تنظیم کوونکي ونډې ته په دې سکټورکې لوړوي. د دې نویو ونډو او مسؤلیتونو پېژندل د وخت او ظرفیت لوړولو په جریان کې ودې او پرمختګ ته اړتیا لري؛ تر څو موخو ته ورسیږو. د بنسټیزو بدلونونو تر څنګ چې د سمون پروګرام هم ورته اشاره کوي، د ونډې دغه بدلون له تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري څخه تمه لري، چې د مسلکي زده کړو نور چمتو کونکي هم وپیژني. په پایله کې، په پالیسی کې مهم بدلون، چې په دې ستراتیژۍ کې یې هم یادونه شوې، د همکارانو لټون دی. له ټولنیزو شریکانو او همکارانو، لکه: ټولګیو، ټولنو او د سوداګرۍ او صنایعو خونو او همدارنګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو په برخه کې د اړوندو بنسټونو او شرکتونو او خصوصي تشبثاتو سره همکاري د دې کارونو یوه برخه ده. دا همکارۍ د ګډونوالو ترمنځ د باور ډېرولو لپاره، د ړنو فعالیتونو ترسره کولو لپاره پوره ژمنتیا ته اړتیا لري.

اصلي پراختیایي ګډونوالو کې د کورنیو مرستو او نړیوالو بنسټونو اداري شاملې دي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري او پراختیایي مرسته کوونکو له لوري د پروژو مدیریت او په دې برخه کې مرسته د پلان جوړونې په بهیر کې د پام وړ پاملرنې ته اړتیا لري، تر څو په ټول هیواد کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د چوپړتیاوو متوازن او مساوي وېش تضمین شي. تر هغه وخته پورې، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره به د څو اړخیزو مسؤلیتونو پربنسټ د پراختیایي شریکانو سره رښې او منظمې اړیکې

رامنځته او ساتي، تر څو د تمې وړ موخې ترلاسه کړي او د پایلو ګډې څارنې ته ژمنتیا ولري. د کار بنسټ به د دندو د لایحې ګډه بیاکتنه او مطالعه وي، او همدارنګه د بودجې دننه او بهر[43] د پروژو څېړنې او ارزونې په څېر د کړنو لپاره د ګډو مسؤلیتونو په غاړه اخیستل وي.

### ۳.۲ د تمویلوونکو (ډونر) ترمنځ د همغږۍ لپاره د رهبرۍ کمېټه

د تمویلوونکو د مرستو اغیزمنتوب تل یو پیژندل شوی لومړیتوب دی او د دې ستراتیژۍ په بریالیتوب کې مهم ونډه لوبوي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره هوډ لري، چې لږ تر لږه په هرو دریو میاشتو کې د همغږۍ غونډې په جوړولو سره په دوه اړخیزو کارونو کې همغږي ډېره کړي او د پایلو په اړه ګډ راپور چمتو کړي.

په هر ډول ګډون او مرسته کې د اغیزمنې همغږۍ رامنځته کول له پراختیایي ګډونوالو سره د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د ګډون او مرستې د بریالیتوب کیلي ده. د ټولو بسپنه ورکوونکو شریکانو او د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري له استازو سره د تمویل کوونکو ترمنځ د همغږۍ کمېټه، باید د مسلکي زده کړو اداري او پرمختیایي شریکانو ترمنځ د همغږۍ رامنځته کولو په موخه جوړه شي، چې لویه موخه به یې د تخنیکي او مسلکي زده کړو ستراتیژیکو لومړیتوبونو ته په رسېدنه کې د همغږۍ په موخه د پراختیایي ګډونوالو او تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري تر منځ د همغږۍ رامنځته کول وي. کېدای شي، په موخو کې لاندې موارد شامل وي:

- د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري له پالیسیو لومړیتوبونو سره په همغږۍ د ګډو پروګرامونو پیاوړتیا.
- د ډېرو همغږیو پیاوړتیا او د چارو غوره پلي کولو لپاره په تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره او مرستندویو بنسټونو کې مالوماتو، تجربو او زده شویو درسونو ته برخه ورکول.
- د هغو فعالیتونو څارنه چې څو اړخیزې حساب ورکونې ته وده ورکوي، او په روښانه توګه د لاسته راوړنو ارزونه او زده شویو درسونو منل دي.

د ګډې څارنې پایلو ته په کتوسره به، د تخنیکي او مسلکي زده کړو کلني عملیاتي پلانونه او ستراتیژۍ بیا وکتل شي.

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري رئیس د ستراتیژۍ د پلي کولو کمېټې د غونډو مشري کوي. د هغه په نشتوالي کې، یو مرستیال یا د اداري له رئیسانو څخه یو تن به د غونډو بحثونه پرمخ وړي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري رهبري، د تمویل کوونکو او ګډو بنسټونو او مالیې او اقتصاد وزارتونو استازي د رهبري کمېټې دایمي غړي دي. په غونډو کې د اړوندو وزارتونو، نورو ادارو، د ولایتونو د تخنیکي او مسلکي زده کړو او ښوونیزو مرکزونو استازي د اړتیا له مخې ګډون کوي.

د پرمختیایي شریکانو( تمویل کونکي) استازی د مرستیال په توګه د کاري ګروپ بحثونه اسانه کوي. د پلان او ستراتیژیکې همغږۍ ریاست د مشرتابه کمېټې د غونډو سکرتریت په توګه کار کوي او د اجنډا چمتو کولو، اړیکو ټینګولو، مالوماتو شریکولو او همغږۍ او غونډو جوړولو مسؤلیت لري.

د مشرتابه کمېټې غونډې د مالي کال په هره ربعه کې یو ځل ترسره کیږي. څلور کاري ګروپونه د ستراتیژیکو موخو سره سم، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري او تمویل کونکو ترمنځ د همغږۍ او اړیکو د رامنځته کولو ډاډ ورکوي، خپل مالومات ګډوي او د لاسته راوړنو راپور ورکوي. سربېره پر دې، لنډ مهاله کاري ګروپونه د پلان جوړونې، څارنې او اړتیا ته په کتلو سره د تخنیکي او تخصصي کارونو د ترسره کولو لپاره رامنځته کیدای شي.

### ۳.۳ د ستراتیژیک پلان د پلي کولو میکانیزم

د دې ستراتیژۍ په سمه توګه پلي کولو سره به دغه اداره څلورو ټاکلو موخو ته ورسیږي او د تخنیکي او مسلکي زده کړو کچه به لوړه شي، چې په پایله کې به یې د بیکارۍ کچه را ټیټه او د هېواد په وده او هوساینې به مثبتې اغیزې ولري.

[43] On- budget and Off- badget Projects.

### ۳.۳.۱. د بودجې جوړولو بهیر

سره له دې چې بودجه د اداري د ستراتیژیک پلان د تحقق لپاره یو له مهمو وسیلو څخه ګڼل کیږي، په دې برخه کې لویې نیمګړتیاوې شته دي. لومړنی نیمګړتیا چې په دې برخه کې لیدل کیږي، په ښوونیزو، تخنیکي او مسلکي برخو کې د نوښتونو او پروګرامونو په وړاندې کولو کې نیمګړتیا یا کمزورتیا ده. د بودجې جوړونې په برخه کې به د اداري ټول مرکزي او ولایتي برخې، د واحدونو د پلانونو او پروګرامونو په پام کې نیولو سره له مالي او پلان او ستراتیژیکې همغږۍ ریاستونو سره په همغږۍ بودجه ترتیبوي.

### ۳.۳.۲. د بودجې لګښت

د پراختیایي بودجې د لګولو ټیټ ظرفیت په تیرو وختونو کې د هیواد د ډیرو اجرایوي ریاستونو لپاره یوه جدي ننګونه وه. د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره به د بودجې په لګښت کې د ستونزو د حل لپاره لاندې تدابیر په پام کې ونیسي:

- د راپور ورکولو او همغږۍ کمېټې رامنځته کول او پیاوړي کول، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري له لوړ پوړو چارواکو څخه به جوړه شوې وي
- په اړوندو څانګو کې د پروژو د څېړنې او پلي کولو په موخه د متخصصو کارکوونکو ګمارنه
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د تخنیکي او بودجوي واحدونو پیاوړتیا او د بهیرونو په ساده کولو او د یادو څانګو د کارکوونکو ظرفیت لوړول

### ۳.۳.۳. د سرچینو سمبالونه او برابرونه

په دې وروستیو کې پراختیایي بودجه په تدریجي ډول لږه شوې، په داسې حال کې چې دغه اداره اړتیا لري، چې د ښوونیزو مرکزونو د بنسټ او زیربنا جوړولو لپاره له اړوندو بنسټونو څخه ډېره بودجه ځانګړې کړي. د ستراتیژیک پلان د پلي کولو لپاره د پراختیایي بودجې د ډېروالي لپاره به لاندې تدابیر په پام کې ونیول شي:

- تمویلوونکو بنسټونو ته د ستراتیژیکو پلانونو وړاندې کول، چې په تخنیکي او مسلکي برخه کې مهم پرمختیایي پلانونه لري او په دوامداره پراختیا کې د دوی اغیزمنتوب ټاکل شوی وي.
- د اړوندو بنسټونو په ګډې مرستې او د خصوصي سکټور په ښکېل سره د شته پروژو پلي کول.
- د ستراتیژیک پلان د پلي کولو د پرمختګ په اړه منظم او پر وخت راپور چمتو کول.
- د پراختیایي بودجې د ډېروالي لپاره له مالیې وزارت او اړوندو تمویل کوونکو بنسټونو سره اغیزمنه او پیاوړې همغږي.

### ۳.۴. له تمویل کوونکو بنسټونو (ډونرانو) سره همغږي

د پورتنیو کړنو تر سره کولو تر څنګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره هم له تمویل کوونکو سره همغږي پیاوړې کوي، تر څو د دې اداري د پراختیایي پروژو او تخنیکي او مسلکي پروګرامونو په تمویل کې د هغوی ملاتړ راجلب کړي. د همغږۍ د پیاوړتیا او د دوی د مرستې ترلاسه کولو لپاره، لاندې کړنې ترسره کیږي:

- د تمویل کوونکو بنسټونو سره په نېغه توګه یا د نړیوالو کمپنو له لارې مشورتي ناستې ترسره کول.
- تمویل کوونکو ته د خپلو لاسته راوړنو او پایلو سره د پالیسیو او پروژو منظم پریزنټشن.
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو په برخه کې له فعالو بنسټونو سره منظمې ناستې ترسره کول.
- په تخنیکي او چوپړیزو برخو کې له ملي او نړیوالو بنسټونو سره د ګډو پروژو مطرح کول.
- د ګډو پروژو د پلي کولو په برخه کې د اغیزمنې همغږۍ لپاره له ملي او نړیوالو بنسټونو سره د هوکړه لیکونو لاسلیک کول.
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري له لوري مرستندویه بنسټونو ته په وخت راپور ورکول.

### ۳.٤.۱. د ستراتیژیک پلان پلي کولو لپاره د اړوندو ادارو ترمنځ د همغږۍ میکانیزم

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره د واحدونو ترمنځ کورنۍ (داخلي) همغږۍ او همدارنګه د اړوندو اماراتي او نا اماراتي ځانګو سره همغږي د دې ځانګې ستراتیژیکو موخو ته رسېدل یو له مهمو توکو او عناصرو څخه دي. د دغه ډول همغږۍ رامنځته کول د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې، اړوندو اماراتي بنسټونو او خصوصي سکټور د مسؤلینو ترمنځ نږدې همکارۍ ته اړتیا لري.

هغه ځانګې چې د دې ادارې د ستراتیژیک پلان د پلي کولو مسؤلیت لري په لاندې ډول دي:

#### د اداري مقام د دفتر ریاست

- د ستراتیژیک پلان د پلي کولو بهیر همغږۍ کول.
- کابینې، خلکو، تمویلوونکو بنسټونو او نورو ښکیلو اړخونو ته د ستراتیژیک پلان د پلي کولو د پرمختګ په اړه د راپور وړاندې کول.

#### د پلان او ستراتیژیکې همغږۍ ریاست

- له ستراتیژیک پلان پلي کولوسره په ټولو اړوند بهیرونو کې اغېزمنه تخنیکي همغږي
- د اړوندو ریاستونو او ادارو له لارې د ستراتیژیک پلان د پلي کولو څارنه
- د ستراتیژیک پلان په پلي کولو کې د پرمختګ څرنګوالي په اړه د منظمو راپوروونو چمتو کول
- د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې د ستراتیژیک پلان د سمون(تعدیل) په اړه د چارو همغږي

#### ریاستونه او آمریتونه

د ستراتیژیک پلان د ځینو برخو پلي کول، چې د دوی په کاري ساحو او دندو مسؤلیتونو پورې اړه لري، په تطبیقي پلان کې به روښانه شي.

### ۳.۵ د راپور ورکولو میکانیزم

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره به د ستراتیژیک پلان د پلي کولو په اړه کلني راپورونه چمتو کړي. د دې راپوروونو اډانه او بڼه د پلان او ستراتیژیکې همغږۍ ریاست له لوري ورکول کیږي او راپورونه له دې اډاني او بڼې سره سم راټولیږي. پورته یاد شوي راپورونه به لاندې اړخونو ته وړاندې شي:

- خلک
- اماراتي (کابینه)
- مالیې وزارت
- تمویل کوونکي بنسټونه او رسنۍ

د راپورونو د همغږۍ او چمتو کولو مسؤلیت به د پلان او ستراتیژیکې همغږۍ ریاست په غاړه وي. په هره توګه خپلواکې اداري به خپل راپورونه د راپور ورکولو له بڼې (فارمټ) سره سم په منظمه توګه د اړونده ځانګې له تصویب وروسته د ستراتیژیک پلان جوړونې او همغږۍ ریاست ته استوي.

### ۳.۶ مشورتي بهیرونه

مشورتي بهیر د دفترونو له رئیسانو او بېلا بېلو ادارو سره د پلان او ستراتیژیکې همغږۍ ریاست له لارې تنظیمیږي.

دا ډول بهیر به په لاندې ډول تنظیم او همغږۍ شي:

- له خلکو او رسنیو سره مشوره.
  - د پوهاوي کمپاینونه، دوره یي کنفرانسونه او ګردي میزونه
  - د اداري د ویبپاڼې له لارې د مالوماتو خپرول

- د امارتي ادارو او اړوندو ځانګو سره سلا مشورې به مقام او مرستیالانو له لارې ترسره کیږي. د اړتیا په صورت کې، یاد شوي مسایل کېدای شي په لوړو کچو یانې د کابینې او اقتصادي مرستیالی په غونډو کې د بحث وړ موضوع شي.
- د تمویل کوونکو موسسو سره مشوره
  - د پراختیایي پروژو لپاره د بودجې د تخصیص په موخه د مالیې وزارت غونډې
  - د ادارې د پروژو د تمویل په موخه د تمویل کوونکو بنسټونو سره د غونډو تنظیمول
- له ټولنې او رسنیو سره مشوره

د تخنیکي او مسلکي زده کړو او د غوره پروګرامونو تر لاسه کولو لپاره د ټولنې د اړتیاوو په اړه به له علماوو، ټولنې او رسنیو سره مشورې وشي.

## ۴. هغه پالیسي ګانې او پروژې چې لومړیتوب لري

د ادارې ستراتیژیکو موخو ته د رسیدو لپاره به د لومړیتوبونو پالیسی او پروژې په پام کې ونیول شي، چې پلي کول به یې د تخنیکي او مسلکي زده کړو پراختیا په برخه کې د ستراتیژیکو موخو یوه برخه په لاندې ډول وي:

- ✓ د پالیسی جوړونې، قانون جوړونې او پراختیایي پلانونو د بهیر پیاوړتیا
- ✓ د مرکز او ولایتونو په کچه د ادارې د بنسټیزو پروژو پراختیا
- ✓ په تخنیکي او مدیریتي ځانګو کې د ادارې د کارکوونکو ظرفیت لوړول
- ✓ د څارنې او ارزونې پیاوړتیا او پراختیا
- ✓ د بودجې جوړونې او لګښت په ځانګو کې د ظرفیت لوړول
- ✓ د ښوونیزو مرکزونو د استادانو ظرفیت لوړول
- ✓ له مرستندویه ادارو، خصوصي سکټور او تمویل کوونکو بنسټونو سره د همغږۍ ښه کول
- ✓ د تدارکاتي بهیرونو ښه کول او ګړندي کول
- ✓ د روڼتیا او راپور ورکولو ډاډ

### ۴.۱ لومړیتوب لرونکې پروژې

په ټاکل شویو تخنیکي او مسلکي طرحو سره د بودجې برابرول او تامینول، چې وکولای شي د خصوصي سکټور او د سیمې د هیوادونو مرستې راجلب کړي او هغه پلانونه به د لاندې مواردو په پراختیا باندې تمرکز وکړي:

- ✓ د تخنیکي او مسلکي ښوونیز مرکزونو د ودانیو جوړول او بیا رغول
- ✓ د ښوونیزو مرکزونو لپاره د اړینو تجهیزاتو چمتو کول
- ✓ د ښوونیزو مرکزونو لپاره د څېړنیزو فارمونو، ورکشاپونو او مجهزو لابراتوارونو چمتو کول
- ✓ د ښوونیزو مرکزونو لپاره د جوماتونو او کتابتونونو جوړول
- ✓ د ښوونیزو مرکزونو لپاره د جمنازیم او سپورتي لوبغالیو جوړول

### ۴.۲ د پراختیایي بودجې ډېروالی او د ملي او نړېوال ګډون او مشارکت پیاوړتیا

لکه څنګه چې په سریزه کې یادونه وشوه، د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري ستراتیژیک پلان پلي کول کافي مالي سرچینو ته اړتیا لري. څکه چې تخنیکي او مسلکي زده کړې د وزګارتیا را کمولو لپاره په بنسټیزه پراختیا کې پراخ ملي او نړیوال ګډون ته اړتیا لري. له بلې خوا، ملي بودجه کېدای، چې د ستراتیژیک پلان د پلي کولو لپاره د اړینو لګښتونو د پوره کولو ظرفیت ونه لري؛ نو په دې برخه کې د خصوصي سکټور او تمویل کوونکو بنسټونو ګډون به بودجوي تشه تمویل او له منځه یوسي.

## ۵. د پلي کولو ساحه او ځای

د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې ستراتیژیک پلان د دې ادارې د موخو او ستراتیژیکو پلانونو د وړاندوینې په موخه ډیزاین او ترتیب شوی، چې پر بنسټ به یې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره وکولای شي لنډمهاله، منځ مهاله او اوږد مهاله پلانونه جوړ کړي. د دې ستراتیژۍ پر بنسټ، د تخنیکي او مسلکي زده کړو ادارې پلانونه په کلني ډول طرحه او عملي کېږي. ځینې ستراتیژیکې موخې چې د پالیسیو، مقررو، کړنلارو، د امکاناتو مطالعې او ارزونې، پراختیا او د پروژو پلي کولو ته اړتیا لري، هم د دې ستراتیژۍ په دیني منصوصو دلایلو او د ادارې د تقنیني اسنادو په استناد جوړېږي. دا ستراتیژي د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ټولو برخو (مرکزي دفتر او ولایتي دفترونو) له خوا پلي کېدای شي. د تخنیکي او مسلکي زده کړو د ټولو برخو مسؤلیت چې په تطبیقي پلان کې به په روښانه ډول څرګند شي، ټولې ادارې یې په پلي کولو مکلفې دي.

# څلورم څپرکی

# د ستراتیژیک پلان د پلي کولو څارنه او ارزونه

## ۱. څارنه او ارزونه

د اداري چارو او کاري پلانونو د روښتیا جوړونې په برخه کې څارنه او ارزونه یو اړین امر دی. له همدې امله، دا اړینه ده چې هم مهاله د ستراتیژیک پلان پلي کولو په وخت کې د پلان پلي کولو بهیر څخه هم څارنه او ارزونه وشي؛ څکه چې د سیستماتیک او معیاري ارزونې او څارنې ترسره کول به تخنیکي کمېټو او د څانګې مشرتابه ته اړین مالومات چمتو او په واک کې ورکړي، تر څو د ټاکل شویو شاخصونو سره سم د پروسې بریالیتوب اندازه کړي او د ننګونو د حل لپاره اړینې حل لارې وړاندې کړي.

له بلې خوا، هغه څه چې ډاډمن دي، هغه دا چې څارنه او ارزونه دوه اړخیزه مسله ده، د مقابل لوریو او هغه برخو مرستې ته اړتیا لري، کوم چې څارل او ارزول کیږي. تر څارنې لاندې د اړوندو برخو او چینلونو له لوري د دې مسئلې منل له یوې خوا د څارنې او ارزونې اسانتیاوې او د کاري روښتیا زمینه رامنځته کوي او له بلې خوا د څارنې کلتور پیاوړی کوي او د کار له ګړندیتوب او اغېز سره به مرسته وکړي.

## ۲. د څارنې اړانه

د ستراتیژیک پلان، د ښه پلي کولو په پار، لاندې کمېټه جوړونه د څارنې اړانې په توګه ګڼل کیږي. په دې کمېټو کې به د پلان او ستراتیژیکې همغږۍ ریاست مرکزي ونډه ولوبوي؛ خو نورې کمېټې به د ملاتړیو ونډه ولري. د همغږۍ او راپور ورکولو جوړښت، له څارنې عالي کمېټې څخه د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري مقام په رهبرۍ ، او تخنیکي کمېټه به، د پلان او ستراتیژیکې همغږۍ ریاست تر رهبرۍ لاندې وي.

### ۲.۱. په (څارنې عالي کمېټې او تخنیکي کمېټې) باندې د کمېټو ویش

### ۲.۱.۱. د څارنې عالي کمېټه

په دې کمېټه کې د اداري مقام، تخنیکي مرستیال، مالي او اداري مرستیال او د پلان او ستراتیژیکې همغږۍ رئیس شامل دي، چې د همغږۍ، څارنې او د ستراتیژۍ په پلي کولو سره اړوندو چارو د راپور ورکولو تولیز او هر اړخیز مسؤلیت لري. دا کمېټه به د اداري د لارښوونې سربیره، په ټولیزه توګه لاندې مسؤولیتونه ولري:

- د ستراتیژیک پلان د پلي کولو څارنه
- د ستراتیژیک پلان د پلي کولو د پرمختګ په اړه د راپوروونو څېړل او د پلان د پلي کولو د اغیزمنتیا ډېروالي لپاره د اړینو لارښوونو ورکول
- د اداري له شرایطو او اړتیاوو سره سم د ستراتیژیک پلان بیاکتنه

### ۲.۱.۲. تخنیکي کمېټه

دا کمېټه د پلان او ستراتیژیکو همغږۍ د رئیس په مشرۍ د ریاست له ټولو څانګو جوړه ده. د دې کمېټې مهم مسؤولیتونه په لاندې ډول دي:

- په تخنیکي کچه د ستراتیژیک پلان په پلي کولو کې همغږي
- د ستراتیژیک پلان په پلي کولو کې د ننګونو او خنډونو په اړه بحث او څېړنه
- د ستراتیژۍ د پرمختګ په اړه د راپوروونو ترتیبول او عالي کمېټې ته د هغو وړاندې کول
- عالي کمېټې ته په ستراتیژیک پلان کې د اړینو بدلونونو او سمونونو وړاندیز
- د ستراتیژیک پلان پلي کولو څرنګوالي او د پرمختګونو د ارزونې او برسی په اړه د ریاستونو او خپلواکو ادارو له لوري د (ربعه وارو او کلنیو) راپوروونو ترتیب
- د اداري د کورنې سند سره سم د پلان او ستراتیژیکو همغږۍ ریاست له لوري د واحدونو د راپوروونو شننه او یو ځای کول او عالي کمېټې او د اړتیا په صورت کې د اداري ښکیلو اړخونو ته وړاندې کول

- د اوسني وضعیت او شرایطو سره سم د ستراتیژیک پلان د بدلون او سمون وړاندېز

## ۳. دوام لرونکې او اغېزمنه څارنه

- د ټاکل شویو شاخصونو پر بنسټ د مالوماتو راټولول او شننه
- د اداري د ستراتیژیکو اړتیاوو او د پروژو غوښتنو ته په کتلو سره د ارزونې شاخصونو ټاکل
- د ریاستونو د کلني عملي پروګرام پر بنسټ د ستراتیژیک پلان د پلي کولو څارنه
- په روښانه او سپړل شویو طرحو کې له پېژندل شویو شاخصونو سره سم د پراختیایي پروژو څارنه
- په اداره کې د څارنې او ارزونې منظم او واحد سیستم پراختیا
- د ستراتیژیک پلان د پلي کولو په اړه د سروې ترسره کولو او د ارقامو راټولولو په موخه د معیاري اډانې پراختیا
- د راټول شویو شواهدو او مالوماتو پر بنسټ شننه او راپور ورکول
- د پرمختیایي پروژو ډېزاین او ترتیب او د پراختیایي بودجې لګښت څارنه

پر پورتنیو مواردو سربیره، د ستراتیژیک پلان د پلي کولو څارنه د پلان د پلي کولو په اړه د تر لاسه شویو پرمختګونو د ربعوارو او کلنیو راپورونو له لارې هم شونې ده، چې د یادو راپورونو په راټولولو سره کافي مالومات ترلاسه شوي، چې هغه له ټاکلو شاخصونو سره پرتله شي او د ستراتیژیک پلان پلي کولو څرنګوالي په اړه پایلې ترلاسه کړي.

## اخذلیکونه او سرچینې


1. [ILO], I. L. (2012). *ISCO-08, International Standard Classification of Occupations: Structure, group definitions and correspondence tables.* Geneva: ILO.

2. Afghanistan, G. o. (2018). *Citizen-Centred Governance, A Roadmap for Subnational Reform.* Kabul.

3. Afghanistan, G. o. (2019). *Afghanistan Growth Agenda for Transformative Change and Self-reliance.* Kabul: Ministry of Finance.

4. Afghanistan, I. R. (2008). *Afghanistan National Development Secretariat. (2008). Afghanistan National Development Strategy 1387– 1391 (2008– 2013) A Strategy for Security, Governance, Economic Growth & Poverty Reduction.* Kabul: Ministry of Finance.

5. Authority, N. S. (2018). *Afghan livelihood condition survey 2016-2017.* Kabul: NSIA.

6. Education, M. o. (2017). *Ministry-wide Vulnerability to Corruption Assessment of the Ministry of Education.* Kabul: MOE.

7. Eduction, M. o. (2016). *National Education Strategic Plan (2017– 2021).* Kabul: MOE.

8. Foundation, A. (2019). *Afghanistan in 2018, a survey of the Afghan people.* San Francisco: The Asia foundation.

9. GIZ. (2014). *A Study on Ostad-Shagerdi (Apprenticeship) in Afghanistan.* Kabul: GIZ.

10. Izabela Leao, e. a. (2018). *Jobs from Agriculture in Afghanistan.* Washington: World Bank Group.

11. Leao, I. M. (2018). *Jobs from Agriculture in Afghanistan.* Washington: Bank for Reconstruction and Development/ The World Bank Group.

12. Ministry of Agriculture, I. a. (2016). *National Comprehensive Agriculture Development Priority Program 2016– 2021.* Kabul: MAIL.

13. Reier, G. (2018). *DISCUSSION DOCUMENT RECONSTRUCTION OF VOCATIONAL EDUCATION AND TRAINING.* Kabul: GIZ.

14. Training, C. -E. (2008). *Terminology of European Education and training policy – A selection of 100 key terms.* Luxemburg.

15. Training, C. -E. (2009). *European Guidelines for validating non-formal and informal learning.* Luxemburg.

16. TVET-A. (2010). *A Proposed National Policy Framework for Agricultural Education and Training in Afghanistan.* Kabul: TVET-A.

17. UNDP. (2022). *Afghanistan: Socio-Economic Outlook 2021 - 2022.* UNDP.

18. UNESCO. (2012). *International Standard of Classidication – ISCED 2011.* Montreal: UNESCO Institute of Staticts.

19. UNOCHA. (March 2019). *AFGHANISTAN Snapshot of Population Movements in 2019.* OCHA.

20. WorlBank. (November 2022). *Afghanistan Economic Monitor.* The World Bank.

21. Worldbank. (2014). *Islamic Republic of Afghanistan، Agricultural Sector Review.* Washington: World Bank Group.

22. WorldBank. (2018). *An Independent TVET Authority؛ Toward autonomy، efficiency and results.* Washington: World Bank group.

23. WorldBank. (2023، March 3). *Worldbank Data Afghanistan.* Retrieved from The World Bank | Data: https://data.worldbank.org/indicator/NY.GDP.MKTP.KD.ZG?end=2017&locations=AF&start=1960&view=chart

24. WorldBank. (March 2022). *Afghanistan private sector rapid survey: A snapshot of the business environment – Round 1.* World Bank Group.

25. WorldBank. (October 2022). *Afghanistan Development Update.* The World Bank.

26. Ministry of Finance. (n.d) Afghanistan Growth Agenda. https://mof.gov.af/sites/default/files/2021-06/Afghanistan%27s%20Growth%20Agenda.pdf

27. OECD. (2018). The role of technical and vocational education and training (TVET) in fostering inclusive growth at the local level in Southeast Asia. Paris: OECD.

28. UNESCO. (2022). Transforming Technical and Vocational Education and Training for successful and just transitions، UNESCO strategy 2022-2029. Paris: UNESCO

۲۹. د احصایې او مالوماتو ملي اداره، د هېواد د نفوس اټکل، (۱۳۹۸)

۳۰. د احصایې او مالوماتو ملي اداره، د هېواد د نفوس اټکل، (۱۳۹۹)

۳۱. د احصایې او مالوماتو ملي اداره، د هېواد د نفوس اټکل، (۱۴۰۰)

۳۲. د احصایې او مالوماتو ملي اداره، احصایوي لوی شاخصونه، (۱۴۰۰)

۳۳. د احصایې او مالوماتو ملي اداره، سال نامه احصائیوی، (۱۳۹۸) ۴۱ شمېره

۳٤. د احصایې او مالوماتو ملي اداره، سال نامه احصائیوی، (۱۳۹۹) ۴۲ شمېره

۳۵. د احصایې او مالوماتو ملي اداره، سال نامه احصائیوی، (۱۴۰۰) ۴۳ شمېره

۳٦. د احصایې او مالوماتو ملي اداره، د هېواد د نفوس اټکل، (۱۴۰۱)

۳۷. د احصایې او مالوماتو ملي اداره، د سوداګرۍ احصایې کالنی، ( ۱۳۹۸)

۳۸. د احصایې او مالوماتو ملي اداره، د سوداګرۍ احصایې کالنی، (۱۳۹۹)

۳۹. د احصایې او مالوماتو ملي اداره، د سوداګرۍ احصایې کالنۍ، (۱۴۰۰)
۴۰. د احصایې او مالوماتو ملي اداره، شاخص سالانه قیم کشور(۱۳۹۸)
۴۱. د احصایې او مالوماتو ملي اداره، شاخص سالانه قیم کشور(۱۳۹۹)
۴۲. د احصایې او مالوماتو ملي اداره، شاخص سالانه قیم کشور(۱۴۰۰)
۴۳. د احصایې او مالوماتو ملي اداره، ربعه وار احصایوي شاخصونه، (۱۴۰۰)
۴۴. د اقتصاد وزارت، (وری، ۱۴۰۰)، ګزیده شاخص های احصائیوی وضعیت فقر و رفاه عامه
۴۵. د مالیې وزارت، (وری، ۱۴۰۰) اقتصادي ـ مالي راپور، دویمه ۲۰۲۱)
۴۶. د سوداګرۍ او صنعت وزارت، (زمری، ۱۳۹۹)، د هېواد د صنعتي پارکونو د زیربنایي پراختیا د عمومي وضعیت راپور
۴۷. د سوداګرۍ او صنعت وزارت، د افغنستان د سوداګرۍ ملي پالیسي ( ۲۰۱۹ ـ ۲۰۲۳)
۴۸. د اقتصاد وزارت، (د بنسټیزو پراختیایي موخو ملي سند، (ملي موخې او شاخصونه)، (۱۳۹۷)
۴۹. د اقتصاد وزارت، چارچوب انطباق دهی و همخوانسازی موخې انکشاف پایدار افغانستان
۵۰. د اقتصاد وزارت، افغانستان مولد – استراتیژی تعویض واردات (۲۰۱۹ – ۲۰۲۵) – افغانی سازی، صنعتی سازی و تجارتی سازی
۵۱. د کار او ټولنیزو چارو وزارت، (جوزا، ۱۳۹۵)، د کار ملي پالیسي
۵۲. د مالیې وزارت، دومین سند ملی صلح و انکشاف افغانستان ۲۰۲۱ـ ۲۰۲۵ ،(ANDPF II )
۵۳. د پوهنې وزارت، (وري ۱۴۰۰)، احصائیه شاګردان سال ۱۴۰۰
۵۴. د پوهنې وزارت، (۲۰۱۶)، د پوهنې درېیم ملي استراتیژیک پلان
۵۵. د لوړو زده کړو وزارت، (پسرلی ۱۳۹۸)، د پوهنتون لپاره د استراتیژیک پلان د جوړونې لارښود

**تائید او منظوري**

دغه ستراتیژي او په هغې کې شاملې برنامې د وضعیت اومالوماتو له څېړلو او شننو، همدارنګه د اداري د همکارانو، اړونده او مرستندویه ادارو د استازو د نظرونو او وړاندېزونو له راټولولو او سپړلو څخه وروسته ترتیب او چمتو شوه او هیله مند یو، چې وکولای شي په هېواد کې د تخنیکي او مسلکي زده کړو د خدمتونو د کیفیت د ډېروالي او لوړوالي په برخه کې اغېزمنه او ګټوره واقع شي. دغه ستراتیژي د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري د مقام له منظورۍ وروسته د اعتبار وړ ده او د تطبیقي پلان سره سم به په ټاکلي وخت کې ترسره او پلې شي.

**په درنښت**

**د پلان او ستراتیژیکې همغږۍ ریاست**

**منظوری**

**د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداري مقام**

**لیدلوری:**

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره د یوې نوښتګرې پنځوونکې او پیاوړې ادارې په توګه هوډ لري، چې د تخنیکي او مسلکي زده کړو اعتبار لرونکی، اقتصادي، ثابت، همغږی او دوام لرونکی نظام د اسلامي دین په رڼا کې د ودې او پراختیا ورکولو ترڅنګ مدیریت کړي

**مأموریت:**

د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره په راتلونکو پنځو کلونو کې، د تخنیکي او مسلکي زده کړو د سیستم په جوړولو او اداره کولو سره د مسلکي استادانو له خوا د لوړ کیفیت لرونکي ښوونیزو پروګرامونو د برابرولو او د مناسبو بنسټونو (زیربناوو) او وسایلو په کارولو سره، د کار بازار له اړتیاوو سره سم او د ملي او نړیوالو معیارونو پر بنسټ مسلکي او ماهر کاري ځواک روزي

**ارزښتونه:**

**(۱) اسلامي او ملي ارزښتونه؛**
**(۲) حساب ورکول؛**
**(۳) پنځونه (خلاقیت) او کاري فرصتونه رامنځته کول؛**
**(٤) تخصص؛**
**(۵) څرنګوالی (کیفیت)؛**
**(٦) روڼتیا ؛**
**(۷) همکاری و هماهنگی.**


@TVETAfghanistan @AfghanistanTvet @AfghanistanTvet dpsc@tveta.gov.af www.tveta.gov.af

افغانستان، کابل، ناحیه سوم، کارته چهار، پهلوی وزارت تحصیلات عالی

Next to the Ministry of Higher Education, Karte 4, Kabul, Afghanistan